# د ملي پیوستون د پروګرام ښه هماهنګي؛
# د تسهیل کوونکو غړو سره
# د ستونځو او د هغو د حل د لارو چارو مباحثې

پلوشه کاکړ

د ۲۰۰۵ کال د نومبر میاشت

نموړی څېړنې د
انګلستان د بین المللي انکشاف
ادارې له خوا تمویل شوه

۲۰۰۵ کال د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداره (AREU) ټول حقوق محفوظ دي.
هغه افکار او نظریات چې په دغه کتاب کې درج دې بې له کوم اړتیا څخه د دغې ادارې د نظریاتو ښکارندوي ندي.

## دلیکوونکې په هکله

پلوشه کاکړچې اوس دافغانستان د څېړنی او ارځونی په اداره کې دسیمه ییزه ادارې د څېړنو دبرخې مسؤلیت لري په خاص ډول یې خپل پام دملي پیوستون د پروګرام څیړنې ته راګرځولې ده. نوموړې چې یوه افغاني الاصله امریکایي ده له یوه کال څخه را په دې خوا  په افغانستان کې د سیمه ییزه ادارې په هکله څیړنې ترسره کوي. نوموړې د امریکا د هارورد له پوهنتون څخه په سیمه کې او په خاص ډول په افغانستان کې د جندر، سیاست او مذهب په هکله ماسټری تر لاسه کړی ده. مخکې له دې چې نوموړې دافغا نستان دڅېړنې او ارځونې له اداری سره خپله همکاري پیل کړي هغې دافغانستان دعاداتو او مروجه رسومو د قانون، اودافغانې میرمنو د اجتماعي تشخص په هکله څېړنې ترسره کولې. او همدارنګه یې د اسلامی ښځینه روحاني شخصیتونو په هکله هم خوې کړي دي.

## د افغانستان د څیرني او ارځوني د ادارې په هکله (AREU)

د افغانستان د څېړني او ارځوني اداره یوه خپلواکه موسسه ده چې د پالیسي او تمرین دپاره آسانتیاوي او څېړنه کوي. دغه اداره په افغانستان کي د څېړني او زده کړې د فرهنګ د پرمختګ لپاره د افغانستان تحلیلي ظرفیت د تقویې او د تحلیل او مباحثی د فرصتونو د مینځته راوړلو له پاره کار کوي. د افغانستان د څیړني او ارځوني ادارې اساسي تصویر دادې چې د دغې ادارې کار به د افغانانو ژوند لا ښه کړې. دغه د څیړني او ارڅونې اداره د ټولني د مرستندویه کار له خوا په افغانستان کي تاسیس شوه، او د رئیسانو یوه کمیټه لرې چې د ډونرانو په ګډون چې د ملل متحد او داسي نورو سازمانونو او غیر حکومتي موسسو څخه دي.

د افغانستان د څیړنې او ارځونې د ادارې اوسنې تمویلوونکي منابع، د اروپا کمیسیون، د سازمان ملل مرستندوي هیئت په افغانستان کې (UNAMA)، د مهاجرینو عالي کمیشنرې (UNHCR)، د هالند د مهاجرینو موسسه Stichting Vluchteling (SV)، نړیواله بانك، د برتانیې د بین المللې پرمختګ ډیپارټمنټ (DFID)، او د سویډن، سویټزرلنډ او ډنمارك حکومتونه دې. او دغه پروژه د برتانیې د بین المللې پرمختګ ډیپارټمنټ له خوا تمویل شوه.

**قدرداني:**

**نوموړې خوه دهغو رښتنيو او ټولنې ته وفاداروشخاصو د سپيڅلو نظرياتو او تجربو نتيجه ده چې دملي پيوستون د پروګرام په هکله يي درلودې.نو دهغوټولو منيجرانو، دايرکترانو، او انجنيرانو څخه چې په پوره حوصله مندی او د قيمتي وخت په لګولو سره يي دملي پيوستون د پروګرام په هکله هر اړخيزه معلومات ځرګند کړ مننه کوم.**
**او همدارنګه له لاندنيو ذواتو څخه هم په درناوی سره مننه کوم؛**

**اليزابِت کرونوف (پخوا په اکتد کې)، ښاغلی ادهيکاری او فاضل علی (له اکشن ايد څخه) مال سيمونز (پخوانی په افغان ايد کې)، ستيف مَسن (د آغا خان د انکشافی شبکی څخه)، شاه جهان او جهانګير حسين (له براک څخه)، مايکل کينډال او انجنير نادر (پاملرنه)، وحيد حميدی او ولی فرهادی (د بشری مرستو د هماهنګی اداره CHA)، لين وان (پخوا په داکار کې، عبدالستار (داکار)، ښاغلی زيرک (له غازی د کليواله حمايې له پروګرام څخه) داکتر مرزاداده او فريشونا اوفريايوفا (جرمن اګرو اکشن)، ميليسا پِيسن او عثمان تارق (آی. ار. سی)، ماری بريلټ او ښاغلی سافي (مديرا) لوبنا بهايانا (اوکنډو)، شاه ولی (پخوا په اکسفام کی) هاکان ټورنګارډ (پخوا د افغانستان له پاره د سويدن په کميټه کې)، ډاکټر ضيا شفق (د افغانستان له پاره د سويدن له کميټې څخه)، فرتز سزلارډ او ښاغلی ساويز (يو ان هبيتات).**

**او همدارنګه په خاص ډول د خپلې سوپر وايزرې سارا ليستر څخه چې ماته يي په نوموړې پروژه کې لازمې لارښوونې او مرسته کړيده زياته مننه کوم.**

**او په پای کې غواړم دهغو ټولو اشخاصو څخه لکه؛ اصف رحيمی (د کليو د انکشاف او بيا رغونی وزارت)، اندريا شيلډ (د کليو د انکشاف او بيا رغونی وزارت/بيرونګ پوينټ)، ان جانسن (پخوا د کليو د انکشاف او بيا رغونی له وزارت/بيرنګ پوينت سره)، هميرا ناصری (نړيواله بانک)، نورمان پيچپونی (نړيواله بانک)، عثمان تارق (آی. ار. سی) ډاکټر فيض الله کاکړ (د عامه روغتيا وزارت)، پول فشتين، همِيش نکسن، داود عمری، مير احمد جوينده (د افغانستان د څيړنی او ارځونی اداره) چې ددې خوې په کتنه يي لازم نظريات او ملاحظات وړاندې کړي دي هم مننه وکړم.**

**له براندې بوير څخه چې ددې خوې په اړوند يي لازم نظريات وړاندی او دچاپ په هکله يي پوره مرسته کړې ده ژوره مننه کووم.**

## فهرست

**د اجرأیې خلاصه**
**۱. سریځه**
**۱. ۱ د نوموړی څیړنی تاریخچې او کړنلاره**

**۲. په محلی کچه د قدرت جوړښت**
**۲. ۱ پخوانی محلی قدرت لورنکی**
**۲. ۲ اختلاف او بدلونونه؛ د قدرت د راز راز جوړښتونو قانونیت**
**۲. ۳ د ملی پیوستون پروګرام مناسبه ځای**
**۲. ۴ خلاصه**

**۳. د ښځو د برخه اخیستنی شکلونه**
**۳. ۱ د ټولنی د انکشافی شوراګانو نموني او په هغو کې د ښځو برخه اخیستنه**
**۳. ۲ د ملی پیوستون په پروګرام کې د ښځو د برخه اخیستنی نور ګواښونه**
**۳. ۳ خلاصه**

**۴. له نورو ادارو سره د ملی پیوستون د پروګرام اړیکی**
**۴. ۱ د نړیواله بانک له نظر څخه د یو والی طریقه**
**۴. ۲ د ټولنی د انکشافی شورا د یو والی دری امید ښوونکی مثالونه**
**۴. ۳ د خطر عاملونه؛ د محلی فعالینو د کار زیاتوالی او د هغوی عسه کیدل**
**۴. ۴ د ټولنی د انکشافی شوراګانو د ډلو رول**
**۴. ۵ خلاصه**

**۵. نتیجه او سپارښتنی**

**مرجع**

## د ستونځمنو اصطلاحاتو لست

| | |
|---|---|
| علاقه دار: | دولسوالی څخه په ټیټه کچه ددولت نماینده چې ددولت د ۱۹۲۴ کال په تشکیلا تو کې یې موجودیت درلود. |
| بیک/سردار/ خان/نواب/ زمیندار: | دډیرې ځمکې لرونکو اشخاصو لپاره استعما لیږي |
| جریب: | دځمکې داندازه کولو واحد دی چې د یو هکتار له پنځمې برخې سره برابر دی. |
| جهاد: | مقدسه جګړه |
| جرګه، شورا: | په قومې کچه دټولنې غونډه |
| قریه دار | دکلی په سطح ټاکل شوی او مشهور مشر چې دافغانستان د ۱۹۲۴ کال په تشکیلا تو کې یې رسمیت درلود |
| ملک/ارباب | په اقتصادي لحا ظ د کلی نفوذ لرونکي مشر او راهنما |
| منطقه/حوزه/ محله: | یوه سیمه او یا یو ګډ شمیر کلی چې ګډ هویت ولری.. |
| میراب | دټولنې د اوبو تنظیم کوونکی. |
| مجاهدین: | هغه کسان چې مقدسه جګړه پر مخ بیا یې |
| ملا: | دیني راهنما، د مسجد امام |
| مکي یا مکیاني: | داسما عیلیه په مذهب دټولنې مذهبي مشر ته ویل کیږي. |
| پښتونوالي: | د پښتنو په منځ کې مروجه اصطلا ح ده چې په پښتنې دود ټینګو پښتنو ته استعمالیږي |
| قاضي | په مذهبي چاروکې قضاوت پوه او حکم کوونکی. |
| شریعت: | اسلا مي اصول او قوانین |
| علما: | په مذهب او دین پوه اشخاص |

## داختصاري نمونو تشريح:

| | |
|---|---|
| ACTED | د تخنیکی مرستو او انکشاف نماینده ګې |
| AKDN | آغا خان انکشافی شبکه |
| AREU | دافغانستان د څېړنی او ارځونی اداره |
| BDN | د انکشاف د اساسی اړتیاوو پروګرام |
| BPHS | د روغتیا د خدماتو اساسی پیغام |
| BRAC | د بنګلادیش د کلیو د پراختیا کمیته |
| CDC | د ټولنی انکشافی شورا |
| CDD | د ټولنی له خوا اجرا کیدونکی انکشافی پروګرامونه |
| CDP | د ټولنی انکشافی پلان |
| CHA | د بشری مرستو هم آهنګې |
| CIDA | د کانادا د بین المللی انکشاف نماینده ګې |
| DACAAR | د افغانی مهاجرینو د مرستی له پاره د دنمارک کمیته |
| DANIDA | د دنمارک د بین المللی انکشاف او مرستو نماینده ګی |
| DFID | د انګلستان د بین المللی انکشاف ډیپارتمنت |
| FP | تسهیل کوونکې غړې |
| GAA | جرمن اګرو اکشن |
| GRSP | غازی د کلیواله حمایې برنامه |
| IRC | د نجات بین المللی کمیته |
| MAAH | د کرنی، روزنی او خواړو وزارت |
| MADERA | مدیرا |
| MoED | د ښوونی او روزنی وزارت |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت |
| MoPH | د عامه روغتیا وزارت |
| MRRD | د کلیواله انکشاف او پراختیا وزارت |
| NEEP | د عاجلی ګمارنی ملی برنامه |
| NPP | د ملی اولویتونو برنامه |
| NSP | د ملی پیوستون پروګرام |
| OC | مشورتې اداره |
| SACRA | د مذهبی چارو د خاصو فعالیتونو کمیته |
| SCA | د افغانستان له پاره د سویدن کمیته |
| SDF | د سنایې انکشافی بنیاد |
| UC | د یووالی شورا (پاکستان) |
| UNAMA | په افغانستان کې د سازمان ملل مرستندویه هیت |
| USAID | د بین المللی انکشاف له پاره د متحده ایالاتو نماینده ګې |

## اجرایوي لنډیز:

**دافغانستان د څیړنې او ارځونې واحد د ۲۰۰۴ کال له نیمایي څخه را په دې خوا د ملي پیوستون پروګرام چې دافغان حکومت دملي اولویت له پروګرامونو څخه دی ترمطالعې لاندې نیولی دی ترڅو په دې پوی شو چې دملي پیوستون د پروګرام په نتیجه کې دنفوذ یا قدرت په رابطه څه تغیرات رامنځ ته شوي دي. نموړې خوه به هغه لمړني شواهد څرګندکړي چې دملي پیوستون د پروګرام داجراکوونکو سره په مخامخ خبروکې شوي دي. دغه مخامخ خبرې په کا بل کې د ۲۰۰۵ کال دفبروري اومارچ په میاشتوکې او همدارنګه د بامیان، هرات، فاریاب او ننګرهار په سیمو کې ترسره شوي دي. دتسهیل کوونکو غړوسره دبحث په جریان کې دملي پیوستون په پروګرام کې دا لاندې ټکي د اندیښنی او پر زړه پوری دي: دسیمه ییزه با نفوذه اشخاصو سره مذاکره، په عادلانه توګه په پروګرام کې دښځو ونډه اخیستل، او بل دهغو لارو او چارو لټونه چې دتسهیل کوونکو غړو د وتلو په صورت کې پروګرام په پا یدار ډول پا ته شي.**

### ۱. له سیمه ییزه با نفوذو اشخاصو سره مذاکره

**هغه تغیرات چې د تیرې یوې پیړي په اوږدوکې دحکومت په مرکزي او سیمه ییزه سطح کې راغلي، ددې سبب شوي چې څو ډوله د قدرت جوړښتونه را منځ ته کړي.لکه څرنګه چې په سیمه ییزه سطح کې دملي پیوستون د پروګرام دټولنې انکشافي شورا مجبوره ده چې دقانوني صلا حیت دلاس ته راوړلو لپاره مقا بله وکړي نو له دې کبله په لاندې برخوکې ستونځې لیدل کیږي :**

- **دتسهیل کوونکو غړو او ټولنې ترمنځ د لمړني قرارداد امضا کول او په دې توافق کول چې د ملي پیوستون د پروګرام ټول شرا یط به منل کیږي.**
- **دټولنې دانکشافي شورا د غړو ټاکل چې داسې یوه نوې شورا را منځته شي چې ممکن دټا کنې په جریان کې داسې کسان وټاکل شي چې دټولنې ټول زورمندان/با نفوذه خلک بکښی میشت نه وي.**
- **ددې لپاره کوښښو نه چې د یوی یا زیاتو ټولنو پروژې داسې کنترول شي چې ګټه یې یوه شخص یا یوه کوماندان ته متوجه وي او**
- **یا د مذهبي اسا سا تو پر بنا د ملي پیوستون پروګرام ته بله بڼه ورکول.**

**تر اوسه هم هغه پخوا نې جوړښتونه لکه، جرګه، ملک او داسې نور دیوې پایدارې او معنی لرونکي تمرین په ډول دخلکو مختلفو پړګنو ته دمنلو وړدې او د سیاسي عمل مهم عاملونه ګڼل کیږي. ځنې تسهیل کوونکي غړي په دې توانیدلي چې د پخوانې مروجه او اوسنی رسمي سیستم ترمنځ داسې لاره پیداکړي چې هم خلکوته او هم حکومت ته د منلو وړ وی، اوپه نتیجه کې بې له دې چې دیمکراتیکه پروسه ضعیفه شي دملي پیوستون پروګرام پر مخ ځي.**

## سپارښتنې:

- **با نفوذه اشخاصوته باید دعوت ورکړل شي چې دټولنې انکشافي شورا ته د لازمومشورولپاره راشي**
- **داسې سهولتونه منځ ته راشي چې داړونده وزارتونو په خاص ډول دکورنیوچارووزارت، دعامې روغتیا وزارت، د ښوونی او روزنی وزارت، دکرهنې اوما لداری دوزارتونو دهمکاری په نتیجه کې داسې کړنلاره رامنځ ته شي ترڅو وکولای شي چې د ټولنې ا نکشافي شورا دحکومت په رسمي سیستم کې لاره ومومي.**

## ۲. دملي پيوستون په پروګرام کې دښځودبرخې اخيستنې دکچه زياتوالی:

دښځو ونډه اخيستنه که څه هم دټولنې انکشافي شورا يواځې د ښځو څخه جوړه شوي وي، اويا دنارينه اوښځو څخه مرکبه وي، ډيره کمه ده او هغه لازم معلوما ت ته چې دنارينه انکشافي شورا يې د پروګرام په هکله لري د ښځينه شورا غړي ورته لاس رسی نه لري. ددې لاملونه کيدای شي په لاندې توګه وي:

- دجندر سره دتسهيل کوونکو غړودکارکوونکو تعصب
- دعنعنا تو ځينې نورمونه ددې سبب کيږي چې ښځې له رايه ورکولو، ټالکنو په غونډوکې له کښيناستو څخه منع کړي
- دښځو دونډې داخيستنې، فيصلې کولو، معلومات او دارايي ته دلاس رسي لپار ديوه نورمال سيستم نشتون
- دتسهيل کوونکو غړودوخت کمی ترڅووکولای شي چې خپلوکارکوونکو ته د جندر په هکله لازم معلوما ت ورکړي
- په ښځو کې دپوهاوي دټيټې کچه له کبله په دوی کې دتجربې او راهنمايي کولو دکمي احساس

سپارښتنې:

- دښځينه کارکوونکو د شمير زيات وا لی، د جندر په هکله معلوما ت او د روزلو له لارې دتعصباتو کمول
- دقدرت لرونکو اشخاصوپه مرسته دښځو ونډې اخيستنې ته مشروعيت ورکول د مثال په توګه دمذهبي علماو په مرسته داسلام داصولو له مخې دښځو دحقونو تقويه کول.
- دداسې يو جوړښت منځ ته راوړل چې د ښځينه او نارينه ا نکشافي شوراوو په منځ کې د تفاهم او صلاحيت لاسته راوړلو لاره ويرانيزي.
- دښځو ظرفيتونه دې دټولنې د راهنمايي اومشرتا به سطحې ته لوړشي.

## ۳. له سيمې څخه دوتلو ستراتيژي او دملي پيوستون د پروګرام پايداري:

کله چې دملي پيوستون پروګرا م په هغه شمير ټولنو کې چې دلمړي ځل لپاره هدف وې پای ته ورسيږي نو ديو ې اغيزمنه ستراتيژي په صورت کې چې د پروګرام پايداري او مشروعيت په کې خوندي وي له سيمې څخه بهر شي.

دټولنې انکشا في شورا به د مرکزي حکومت او د نورو غير حکومتې ادارو لپاره د تماس يوه غوره وسيله وي چې دسيمې په سطح به عمل کوی. او همدارنګه به دټولنې ا نکشافي شورا په دې وتوانيږی چې دسيمې په کچه به دټولنې لپاره ښه خدمت وکړي اونوموړې شورا کولای شي چې په لاندې حالاتو کې خپل توان ښه ثا بت کړي:

- دطبيعې ناخوالوله کبله د رسيدلې تاوان دکچه تنظيمول: دتاوا ن درسيدو دکچه معلومول او د مستحقو اشخاصو د لست ترتيبول، دسيمې په سطح د نجات لارې چارې لټول او د نجات د مختلفو ډولونو توزيع او ويش.
- روغتيايي خدمتونه: دټولنې په روغتيايي شو رى کې برخه اخيستل، دروغتيايي پروګرامونو ارځونه، داصلاحاتو لپاره هلې ځلې کول، دټولنې سروې کول، د روغتيايي کارکوونکي په توګه ونډه اخيستل، د بيماريو دو فياتو مشا هده او کتنه.[1]
- ښوونه او روزنه: دوړانديزونو څرګندونه، دښوونځيو د پروژوڅخه کتنه، دمعياراتو جوړول.

يو ټکي چې د اجراکوونکو غړو له خو ا ورته ګوته نيول شوې هغه داده چې دټولنې دانکشافي شورا دغړو داوطلبانه کار ددې سبب کيږي چې دوی خپل وخت او عايد له لاسه ورکړي او په دې توګه په خپله کورنۍ باندې پيټی شي چې داخبره يو څرګنده اثر په ټولنه کې د شورا په نتايجو او مشروعيت باندې لري.

---

[1]

**سپارښتنې:**

- **دټولنې دانکشافي شورا ګانو یوګروپ جوړول:**
  - ✓ **دمجمع په شکل ا نکشافي پلا ن ته پرمختک ورکول**
  - ✓ **حکومتي او غیر حکومتې ادارو ته دپروژو وړاندې کول او دهغوی دفاع**
  - ✓ **د کلی او سیمې په کچه دپروژو عملي اجرا کول.**
- **دحکومتي او غیر حکومتي ادارو او دټولنې دانکشافي شورا په منځ کې دهمکارۍ اړیکې جوړول په دې ډول چې:**
  - ✓ **دنویو پا لیسیو سره د پیژندنې اسا نتیا برابر شې**
  - ✓ **ددا سې ستراتیژیو پلان کول چې وکولای شي دټولنې دانکشافي شوراوو یوه ډله را منځ ته کړي**
  - ✓ **دپلا ن د اجراکولو لپاره دمنا بعو مشخص کول.**
  - ✓ **دټولنې د انکشافي شورا د پروژو لپاره د تخنیکي کومکونو ا ماده کول**
  - ✓ **دټولنې د انکشافي شورا دپروژوڅخه مشا هده او سرپرستي**
- **دانکشافي شورا غړیو ته داسې ا متیاز ورکول چې ددوی دوخت د ضایع کیدو جبران وشي او په دې وتوانیږي چې خپل کارونه د ټولنې په انکشافي شورا کې په ښه ډول ترسره کړي.**

## ۱. سریځه

دملي پیوستون پروګرام چې د افغانستان د حکومت داولویت د پروګرامونو څخه یواځینۍ بریالي اودېولنې دهڅونې په واسطه پرمختګ رامنځته کولو یو پروګرام دی چې تر اوسه په نړی کې لیدل شوی دی[2]. نوموړی پروګرام چې دکلیوالو سیمو په کچه د بیا رغونې او انکشاف پروګرام دی د ۲۰۰۳ کال په نیمایي کې پیل شو چې دوه لوی هد فونه لري: ۱.دټولنې په کچه د حکومت د بنیا دونو غښتلې کول ۲. دهغو سیمو پروژو حمایت چې د ټولنې له خوا په تنمظیمیری ترڅو کلیوالې سیمې وکولای شي چې اجتماعي، تولیدی او نورو بنسټیزه خداماتو ته لاس رسی پیداکړي[3].

دملي پیوستون پروګرام دکلیو دپراختیا او بیا رغونې د وزارت له خوا اجرا او د انکشاف دبین المللي ټولنې او دافغانستان د بیا رغونې له بودیجې څخه تمویل کیږي.او نور تمویل کوونکي يې: د نړیواله بانک، دانګلستان د بین المللي انکشاف اداره، د دنمارک د بین المللي انکشاف اداره، دکانادا دبین المللي انکشاف اداره، او د امریکې دبین المللي انکشاف له ادارې دې، او دوه نورې ادارې چې د جرمنانو د تخنیکی مرستې (GTZ) او (DAI) دي چې د مشورتي ادارو په توګه دکلیو دپراختیا او بیا رغونې په وزارت کې دظرفیتونو د لوړوالي او دانکشافي پروګرامونو په تنظیم کې مرسته کوي.

دکلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت دیوشمیرادارو له خوا چې د تسهیل کوونکو غړوپه نامه یا دیږي دملي پیوستون پروګرام پرمخ بیايي په دې ډول چې نوموړي تسهیل کوونکي په ټولنه کې د پروګرام د پیل، دظرفیتونو دلوړولو، او تخنیکي مرستو مسؤلیت په غاړه لري او همدارنګه دملي پیوستون د پروګرام د طرزا لعمل دتطبیق دنده اودهغه موافقت لیک عملي کول چې مخکې د ټولنې سره شوی‌دی هم ددوی له خوا ترسره کیږي. یوه غوره دنده چې تسهیل کوونکي غړي يې باید ترسره کړي دټولنې دانکشافي شورا د جوړولو لپاره ټاکنې دي چې دپروګرا م یوه بنیادي برخه جوړوې.

ددې پروګرام له مخې یوه ټولنه چې له ۲۵ څخه تر ۲۰۰۰ کورنې پورې چې په یوه سیمه کې اوسیږي او یا د حکومت د میشتو سوابقو په اساس درج شوي وي تعریف شوې ده. دخلکو ټولنو ته د اجتماعي کارکوونکو او فعا لینو له خوا چې د تسهیل کوونکو غړو په واسطه تربیه او دټولنې له منځ نه ټاکل، اوګمارل شوي دي د پروګرام په هکله بشپړ معلومات ورکول کیږي او همدارنګه تسهیل کوونکې غړي د ټولنې د انکشافي شورا د ټاکنو لپاره د هغوکسانو څخه کاراخلې چې په ټاکنو کې پوره مهارت لري او داسې انجنیران دځان سره لري چې دټولنې له انکشافي شورا سره د پروژو په اجراکولوکې تخنیکي مرستې ترسره کوي. دملي پیوستون پروګرام د اصولو له مخې د ښځو ونډې ته د انکشافي شورا په ټاکنو او پریکړه کولو کې اولویت ورکوي او هغه ستونځې هم په پام کې لري چې د پروګرام د اجرا کولو په صورت کې به د محافظه کارو ټولنو له خوا را منځته شي او همدارنګه تسهیل کوونکو غړوته هم دا فرصت ورکړل شوی دی چې په تدریجي ډول سره د ښځو د هوډ کولو او پریکړه کولو قدرت د ملي پیوستون د پروګرا م په چوکاټ کې زیات کړي.

دټولنې انکشافي شورا په دی ډول ټاکل کیږي چې: ۱. د مستحقه رای ورکوونکو پیژندنه، ۲. درایي ورکو لو د ګروپ جوړول چې شمیر يې ۲۵ کورنیو ته رسیږي، ۳. دهرګروپ څخه با ید ۸۰ فیصده د خپل د نما ینده دټاکنې لپاره رایه ورکړي

[2] ا. د نړیواله بانک د کلیواله حمایې د اداری د فالیتونو له لوړ رتبه مسؤل سره د ا. کرستنسن د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداری ۲۰۰۴ کال د ډیسمبر د میاشتی مرکه.

[3] د ملی اولویتونو د برنامې (NPP) د ملی پیوستون د پروګرام له پاره د کړنلاری اسناد، ۲۰۰۴، د JPU له خوا د ملی پیوستون له پاره تیار شوی.

که چیرې د ښځو انکشافي شورا د نارینه وو د شورا څخه بیله وي نو باید دهریوه لپاره بیل بیل نماینده ګا ن وټاکل شي. کله چې ټاکنې ترسره شول نو وروسته  بیا دشورا دغړو له منځه دشورا رئیس، منشي او خزانه دار ټاکل کیږي. باید یادونه وکړو چې دوه ډوله انکشافي شوراګانې موجودې دي چې یو ډول یې دنارینه او ښځو ګډه شورا ده چې ګډ بانکي حساب هم لري او دوهم ډول یې داسې ده چې د ښځو شورا بیله او د نارینه وو بیله ده او جلا جلا بانکي حسابونه هم لري. دټولنې دانکشافي شورا له لارې کیدای شي چې دټولنې ټول کسان دپروژې د ټاکلو په اوږدو کې داخل کړای شي ترڅو وکولای شي په ګډه سره د خپل اړتیا وړ پرمختیایي پروژه وټاکل شی او دخپلې ټولنې لپاره یو پرمختیایي پلان را منځ ته کړي. وروسته بیا تسهیل کوونکې اداره دانکشافي شورا غړوته د پروژو دوړاندیزونو د لیکلو، محاسبې او تهیې اوتدارکاتو په باره کې روزنې چې په نتیجه کې انکشافي شورا دخپلې ټاکل شوې پروژې وړاندیز د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت او د هغوی مشاورو اداروته استوي که چیرې د پروژې وړاندیزونه پر ځاي وي اودوزارت د مقامونو دتایید وړ وګرځي نو دوی به دمربو طې انکشافي شورا بانکي حساب ته داقساطو په ډول[4] پیسې استوي ترڅو انکشافي شورا په دې وتوانیږي چې په عملي ډول خپله پروژه اجراکړي او په دوامدار ډول خپل د اجراتو راپور دپروژې او د هغې د بودجوي مصارفو په هکله د بیا رغونې وزارت ته ورکړي.

دکلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت داسې پلان لري چې د ملي پیوستون پروګرام ټولو سیموته او پرګنو ته تر هغه وخته چې مالي امکانات ورته اجازه ورکوې ورسوي، د دغه پروګرام د پیل په لمړي کال کې په هر ولایت کې درې ولسوالی په پام کې ونیول شوي، چې له دې کبله ۲۰۰۰ ټولنیزو ګروپونو ته رسیدنه وشوه او په دوهم کال کې پروګرام یو څه نور هم پراخ شو چې سربیره په ذکرشوي رقم ۴۵۰۰ ټولنوته رسیدنه وشوه چې په دې توګه ویلای شو چې دغه پروګرام نږدی د افغا نستان نیمایي برخې ته رسیدلی دی. او همدارنګه په اوسنې یعنې۲۰۰۵ کال کې چې د پروګرام دریم کا ل دی په دې بحث روان دی چې د ۲۰۰۰ په شا و خواکې ټولنو ته رسیدنه وشي.

## ۱.۱ دنمورې څیړنې تاریخچه او کړنلاره

دملي پیوستون پروګرام د یوه مناسب او ملي اولویت د پروګرام په توګه ددې سبب شو چې د افغا نستان دڅیړنی او ارځونی د اداری د پام وړوګرځي او له بلې خوا څخه د کلیو د پراختیا او بیا رغونې محترم وزیر حنیف اتمر هم د نومورې اداره څخه هیله وکړه چې د ملي پیوستو ن د پروګرام کړنې وڅیړي. څرنګه چې دغه کار د څیړنې او ارځونې د اداره دحکومتې څیړنو تر عنوان لاندې راځي چې غواړي په دې پوی شي چې دسیمې په کچه او د مرکز په سطح د نفوذ او قدرت را بطه څه ډول تغیر مومې او څه لاملونه دسیمه ییزه قدرت د جوړښت سبب کیږي.

ددې څیړنې ما لې لګښت په دوام داره توګه د ا نګلستا ن د بین ا لمللي انکشا ف د ادارې له خوا چې د ملي پیوستون دپروګرا م یو تمو یلوونکی هم دی د افغا نستا ن د څیړنې او ارځونې ادارهته ورکول کیږي. نو نومورې خوه د ملي پیوستو ن د پروګرام د جریا ن په دوام کې دوهمه خوه ده چې تر سره کیږي. همدارنګه نومورې خوه د هغو مرکو،خبرو اترو نتیجه ده چې د تسهیل کوونکو غړو سره په کا بل کې د ۲۰۰۵ کال د فبروري ا و مارچ په میاشتو کې ترسره شوي. ددې مرکو په ترځ کې د څیړنې او ارځونې داداره مقصد داوه چې د ملي پیوستون د پروګرام په نتیجه کې په محل کې د قدرت کوم تغیرات را منځته شوي او یا په دې اړه څومره مقاومت موجوددی.

[4] په معمولی توګه پیسې په دوو یا دروو اقساطو کې استول کیږی چې دا د پروژې په ټول حساب پوری اړه لري

دنوموړې څېړنې او خوې با وري منا بع هغه مرکې د ي چې په کا بل کې د ملي پيوستون د تسهيل کوونکو غړو له منيجرا نو سره شوي دي چې د ۲۴ تسهيل کوونکو له جملې څخه له ۱۷ غړوسره ددوی د ښه عکس ا لعمل او مرکې ته د حاضريدو پر بنا شوي دي. دکومو ادارو سره چې مرکې تر سره شوي دي په لاندې ډول دي.
د آغا خان انکشافي شبکه، اکتيد، اکشن ايډ، افغان ايډ، دبنګلديش د ساحو ي پرمختګ کميته، پاملرنه، دانساني کومکونو د هما هنګی اداره، د دنمارک د افغانی مهاجرينو له پاره د مساعدت کميته، جرمن اګرو اکشن، د غازی د کليواله حمايې پروګرام، د نجات بين المللی کميټه، مديرا، اوکيندن، اکسفام، دافغانستان لپاره د سويدن کميته، دی‌ناپې انکشافي بنياد او -يو-ان-هبيتات.

د افغانستا ن د څيړني او ارځوني د اداری عمومي هدف د ملي پيوستون د پروګرام د هغه مقصد څېړل دې، چې په نتيجه کې يي خلک په سيمه ييزه کچه د هوډ او پريکړه کولو توا ن مومې سره له دې چې په دې هکله کې دنړي په کچه هم يوڅه تجربې دټولنې د انکشاف د هڅونې په هکله شته، خو ددې خوې په ترځ کې هڅه کيږي چې له نږدې څخه هغه خاصې ستونځې وڅيړي، او دهغو درسونو څخه چې د ملي پيوستون د پروګرام د عملي کولو په نتيجه کې د خلکو د توانمندکولو په هکله لاسته راغلي ګټه واخلي او همدارنګه دنفو ذ او قدرت هغه روابط وڅيړي چې جګړه ځپلی افغانستا ن ورسره مخامخ دی. په داسې حال کې چې ځينې شوا هد داسې ښيي چې دملي پيوستون پروګرام دنړي دنورو ټولنيزو انکشافي پروګرامونو په پرتله ډير بريالی دی، سره له دې تراوسه هم د اهدافو رسيدوته څه خنډونه او ستونځې مو جودې دي.

نوموړې خوه د هغو لمړنيو لاسته راوړنو څخه استازيتوب کوي، چې دروانې څيړنې په پروګرام کې په هرات او فارياب کې ترسره شوی دي او همدارنګه دهغې مطا لعې څخه چې د ۲۰۰۴ کا ل د نوامبر په مياشت کې په با ميا نوکې ترسره شوې، او د نړيوالو تجربو څخه هم ګټه اخيستل شوې ده.

دملي پيوستون د پروګرام په هکله روانه څيړنه چې په هرات، فارياب، باميان، ننګر هار، کندهار او بدخشان کې تر سره کيږي د نوموړيو څيړنو په هکله يوه بله خوه په پلان کې ده چې د ۲۰۰۲ کال په پيل کې به خپره شي.

دهغو مرکو پر بنسټ چې د تسهيل کوونکو غړو سره شو ي دي، نوموړې خوه هغه مسا ئل هم څيړي چې دټولنې انکشافي شورا ګانې يي دسيمې په کچه (دټولنې او سيمې) او په ملي ( دولسوا لی، ولايت اوممل‌کت) کچه لري.

د دوه لسيزو جنګ جګړو او اجتماعي اختلافاتو په زرګونه دنفوذ او قدرت جوړښتو نه تر شا پريښې چې له يو بل سره د مقابلې په حال کې دي، او د ملي پيوستون پروګرام په دې جوړښتونو باندې يوبل جوړښت هم چې د ټولنې دانکشافي شورا څخه عبارت دی ورزيات کړ، چې نوموړی جوړښت به دټولنې او حکومت په کچه، د ټولنې د بې وزله خلکو او په خاص ډول د ښځو ونډې ته د مشروعيت ورکو لو په لاره کې هلې ځلې وکړي او پردې برسيره دښځو انکشافي شورا ګانې په ځا نګړي ډول هم دا هلې ځلې ترسره کوي، چې د دوی نظرياتو او پريکړو ته دې پوره پاملرنه وشي. بايد زياته کړو چې دټولنې انکشافي شورا ګانې په ملې کچه په ښه ډول توانيدلې چې د نورو جوړښتونو په را بطه پايداره و اوسي په داسې حا ل کې چې په سيمه ييزه کچه کې پرمختيايي پروژې ددې سبب کيږي چې دانکشافي شورا غړي خپل وخت ورته وقف کړي چې نوموړی کار د دوی په کورنيو باندې يو ډول فشار ګڼل کيږي.

نوموړې خوه د تسيهل کو نکو غړو سره د بحث پر بنا په درې برخو کې تنظيم شوې ده چې لمړنی. برخه يي دقدرت د اوسنې او پخوانې جوړښت په هکله او هم دنوموړو جوړښتونو ټکرته د ټولنې دانکشافي شورا سره پکښې اشاره شوې ده

او همدارنګه دټولنې دانکشافي شورا غړيو ته دتنخا ورکول چې تر بحث لاندې يوه مسئله ده هم ځېړل شوی ده په دوهمه برخه کې دښځو برخه اخيستنه دملي پيوستون په پروګرام کې او د هغی مختلف ډولونه ځېړل شوي چې ځرنګه کيدای شي چې دښځو په هکله پريکړه کولو ته په انکشافي شورا کې مشروعيت ورکړل شي.
او دريمه برخه يې د ټو لنې د انکشافي شورا د را بطې ځېړل دي دنورو حکومتې ادارو سره دمرکز او سيمه ييزه سيمو په کچه او له نوموړې را بطې ځخه به د طبيعی ناخوالو په تنظيم، روغتيا، او ښوونه او روزنه کې کار واخيستل شي.
با يد زياته کړو چې په هره برخه کې يوشمير هغو مسائلو ته هم اشاره شوې چې تسهيل کوونکو غړو مشخص کړي او بيايي د حل لاره هم ورته پيداکړې ده.

## ۲. په سيمه ييزه کچه د قدرت جوړښت:

د ملي پيوستون د پروګرام له ستونځو ځخه يوه ستونځه په هغو سيمو کې د ټولنې د انکشافي شورا جوړول او هغی ته د صلا حيت او مشروعيت ورکو ل وو چې د نوموړي پروګرا م سره يې پوره اشنايي نه لرله. په افغا نستان کې د جنګ جګړو تجربې دقدرت ډول ډول جوړښتونه تر شا پريښي او په هر وخت کې چې يو نوی رژيم منځته راغلی. نو د قدرت يو نوی جوړښت يې هم منځ ته راوړی دی، په تاريخې لحاظ هم که وګورو د افغانستان پخوانيو مرکزي حکومتو نو له ۱۸۸۰ ځخه تر ۱۹۷۳[5] پورې دسيمه ييزه او مروجه قدرتونو په جوړښت کې مداخله نه درلوده او هما غه مروجه سيمه ييز سيستم په کليو او حتی منطقه با ندی حکومت کاوو چې دمرکزي حکومت له خو ا ډيره لږه مداخله موجوده وه[6]. لکه ځرنګه چې مختلف حکومتونه په د ې کوښښ کې وو چې د ملي وحدت د تامين لپاره د ډول ډول مفکورو چې له کمو نيزم ځخه نيولې تر سخت دريځه اسلام پورې کاروا خلي. نو هر حکومت به خپل نما ينده ګان په سيمه باندې د حکومت کولو لپاره وګمارل او د قدرت يو نوی جوړښت به يې را منځته کړو نو په دې ډول دټولو پخوانيو رژيمونو دقدرت د جوړښت اثرات په کليو، با ندېو او سيمو باندې پاته دي نو اوس هم چې دا نوی حکومت غواړي چې په ملک کې يو ډول ثبات را منځته کړي نو با يد په سيمه ييزه کچه د قدرت پخوا ني جوړښتونه په پام کې ولري اودملي يوالي پروګرام د دولت دهغو پروژو له جملې ځخه يواځيني پروژه ده چې دټولنې په کچه دقدرت ځو ګوني جوړښتونو په پام کې نيول يې له غوره اهدافو ځخه دي.

په دې برخه کې به په ټولنه کې دقدرت دډول ډول جوړښتونو رامنځته کيدل په بيلو بيلو وختونو کې، [7]او دهغوی ځرنګوالی په جغرافيايي او منطقوی لحا ظ وځېړل شي او همدارنګه دنوموړو جوړښتو نو تاثيرات به دټولنې په انکشافي کونسل باندې و ارزول شي

[5] د او. روی د افغانستان د کورنې سياست او ټولنيزه اقتصاد د دا ينامک او ګروپونو په هکله د ۲۰۰۳ کال خوه. د سازمان ملل د مهاجرينو د عالی کميشنری د خپرونو ۱– ۳. او همدارنګه د اِ. راسنايکام، د افغانستان موډرن ټاريخ ۲۰۰۳، لنډن؛ د آی بی. ټوريس او اِ. ترزی، ۲۰۰۳، قضايي حالت: په افغانستان کې د محکمو ارځونه او هغو ته مرکزيت ورکول، ۱۳۸۳ – ۱۸۹۶. د ډاکټری په درجې سره خوه، د نيو يارک پوهنتون.

[6] د مرکزی حکومت کم دخالت د مرکزی حکومت د ظرفيت او د مرکزی حکړمت په هکله د نظری توافق نشتون وو، که څه هم د اولسی حکومت مفکوره له هغه ځه نه چې په لويديز کې ده توپير ولری.

[7] جنګ سالاران او د نشه يي توکو قاچاق وړونکې د دغې پاڼې په دريځ کې شامل نه دې، ځکه چې دغه پاڼه د تسهيل کوونکو غړو د مرکو پر بنسټ ولاړه ده او دغه زورمنده کسان په دغو مباحثو کې نه دی را اوچت شوې. يوازی محلی کوماندانان دې چې په محلی کچه فعاليت کوی که څه هم جنګ سالاران ښايې شامل وی.

لمړي جدول: په ټولنه کې دنفوذ یا قدرت لرونکي او د هغوی و مسؤلیتونه.

| قدرت لرونکي | اصطلاحي نومونه | په ټولنه کې عنعنوي دندې |
|---|---|---|
| ملک | ارباب، قریه دار | دټولنې او حکومت په منځ کې د یو وکیل او را بط په توګه، په ټولنه کې دراولاړشویو ستونځو حلوونکی، او په ټولنه کې د ګډو اموالو سا تونکی. |
| میراب | خاده دار | دټولنې د اوبو لګولو د چارو تنظیم کو نکی. |
| خان | زمیندار، بیک، سردار، نواب، ارباب[8] | دډیرې ځمکې خاوند، او په ټولنه کې د ډیرو منا بعو لرونکی او کنترو لونکی، په خپله ځمکه باندې مزدورانو او بزګرانو ته د کار د امکاناتو برابروونکی، او په ټولنه کې د راولاړو اختلافاتو سره معامله کوونکی. |
| علما | ملا، طالب، قاضي، صوفي، موخي، موخیاني | مذهبي لارښوونکي دي، دلما نځه ورکو لو دنده په غاړه لري، او په ټولنه کې په اخلاقي ډول د فیصلې او قضاوت کولو قدرت لري او د منازعاتو په حل کې دشریعت پر بنیاد مهم رول لري |
| جرګه | شورا | جرګه په هغه وخت کې را ټولیږي چې ستونځه مو جوده وي او ستونځې دیوې ورې منازعې څخه نیولې بیا دټولنې تر ګډې دارایي پورې په بر کې نیسي. |

## ۲. ۱ په سیمه ییزه کچه مروج قدرت لرونکي :

### ملک/ارباب

بې له دې چې د مرکزي حکومت څرنګوا لی په پام کې و نیول شي له ډیرو کلونو را په دی خوا ملک او ارباب په ټولنه کې د حکومت او خلکو تر منځ د یو رابط په توګه پاته شوی‌دی. دملک اصطلا ح چې په جنوبې سیمو کې ډیر عمومیت لري او د ارباب[9] کلمه چې په شمال کې ډیره عامه ده دیو ډیر پخو اني او زاړه سیستم ښکارندوی دي او دا روښانه نه ده چې نموړي مقامونه د مرکزي حکومتو نو له خوا ګما رل شوي، [10] او یا د ټولنې له خو ا څخه حکومت ته ور پیژندل شوي دي[11].څرنګه چې ملک او ارباب دټولنې د بډا ی قشر څخه په دې هیله ټاکل کیدل چې دوی به وکولای شي دمرکزي حکومت څخه د خپلې ټولنې لپاره یو زیات څه تر لاسه کړي نو له همدې کبله به دخلکو سره هم دا باوروو چې حکومت ددوی خبرې اوري او غوږ ورته نیسي. همدارنګه د وخت په تیریدوسره نوموړې دندې میراثي بڼه نیولې ده او یا دنوي ملک ټا کل هر کله د ټولنې په رضا یت ترسره شوی دي. دکلي او سیمې څخه د باندې دملک دنده په حکومت کې دټولنې څخه نماینده ګي کول، او دخلکو د اړتیاو وړاندیزونه کول، او د اړتیا وړ پروژو څخه دفا ع وه اوپه کلي اوسیمه کې دننه بیا دملک رول دټولنې د ستونځو د حل او مراجعې مقام وو. هغه

> **لمړی چوکات: مخالف ملکا ن:**
> دکا بل په ولایت کې یو ملک وو چې دغه دملکی مقام په میرا ث ورته پا ته وو حا ل دا چې دهغې سیمې خلک چې دی یې ملک وو سخت ورڅخه نارا ضه وو او دی تر هغه وخته ددې سیمې ملک پاته شو تر کوم وخته چې طا لبا نو دسیمې کنترو ل په لاس کې ونیو، او نو مو ړي ملک پا کستا ن ته فرار وکړ نو وروسته خلکو یو بل ملک وټا که چې ټول خلک دده څخه خو شحا له هم وو. کله چې د رئس جمهور کرزي حکومت قدرت ته ورسیدو نو هغه فراري ملک بیرته وطن ته را ستو ن شو او دخلکو څخه یي وغوښتل چې بیا هغه پخوا نی دملکی مقا م ترلاسه کړي. څرنګه چې خلک د نو ي ملک څخه ډیر خو ښ وو نو د مشکل د حل د پاره شورا او سپین ږیرو ته مخه وکړه چې په نتیجه کې فیصله دنوي ملک په ګټه تما مه شوه.

[8] د افغاني مهاجرینو د مرستې له پاره د دنمارک کمیټې داسې راپور ورکړو چې د نواب اصطلاح د زمیندار/ملک یا د جایداد څښتن له پاره په کارول کیږي، سره له دې چې نواب د هند په شبه قاره کې د ډیرې ځمکې څښتن ته وایې، په شمال کې د ډیرې ځمکې څښتن ته او د ټولنې نماینده یا وکیل ته هم ارباب وایې.

[9] قریه دار هم په شمال کې د حکومت د پیژندلو څخه وروسته استعمالیږي. وروستنی پاراګراف وګوری.

[10] اف ووګل د ۲۰۰۳ کال د کامبرج، هارورود د حقوقو ښوونځای څخه (د افغانستان او د اسلامي نمونې پوهه)، (د افغانستان د شرعې تاریخ د پروژې لکچر، د اسلامي شریعې د مطالعو ځانګی، کې د ماستر.

[11] د ال ډوپرې د ۱۹۶۶ کال (آق کوپورک؛ د افغانستان په شمال کې یو کوچنی ښار، ) د سهیلي آسیا له څیړونو څخه ۱۳:(Afghanistan) (۱۰)X

ستونځې چې دملک په واسطه حل کيدلې. دپلونو اوسړک جوړولو څخه نيولې بيا تر خپل منځې ذاتي شخړو پورې په بر کې نيولې دي او په ځنو حالاتو کې به که اختلاف تر دې هم اوچت وو نو بيا به يې د هغه دحل لپاره د سپين ږيرو جرګه را بلله.[12]

په ۱۹۲۴ کال کې دافغا نستان ملی شورا هڅه وکړه چې دملک او ارباب سيستم په قريه دار او علاقه دار باندې عوض کړي. د قريه دار نوم دقريي/کلی څخه اخيستل شوی داسې فرض شو چې قريه دار به د کلی دخلکو له خوا ټاکل کيږي او علاقه دار به دولسوالی څخه په ټيټه کچه د حکومت دنماينده په توګه دحکومت له خو ا ټا کل کيږي[13] چې نوموړی سيستم بيا په ۱۹۷۸[14] کال کې له منځه ولاړ. د محمد داود خان د حکومت په دوره کې (۷۸-۱۳۷۳) بيا دټولنې په کچه شوراګانې[15] رامنځته شوې په خاص ډول د پښتنو په سيمو کې چې څه نا څه هما غه د ملک او ارباب رول تر يوې اندازې ولوبوي او دخلکو څخه په دولت کې نما يندګي وکړي خو نوموړې شورا هغه څه چې دنده يې وه ترسره نه کړه او ددولت لپاره د پروپاګند د وسيلې په ډول ورڅخه کار واخيستل شو[16]. د ملک او ارباب د دندې پاتې کيدل د رژيمونو په تغير سره په دې پورې تړلې وې چې يو شخص څرنګه کولای شي چې د شرايطو د تغير په صورت کې خپل رول ولوبوي او دقدرت د بيلا بيلو ډولونو سره توافق وکړي ددينايي انكشافي بنياد د موسسې راپور چې په ټولنه کې د ملک او ارباب د ټاکلو يو ښه مثا ل را په ګوته کوي او په تيرو درويشتو کلونو جګړو په دوران کې د ټولنې دټا کنې دوا ک يو ښه ښکارندوی دی. لمړی چوکاټ وګوری؛

## ميراب[17]

په مروجه ډول ميراب هغه شخص ته ويل کيږي چې د ټولنې د اوبو د کنترول او تنظيم مسئوليت په غاړه لري او د خلکو له خوا په يو عمو مې توافق او رضايت ټاکل کيږي. ميراب کيدای شي چې د يوه او يا څو کلونو لپاره وټاکل شي خو په عمومي ډول هغه اشخا ص د ميرا ب په دنده ګمارل کېږي چې په ټولنه کې په صداقت، ريښتين والی او سخت کارکولو مشهور وي. ميراب ته په بيلا بيلو سيمو کې په بيلا بيلو ډولونو مزدوری ورکو ل کيږي د مثال په ډول په ځنو سيمو کې هغه کورنی چې د شل جريبه ځمکې خاونده وي نو په يو کال کې د کابل دوه منه غنم د ميراب اجورت ورکوي[18] او بيا په نورو سيمو کې د يوه ساعت اوبو په لرلو سره له سل څخه تر يوسل او پنځوس افغا نيو پورې ورکول کيږي. نو کله چې د ټولنې د اوبو لګولو په سيستم کې کومه ستونځه موجوده وې نو ميراب کولای شې چې نو موړی ستونځه دټولنې شورا ته وړاندې کړي تر څو يو مناسب حل ورته پيدا شي. دټولنې د او بو لګولو او د اوبو د منابعو لکه د ويالو او د اوبو د ويش تنظيم د ميراب له غوره او اصلي دندو څخه شميرل کېږي او کله چې په وياله باندې دکار کولو اړتيا وي نو دا د ميراب صلاحيت دی چې دټولنې څخه کسان وغواړي تر څو په کانال يا ويالې با ندې کار وکړي. په ځنو سيمو کې په يوه ويا له

---

[12] په همدغه څېرونه کې

[13] په همدغه خپرونه کې

[14] ډی. اومری ۲۰۰۴ کال د پکتيا په کله يادونې

[15] د روايتي راپورونو پر بنسټ دغه شوری ګانې (د داوود د ملی غورځنګ د پارتي) د سياسي پارټيانو پر بنسټ ولاړی وې، خو ښايې چې د حکومت په رسمی شوری ګانو بوری يې دلالت کاوو. تې. عثمان، د بين المللی نجات د کميټې د ملی پيوستون له منيجر سره د افغانستان د څېړنی او ارځونی د اداری مرکه، د ۲۰۰۵ کال د سپتمبر د مياشتی ۱۹مه نيټه.

[16] اچ. ټورنګارډ، د افغانستان د څېړنی او ارځونی د اداری د افغانستان له پاره د سويدن د کميټې د ملی پيوستون د پروګرام له منيجر سره مرکه، د افغالنستان لپاره د سويدن کميته، کابل، افغانستان، د ۲۰۰۵ کال د مارچ د مياشتی ۱۹مه تيټه

[17] آدم پين، د کليو د تعامل درکول: په فارياب او سرپل کې د اوبو د اداری په هکله موضوعې مطالعې، کابل: د افغانستان د څېړنی او ارځونی اداره، ۲۰-۱۷.

[18] يو من (سير) برابر په اووه کيلو دي او يو جريب ځمکه برابر په ۱/۵ هکتاره کيږې.

باندې دکلیو شمیر ډیر زیا ت وي نوپه دې صورت کې دمیراب سره یو بل شخص چې د ساعت چې په نامه یا دیړي هم ګمارل کیږي چې د میراب سره مرسته کوي. باید زیاته کړو چې په جنوبي سیمو کې میراب داوبو د تنظیم برخه کې دوهم کس ګڼل کیږي او له ده څخه مخکې شخص د خاده دار په نوم یادیږي چې د ویالې او اوبو د تنظیم مشري ورپه غاړه وي او میراب د اجرایي غړي په توګه کارکوي[19].

که چیرې په یوه سیمه کې د اوبو منابع داسې وي چې د لویو نهرونو څخه په ویالو تقسیم شوي وي او یا په سیمه کې ډیر کلي موجودوي نو په دې صورت کې د ښې همکارۍ لپاره د اوبو د میرانو یوه ټولنه را منځته کیږي او هغه شخص چې د نوموړې ټولنې په سرکې وي د چک باشي په نوم یادیږي. او په ځنو سیمو کې بیا د ولسوالی په کچه میراب ټاکل کیږي او دا میراب معمولاً له هغې سیمې څخه وې چې د کانال یا ویالې په اخره برخه کې موقعیت لري تر څو وکولای شي چې داوبو په ویش کې یو تعادل منځ ته راولي. خو په اوسنیو شرایطوکې دسیمه ییزه نظامي کوماندانانو او واکدارانو د زور له کبله میراوان او په خاص ډول د ولسوالی په کچه میراب نشي کولا ی چې اوبه و ویشي او توزیع یې کړي. د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداری د ۲۰۰۴ کال د اوبو د اداری[20] په هکله د موضوعي مطالعی له مخې میراوان چې د طالبانو له خوا ټاکل شوی وو د اوسنی محلی کوماندانانو د نظامی قدرت د رامنځ ته کیدو سره تباه شول.

## د ډیرو ځمکو خاوندان

دټولنې د قومي او اجتماعي جوړښت پر بنا په ټولنه کې دقدرت یو بل جوړښت د ډیرو ځمکو د خاوندانو څخه دی چې ازبکا ن ورته بیګ، بلوڅ ورته سردار او پښتانه او تاجک ورته خان او زمیندار وایي. دوی د ډیر ثروت او دارایي درلودلو له کبله په خپلو سیمو کې په میراثي ډول د قدرت څښتن پا تې شوي دي بې له دې چې د مشرتا به د اصولو پر بنا په ټولنه کې شهرت حاصل کړي. په کومو سیمو کې چې د ډیرو ځمکو خاوندان مو جودیت لري نو د دوی او د غریبو خلکو تر منځ ډیر تفاوت لید ل کیږي او په همدې ډول د قدرت په ویش او په ټولنه کې په واکداری کولو کې هم د دوی او غریبا نو په منځ کې ډیر فرق موجو د دی نو له دې کبله د ډیرې ځمکې خاوند دخپلې ټولنې یو واقعې وکمن ګڼل کېږي ځکه چې هیڅ څوک دا قدرت نه لري چې د دوی د واکمنی مقابله وکړې. ملک او ارباب هم کیدای شي چې د ډیرې ځمکې خاوندان وي خو ټول د ځمکې لرونکي بیا ملک او ارباب نه شي جوړیدای. حتی د ډیری ځمکې خاوندان کولای شي بې له دې چې دوی موجودوي په سیمه کې خپل نفوذ او دارایي وساتي، ممکن دوی پاکستا ن او ایران ته مها جر شوي وي مګر بیا هم کولای شي چې خپلې ځمکی او دارایي په خپل کنترول کې ولري.

باید زیاته کړو چې اکثره سیمه ییز کوماندانان هم لمړی په سیمه او ټولنه کې همدغه د ډیرو ځمکو خاوندان وو چې وروسته یې د نظامي ډلو شکل اختیار کړ.[21]

## مذهبي لارښوونکي

مذ هبي لار ښوونکي او روحا نیون په ټولنه کې همیشه د باور وړ او د قدرت او صلا حیت څخه برخه من وو. دټولنې تصور د دوی په هکله دادی چې دوی په دیني اصولو او عاداتو باندې ښه پوهیږي. په مذهبي لارښوونکو کې نه یوازې ملا او علما شامل دي خو د تصوف د طریقي مشران او داسما عیلیه مذهب مخي او مخیاني هم په دې ډله کې راځي.

[19] ټي. عثمان، د ژغورنی د بین المللی کمیتی د ملی پیوستون د پروګرام د انسجام کوونکی د نظریاتو په کتنه، د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر میاشت.
[20] اووه لسم لمن لیک (فټ نوټ) وګوري.
[21] روی، افغانستان؛ کورنی سیاست... ۴.

په افغانستان کې د تصوف د طریقي لارښوونکي چې د مجددي او ګیلانې د کورنیو څخه دي هم دسیاسي نفوذ څخه برخه من دي. مذهبي علماوو سیاسي قدرت د جهاد او مجاهدینو په دوره کې (۱۹۷۸ - ۱۹۹۲) په کوم وخت کې چې سني او شیعه دواړو مذهبو په کچه سیاسي اسلامي تحرکات را منځته شوه تر لاسه کړ چې په نتیجه کې یوه بله ډله د سلفیانو په نامه په خا ص ډول په پاکستا ن کې منځته راغله چې د همدوی د مفکورې له لارې طالبان د قدرت جوګه شول[22]

طا لبا ن چې د مذهبي لا رښوونکو په مشرتابه کې یي ځاي ونیوو په مرکزي او سیمه ییزه کچه یي قدرت تر لاسه کړ خو دوی د حکومت کولو سره دومره مینه نه درلوده لکه چې داسلامي اصولو او قوانینو په تطبیق کې یي درلوده او د دوی رویه په سیمه کې دسیمه ییزه قدرتونو په مقابل کې د هرې سیمې په کچه په بیلا بیل ډول وه[23].

## کلیواله ټولنی؛ جرګې او شورا ګانې

سره له د ې چې په افغانستان کې بیلابیل قومونه، او بیلابیل رواجونه موجودیت لري خو بیاهم هره ټولنه د شورا یو ډول لري چې د پښتنو په سیمو کې ورته جرګه او په نورو سیمو کې ورته شورا ویيل کیږي. شورا په عام ډول د څو کلیو په کچه او که کلي ډیر لوي وي نو دیوه کلي په کچه جوړیږي چې مشرا ن پکښې برخه لري، او په ټولنه کې هغه ټول د نفوذ خاوندان چې مخکې یي ذکر وشو په یو او بل ډول په شوراوو کې شامل وي، لویان یا مشران چې د سپین ږیرو په نامه هم یا دیږي او په ټولنه کې دښې را بطې، شهرت، ثروت، ښو خبرو کولو، او یا د ستونځو د ښه حل له کبله مشهوروي او همدارنګه قبا یلي مشرا ن او مخور هم په شوراوو کې عضویت لري. خو یو څیز چې همیشه د شورا په هکله دسؤتفا هم سبب شوی دی دادی چې د جرګې او شورا غړي یوازې په هغو وختو نو کې را ټولیږي او غونډه کوي چې په ټولنه کې په کوچنی او یا لویه کچه څه ستونځه موجوده وي او د شورا دغړو شمیره هم د ستونځې په څرنګوا لي پورې تړلی دی. ستونځه ددو ه وګړو د مخالفت څخه نیولې بیا د ځمکو په سر مخالفت او حتی له نورو کلیو او سیمو سره ستونځې په بر کې نیسي. غونډه معمولا په عام محضر کې دایریږي چې د ټولنې نور وګړي هم کولای شي چې د غونډې خبرې واوري او که وغواړي نو نظریات هم ورکولای شي خو وروستي پریکړه د جرګې په اصلي غړو پورې تړلې ده[24].

### ۲ . ۲ مخالفت او بدلون: هغه څه چې د قدرت د بیلا بیلو جوړښتو نو څخه په میرا ث پا تې دې.

دهغو تغیرا تو له کبله چې د حکومت په مرکزي او سیمه ییزه کچه پیښ شول، دملک، اربا ب سیستم هم ورسره بدل او را بدل شو، کله به د نظام په بدلیدو سره نو ي ملکا ن و ټا کل شول او د کمونستانو په وخت کې بیا کلیو الي شوراوې را منځته شوې په خاص ډول نومورې شوراوې په ستراتیژیکو سیمو کې لکه هرات ډیرې مهمې وې.

مجاهدین چې د کمونستانو پر ضد را پاڅیدل د لمړي ردیف کوماندانان یي د کلیو په کچه وټاکل، او بیا چې د مجاهدینو د پارټیو په منځ کې کو رنی جګړه را منځته شوه نو لیدر شپ له مفکوره وي حالت څخه په منطقوي ملیشا یي ګروپو نو د تشکل خوا ته بدلون وموند چې په نتیجه کې په منطقوي او قومي بنیا د د کوماندانانو لویې ډلې لکه د هزاره ګانو او ازبکو ډلې را منځته شوې او یا په سیمه ییزه کچه یووالي را منځته شو لکه په هرات کې، چې په نتیجه کې په جنګي ډلو او دلګیو بدل شول، دوی د عایداتو ډول ډول سرچینې درلودې لکه په لویو لارو او سړکونو با ندې د مالیاتو

---

[22]کې. مندوزا، ۲۰۰۴ کال، په افغانستان کې اسلام او اسلامیزم، د افغانستان د شرعی تاریخ پروژه، د هاروارډ د حقوقو مکتب، د انټرنټ په څپه کې: .http://www.law.harvard.edu/programs/ilsp/alhp.html

[23]روی، د افغانستان کورنۍ سیاست...، ۸.

[24]د ټورنګارد، د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری د افغانستان له پاره د سویدن د کمیتی د ملی پیوستون له منیجر سره د ۲۰۰۵ کال د مارچ د میاشتی د مرکې پر بنسټ: هر کله د شورا د مشرانو موافقه غوره ده نه د شورا د ټولو غړو.

اخیستل، د سرحداتو کنترول، او په سیمه کې د منابعو کنترول، د نشه یي توکو قا چا ق، او د بهرني کمک، اسلحې او پیسو څخه ګټه ا چتول وو[۲۵]. د افغانستان د څېړنو او ارځونو د ادارې د هغو څېړنو په اساس چې د منابعو په هکله یي ترسره کوي اوس حالت یو څه بدلون موندلی دی او د لویو جنګي ډلو په عوض اوس سیمه ییز کوماندانان د سیمه ییزه منابعو کنترول او اداره په لاس کې لري[۲۶].

طالبانو بیا برسیره پر ذکر شویو قدرت لرونکو خپل ځا ن ته ښتانه وفاداره کوماندانان وټاکل تر څو په نظریاتي لحاظ یو اسلامي دولت را منځته کړي[۲۷] په داسې حال کې چې بیا د طا لبا نو مخا لفینو د خپل کنترول په سیمو کې داسې کوماندانان په واک کې کړل چې قومي اړیکو ته وفاداره وو لکه تاجک، ازبک او هزاره ګان.

په سیمه ییزه کچه باندې په رواجي ډول حکومت کولو خپله پایداري په ټولنه کې وساتله چې سبب یي هماغه د ټولنې او خلکو اشنایي وه چې په دې هکله یي درلوده[۲۸]، که په تاریخي لحاظ وګورو نو افغانستا ن هم د نورو اسلامي ملکونو په شان مرکزي حکومت د سیمه ییزو حکومتو نو په چارو کې ډېره لږه لاس وهنه درلوده او حتی د ټولنې په کچه یي ډېر کم مسؤلیت محسو س کاوه او پرته له یو کوچني مقدار مالیي څخه د ټو لنې نورې چارې په هماغه مرو ج ډول د هرې سیمې د خصوصیاتو پربنا پر مخ تللې چې دغه شکل په پېړیو پېړیو ادامه درلوده. نوموړي د نه مدا خلې سیاست دټولنې په چارو کې د کمونستانو تر وخته پورې دوام و کړ او کله چې په دې وخت کې حکومت هڅه وکړه چې په سیمه ییزه چارو کې رسماً لاس ولري نو د یو قوي مخالفت سره مخامخ شو.

اولیور روی، دافغا نستا ن دکورني سیاست په هکله وایي چې قدیمې او مروجه سیاسې قوتونو غوښتل چې یو مجزا او خپر غوښتونکی دولت دې په قدرت کې وي[۲۹] خو په مرموز ډول کمونستانو او اسلامي قوتونو دافغانستان د مدرن کیدو په مرحله کې په دې هیله وو چې یو قوي مرکزي حکومت دې منځته را شي چې په نتیجه کې یي هغه نازکه د تعا دل را بطه چې دمروجه سیاسي قوتونو او د دولت په منځ کې موجوده وه له منځه ولاړه. اوس چې افغا نستا ن په دې کوښښ کې دی چې هغه د تعادل را بطه د مرکزي حکومت او محلاتو په منځ کې بیا ورغوي نو (روی) په دې هکله وایي چې په اوسني حالت کې کوم مفکوره وي قوت نشته چې د اوسنې رژیم د عوض کولو هڅه وکړي خو متخاصم ګرو پونه په دې هڅه کې دي چې خپل قدرت په دولت کې اضافه کړي په دې هیله باندې چې څرنګه دولت وکولای شي چې په موثر ډول خپلې دندې سرته ورسوي.[۳۰]

## ۲. ۳ د ملي پیوستون د پروګرام له پاره مناسب ځای:

سوال دلته پیداکیږي چې په ټولنه کې د قدرت د مختلفو جوړښتونو د موجودیت په صورت کې د ملي پیوستون پروګرام دذکر شوي معلومات پر بنا په کوم ردیف کې را ځي، په داسې حال کې چې په سیمه کې مروجه قدرتونو هم د حکومتونو په تغیر سره بدلون موندلی د ی او دملي پیوستو ن د پروګرام تسهیل کوونکي غړي د نمورو قدرت لرونکو سره ډول ډول ستونځې لري چې دغه ستونځې د پروګرام په هکله په ټولنه کې له لمړی هڅونې او موافقت لیک څخه نیولې بیا د پروژې تر بشپړ بندیدو پورې سبب شوی دي. نوموړې ستونځې په بیلابیلو ټولنوکې د ملک، ملا، او سپین ږیرو له خوا

[۲۵] روی. د افغانستان کورنی سیاست...، ۶.
[۲۶] بې. ویټې، د افغانستان د څېړنی او ارځونی په اداره کې د بدلوونکی ورکشاپ چلوونکې، د ۲۰۰۵کال د آګست میاشت.
[۲۷] روی. د افغانستان کورنی سیاست...، ۳.
[۲۸] ټې. هوهی، ۲۰۰۲ کال "په شرقی تیمر کې د نمونو ټکر،" د جنوبی آسیا معاصر، ۵۷۰(۳)۲۴ .
[۲۹] روی.د افغانستان کورنی سیاست.
[۳۰] په همدغه خپرونه کې

را منځته کېږي ځکه چې دوې د ملي پیوستون پروګرام په ټولنه کې د خپل قدرت یو ګواښ ګڼي او یا په دې فکر دي چې د دې پروګرام له کبله به هغه پخوانی مروجه سیستم له منځه ولاړشي.

د ملي پیوستون پروګرام د ټولنې ټول هغه ارزښتونه په پام کې لري کوم چې د افغانستان له یوه پایداره دولت څخه متصور دي. په عوض د دې چې مرکزي حکومت خپل استازي سیمې ته ولیږي تر څو په سیمه کې د خلکو سره د اړونده مو ضو عاتو په روښانولو کې کمک وکړي باید دملي پیوستون پروګرام ته په دې نظر کتل شوي وای چې نوموړي پروګرا م په ټولنه کې دېخوا نیو جوړښتونو د بیا رغولو او روابطو د احیاکولو تضمین کوونکی پروګرام دی. یوه منبع زیاتوي چې امیر عبدالرحمن خان هم دثبا ت او پایداره حکومت د منځته راوړلو لپاره د ملي پیوستون د پروګرام په ډول له مشا به سترا تیژي څخه کار واخیست چې تر ۱۹۷۸ پورې یې دوام وکړ.[۳۱]

د دې له پاره چې د قدرت بیلا بیل جوړښتونه په سیمه کې یوځای شي نو د ملي پیوستون پروګرام دې ته اړتیا لري چې نوموړې د کلیو د پراختیا وزارت او بیا رغونې د وزارت سره په ګډه داسې کار وکړي چې په نتیجه کې یې د ټولنې بیا رغونه، او پیوستون ترسره شي او یو ثابت او پایداره دولت رامنځته شي. او همدارنګه به د دولت نماینده ګانو ته دا موقع په لاس ورشي چې د کوماندانانو پر ځای د ټولنې د ټاکل شویو غړو سره معامله وکړي[۳۲] خو باید زیاته کړو چې د ټولنې د شورا غړي تر اوسه هم دا ظرفیت نه لري چې د یوه رسمي او مناسب جوړښت په ډول خپله دنده تر سره کړي.

### ۲. ۳. ۱. ټولنې ته د ملي پیوستون د پروګرام ور پیژندنه:

د ملي پیوستون د پروګرا م لمړی قد م ټولنې ته د هغه معرفي کید ل دي په دې ډول چې دټولنې مسؤلیتونه، د پروګرام اصول او قوانین، د تسهیل کوونکو غړو او حکومت دندې، اود پروګرا م نوری اړتیاوی لکه ټاکنې، د ټولنې برخه اخیستنه، شفافیت، او حساب ورکول پکې شامل دي. لمړی د ټولنې له مشرانو او لار ښوونکو څخه غوښتل کیږي چې ایا دو ی په دې را ضي دي چې د دوی په سیمه کې دې دملي پیوستو ن پروګرا م په عملي ډول کار وکړي.

په دې مرحله کې ځنې تسهیل کوونکي غړي لکه د ژغورنی د بین المللی کمیټی د ټولنې سره یو موافقت لیک په دې ډول امضا کوي چې په لیک کې دا خبره لیکل شوې چې ټولنه د پروګرام په څرنګوالي په بشپړ ډول پوه شوه او د پروګرام د عملي کیدو له ټولو اصولو سره موافقت لري. د ټولنې د انکشافي شورا د جوړید و په مرحله کې تسهیل کوونکي غړي د سیمه ییزه قدرت لرونکو له خوا له یو لړ خنډونو سره مخامخ شوی دي چې په خاص ډول یې د پروګرام په لمړي مرحله پورې اړه درلوده

د پروګرام د نه موافقت په هکله دا لاندې څلور مهم دلا یل وړاندې شوي دي.

- د نوې شورا له پاره د میل نشتون: دا څرګندونه چې موږ له مخکې څخه لار ښوونکی او شورا لرو
- د ملي پیوستون د پروګرا م له اهدافو څخه بې خبري او د معلوماتو کم والی
- د ښځو برخې اخیستنې ته اجازه نه ورکول: سره له دې چې تسهیل کوونکو غړو په ځنې سیمو کې په دې خبره ډیر ټینګار کړي دي
- د پروګرا م او تسهیل کوونکي عادي ګڼل

[۳۱] ای. غنی، ۱۹۷۸ کال، "اسلام او په افغانستان کې د دولت جوړونه." پرمختللی آسیایې څیړنې. ۲۷۱(۲)۱۲.
[۳۲] روی. د افغانستان کرنی سیاست...، ۶.

د سنايې انکشافي بنياد د موسسې يو پخوانی غړي[۳۳] په دې هکله داسې وويل: تر ټولو لا لمړی دليل چې خلک دا پروګرام نه غواړي د هغو مروجه قدرت لرونکو شتون دی چې د نوې شورا جوړول نه غواړي. د کابل دولايت د سروبي په ولسوالی کې د ټولنې ملک او نور مشران په دې باور وو چې دوی لا له مخکې يوه شورا لري نو د ملي پيوستون پروګرام هم بايد د همدې شورا له لارې کاروکړي او په هر ځای کې خلکو هماغه خپل ملک ته د تصميم نيونکي په توګه اشاره کوله نوله دې کبله به د ملک او مشرانو ادعا د پروګرام د ترديد، ټاکنو، اودښځو د برخې اخيستنې په ضد نوره هم قوي شوه، وروسته چې د ی‌نايې انکشافي بنياد موسسې دا تهديد هم وکړ چې د ټاکنو د نه کولو په صورت کې به دوی پروګرام بل ځای ته انتقال کړي او که ملک د دوی مشر هم وي خو سره له دې د پروګرام د تائيد لپاره ټاکنې ضروري دي نو په نتيجه کې دغه ټولنه په ټاکنو باندې را ضي شوه او هغه ملک په ټاکنو کې بريالی نشو.

همدارنګه د فارياب په ولايت کې يوې ټولنې چې د پروګرام په لمړي کال کې په پام کې نيول شوې وو د پروګرام له موافقت ليک څخه يې ډډه وکړه او د پروګرام په هکله يې عادی ګڼانې او داسې يې وښودله چې د ولايت له مرکز ميمنې څخه به د خپلې ټولنې دانکشاف لپاره بودجه تر لاسه کړي نو وروسته له يوه کاله دوی ته په ډاګه شوه چې دملي پيوستون د پروګرا م له کبله له دوی سره په نږدې ټولنو کې څومره انکشاف رامنځ ته شو او د هغو ښځو ژوند چې په پروګرام کې يې ګډون کړي وو څومره توپير وکړو نو يو کال وروسته بيا دوی د دوهم ځل لپاره غوښتنه وکړه چې د ملي پيوستون پروګرام دې د دوی په سيمه کې هم بشپړ شی او د پروګرام له ټولو اصولو سره يې خپل موافقت ښکاره کړ.اوپه نتيجه کې د اکتيډ موسسې نوموړې ټولنه په راتلونکي پروګرام کې شا مله کړه.

د افغا ن ايډ موسسې[۳۴] را پور ورکړ چې کله دوې د پروګرا م په لمړی کال کې د خلکو سره په تماس کې شول نو دوی لا له مخکې د ملي پيوستو ن د پروګرام په هکله غلطه انتباه درلوده، نوموړې موسسه وايې:

> څرنګه چې د ملي پيوستون پروګرام کاملاً نوی وو نو ډير خلک د حکومت د مقاماتو په ګډون د دې پروګرام په اهدافو نه پوهيدل. يو ولسوال د خپلې سيمې خلکو سره د کتنې په وخت خلکو ته داسې وويل چې موږ بايد دا اطمنا ن لاسته راوړو چې تاسو د ملي پيوستون په پروګرام کې شامل ياست ځکه چې ددې پروګرام له لارې هرې کورنی ته ۲۵۰ ډالره په نغد ډول ورکول کيږي او برسيره پردې يې زياته کړه چې دا د دوی حق دی چې حکومت يې بايد ورکړي.
>
> داسې خبرو موږ له ډيرو ستونځو سره مخامخ کړو، کله چې د افغا ن ايډ دموسسې کا رکوونکې سيمې ته ورغلل اود پروګرام مقا صد او اهداف يې خلکو ته تو ضيح کړل او دا يې څرګنده کړه چې هيڅوک به په نغد ډول پيسی لاسته نه راوړې نو په نتيجه کې د دغې ټولنې خلک ډېر مايوس او خفه شول.

د داسې غلطو معلوماتو له کبله افغا ن ايډ په ټولنه کې خپل اعتبار له لاسه ورکړو او ټولنی د پروګرام له منلو څخه سر غړاوی وکړو خو سره له دې د ډيرو ورکشاپونو په دايرولو او د ولسوال او نورو حکومتي مقا ماتو په منځ ګړي توب په پای کې په دې وتوانيدلو چې له ټولنې سره موافقت ليک امضا او له برخې اخيستنې څخه يې ځان مطمئن کړو..

[۳۳] ډی. اومری، چې اوس د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداری د محلی حکومت داری د څیړنو مرستیال دی، په ۲۰۰۳ کال کې د سنايې انکشافي بنياد کې د صلح د جوړونی لارښوونکې وو.

[۳۴] ام. سايمونس او ډبليو. اميری او ام هالو، د افغانستان د څيړنی او ارځونی د اداری د افغان ايد د ټولنی د انکشاف له ريس سره، د ملی پيوستون د پروګرام له انسجام کوونکې او منيجر سره، او د افغان ايد له عمومی دفتر سره مرکه، کابل افغانستان، د ۲۰۰۵ کال د فبروری د مياشتی ۲۳.

د پروګرام ټولو تسهیل کوونکو غړو د مرکو په وخت کې را پور ورکړ چې دوی د ښځو دبرخې اخیستنې په هکله کې له ډول ډول مقاومتونو سره مخامخ شوي دي مخصوصاً د پروګرام په لمړي کال کې دا ستونځه ډیره زیاته وه. او همیشه د تسهیل کوونکو غړوله خوا دښځو د برخې د نه اخیستو په صورت کې د پروګرام د نه اجرا خبر ورکړل شوی دی خو سره له دې نوموړې ستونځه د هر ولایت او ولسوالی په کچه په بیلا بیل ډول وه. ډیرو د انکشافي شورا غړو بیا داسې راپورونه ورکړي دي چې هغو ټولنو چې په لمړی مرحله کې د ښځو په اشتراک موافقت نه کاوو خو اوس دوی دښځو دشوراوو په جوړولو بوخت دې او د افغانستان د څیړنو او ارځونو اداره هم له ساحې څخه د کتنې په اساس دغه خبره تا ییدوي چې د پروګرام په لمړي کال کې د هرات ولایت په پرتله ننګرهار یو ډیر لږ شمیر ټولنو ښځینه شوراوې درلودې.

همدارنګه د سویدن[۳۵] او ډاکار[۳۶] موسسو داسې مثالونه بیان کړي دي چې د ښځو برخه اخیستنه ددې سبب شوې چې په ډیرو ځا یونو کې دملي پیوستو ن پروګرام دخلکو له خوا رد شي په دې منظور چې دا یو کمونستي پروګرام دی اودا خبره په خا ص ډول په هغو سیمو کې زیاته وه چې په مخکې رژیمونو کې یې ټولنیزه شوراوې درلودې لکه د داود خان په وخت کې. د ژغورنی بین المللی کمیټې[۳۷] بیا راپور ورکړ چې ځنې هغه مشران[۳۸] چې په ټاکنو کې نه دې بریالي شوي بیا داسې تبلیغ کوي چې دا د خلق دکمونستې ګروه یو پروګرام دی چې خلک عیسویت ته را بولي نو په داسې حالاتو کې د تسهیل کوونکو غړو یواځنۍ عکس العمل دا وو چې د خلکو سره د ښه تفاهم لاره اختیار کړي او خلک په دې راضي کړي چې دا د حکومت د ملي یووالي او پیوستون یو پروګرام دی حتی تردې چې د پورتنیو ادعاوو دنه سموالي په هکله له دیني ارشاداتو څخه هم د پروګرام په ګټه کار اخیستل شوی او د حکومت له نماینده ګانو څخه هم غوښتل شوی دي چې دملي پیوستون له پروګرام څخه ملاتړ وکړي او دې خبرې هم ډیر وخت په برکې ونیو چې ترڅو خلک دا و منې چې پورتنی ادعاوې سمی نه دي.

همدارنګه د براک[۳۹] موسسه (د بنګلادیش د کلیو د پراختیا کمیټه) په ننګرهار کې را پور ورکړ چې خلکو په لمړی مرحله کې د ملي پیوستون پروګرام ډیر عادي ګڼلو نوله دې کبله د پروګرام له جریان سره موافق نه وو او په پروګرام یې هیڅ ډول با ور نه درلوده او داسې فکر به یې کاوه چې دا خبرې سمې نه دې چې دې پروګرام ته په دې ډول بودجه ورکړل شي. دوی په حکومتي ادارو او په غیر حکومتې ادارو دواړو بې با ورې وو او ویل به یې چې داسې موسسې همیشه سیمې ته را غلي دي او د خلکو سره یې یوازې وعدې کړي دي خو د دوهم ځل لپاره بیا چا نه دي لیدلي خو کله چې د براک موسسې په هغو ټولنو کې چې د پروګرام منلو ته یې غاړه کښیښوده عملي کړ او د پروګرام لپاره یې لازمه بودجه تر لاسه کړه او د خلکو په ونډه یې شوراوې جوړې کړې نو بیا یو شمیر مشرانو د براک موسسې ته مراجعه وکړه او ویې غوښتل چې دوی ته دې هم انکشافي شورا جوړه شي نو هماغه وو چې خلک د ملي پیوستون د پروګرام په حقیقت پوه

[۳۵] ټورنګارډ، د افغانستان له پاره د سویدن د کمیټی د ملی پیوستون له منیجرانو سره د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری د ۲۰۰۵ کال د مارچ د ۱۹می نیټی مرکه.

[۳۶] ال. وان، د ډاکار د موسسی د ملی پیوستون له منیجر سره د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری مرکه، د ډاکار عمومی دفتر، کابل افغانستان، د ۲۰۰۵کال د مارچ د میاشتی اوله نیټه. .

[۳۷] ام. پیسون او ټې. عثمانی، د ژغورنی د بین المللی کمیټی د ملی پیوستون له منیجر سره د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری مرکه، د ژغورنی د بین المللی کمیټې عمومی دفتر، کابل افغانستان، د ۲۰۰۵ کال د فبروری د میاشتی ۲۰مه نیټه

[۳۸] د ژغورنی بین المللی کمیټې داسې راپور ورکړ چې دغه رهبران د ولسوال له خوا حمایه کیدل او بې له دی د ټولنی له خوا وټاکل شی د ولسوالي په شورا کی یې هغوی ته څوکې ورکړی وی. دغه کمیټې زیاته کړه چې دا ولسوال وو چې هر کله به ویرول کیدو او حتی یو ځل یې له تسهیل کوونکو غړو سره سختی هم وکړه.

[۳۹] ام. شاه جهان او اس. جي. حسین، د براک له ریس او د ملی پیوستون له منیجر سره د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری مرکه، د براک عمومی دفتر، کابل افغانستان، د ۲۰۰۵کال در فبروری د میاشتی ۲۸مه نیټه.

شول خو په خواشینی سره چې نومړو ستونځو دغه پروګرام له ډیر ځنډ سره مخامخ کړ چې په ټاکنواو د ټولنې د انکشافي پلان په جوړولو او د ښځو په ونډه اخیستنه یې بدی اغیزې پریښودلي.

## ۲. ۳. ۲. د ټولنې د انکشافي شورا جوړونه:

کله چې د ټولنې سره دپروژې په هکله موافقت لیک امضا شي نو تسهیل کوونکي غړي ټولنه دې ته هڅوي چې خپله انکشافي شورا جوړه کړي او دغه مرحله د مخالفت دراولاړیدو ځای دی چې مروجه او یا له مخکې موجود قدرت لرونکو سره منځ ته راځي، په لمړي سر کې خو د انکشافي شورا په جوړولو کې د نومړو له خوا له دې کبله مقاومت کیږي چې دوی فکرکوي چې دغه شورا به د دوی د قدرت د له لاسه ورکولو وسیله شي.

درې تسهیل کوونکې موسسې چې په شمال کې د ملي پیوستون پروګرام پر مخ بیایي لکه اکتید[۴۰]، آغا خان انکشافی شبکه[۴۱]، او یو ان هبیتات[۴۲]، درې واړو داسې راپورونه ورکړي دي چې داسې بیلګې شته چې په ټولنه کې قدرت لرونکو اشخاصو په فعالانه ډول دانکشافي شوراوو د جوړولو پر خلاف کارکړی دی او دا په عمومي ډول هغه کسا ن وو چې په ټولنه کې یې د پریکړه کولو واک درلود لکه مشرا ن، دېخوانیو شوراوو غړي، نوابان او کوماندانان په دې کوښښ کې وو چې پروګرام په بشپړ ډول بند کړي د آغا خان انکشافی شبکه وایي چې دوی دوه ځله د داسې شرایطو سره مخامخ شوی دي. او همدارنګه یو ان هبیتات راپور ورکوي چې په داسې شرایطوکې به دوی د ولسوال په مرسته مشران دې ته مجبورکړل چې د ملي پیوستون د پروګرام له بندیدو څخه مخنیوی وکړي.

څلور نورې موسسې لکه: افغان اید، براک، مدیرا[۴۳] او د سنایې انکشافی بنیاد[۴۴] داسې راپور ورکوي چې کله به له خلکو څخه غوښتنه وشوه چې بې له ټاکنو خپله شورا جوړه کړي نو ځنې مشران به په دې فکر کې شول چې ګواکې دشورا غړي مخکې له مخکې ټاکل شوی دي، خو سره له دې په زیاتو ځایونو کې په ټا کنو باندې ټینګار کیدو. د سنایې انکشافی بنیاد وایي چې داسې هم پیښه شوې ده چې له ټا کنو وروسته هغه غړي چې ټا کل شوي وو له لست څخه ایستل شوي او په ځای یې نو ر کسا ن دانکشا في شورا دغړو په توګه په لست کې شا مل شوی دي، او بیا په ځنې ځا یونو کې لکه ننکر هارچې د امنیتي ملحو ظاتو پر بنا ټا کنو ا مکا ن نه درلود نو دشورا غړي بې له ټا کنو په ګوته شوی دي.

په ټولنه کې د قدرت خاوندانو او پریکړه کوونکو هر کله دا تمه لرله چې په ټاکنو کې بریالی شي او که چیرې داسې به و نه شول نو بیا به یې د انکشافي شورا د جوړولو په هکله خنډونه را منځته کړو چې په دې هکله ډاکار، یو ان هبیتات او د بشری مرستو د انسجام اداره[۴۵] هم ورته راپورونه او مثالونه وړاندې کړي دي. د ډاکار موسسه وایي کله چې په لغمان کې یو ملک شورا ته ونه ټاکل شو نو د په ډزو کولو یي پیل وکړو او د یوه کس د ټپی کیدو سبب شو او بیا وروسته د ډاکار

---

[۴۰] اي. کرونوف او ای. کروماچر، د اکتید د ملی پیوستون د پروګرام له منیجر سره د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداری مرکه، د اکتید دفتر، کابل افغانستان، د ۲۰۰۴ کال د نومبر د میاشتی ۲۲ نیټه.

[۴۱] اس. میسون، د آغا خان د انکشافی شبکې د ملی پیوستون د پروګارم له منیجر سره د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری مرکه، د دغه شبکی دفتر، د ۲۰۰۵ کال د فبروری د میاشتی ۲۱ نیټه.

[۴۲] کی. ضعیفی، د یو ان هبیتات د ولوالی د ملی پیوستون د پروګرام له منیجر سره د افغانستان د څیړنې او ارځونی د اداری مرکه، د انجیل ولسوالی، هرات. او د جندر/جنسیت انسجام کوونکي، په هرات کې د یو ان هبیتات دفتر، د هرات ښار، افغانستان، د ۲۰۰۵ کال د جولای د میاشتی ۴ نیټه.

[۴۳] ام. بریلیت او صافی د مدیرا د ملی پیوستون د پروګارم تخنیکی مشاور او منیجر سره د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری مرکه، د همدغې اداری عمومی دفتر، کابل افغانستان، د ۲۰۰۵ کال د مارچ د میاشتی ۸مه نیټه.

[۴۴] زیت. شفیق، د سنایی د انکشافی بنیاد د ملی پیوستون منیجر، ۲۰۰۵ کال.

[۴۵] ای. ډبلیو. حمیدی او ډبلیو. فرهادی، د برشری مرستو د انسجام د اداری د ملی پیوستون د منیجر سره د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری مرکه، افغانستان، د ۲۰۰۵ کال د فبروری د میاشتی ۲۳مه نیټه.

اجتماعي کارکوونکې ولسوال ته ورغی ترڅو یې د ولسوال په مرسته ستونځه حل کړه. او همدارنګه د ډاکار موسسه زیاتوي چې یو نواب چې څلویښت کاله یې په خپله ټولنه کې واک درلود اوپه خلکو یې حکومت کاوه کله چې په ټاکنو کې بریالی نه شو نو ټاکنې یې ونه منلې او ولسوال څخه یې وغوښتل چې دی دې په شورا کې شامل کړی شي نو ولسوال هم دنوموړي په ګټه یو لیک ډاکارته را ولیږه خو سره له دې هم کله چې ډاکار ولسوال ته خبره روښانه کړه نو نوموړی له خپلې خبرې لاس په سرشو او ويې ویل سره له دې چې شورا په رسمیت نه پیژني خو کارونو ته به يې نو ر مزا حمت نه کوي. همدا رنګه یو ان هبیتات په هرات کې د همدا ډول حالاتو را پور ورکوي او وایي کله چې یو کوماندان چې هیله درلوده چې با ید بریالی شي خو په ټاکنو کې بریالی نه شو نو ډیرې ستونځی یې را منځ ته کړلی او بیا د دوهم ځل لپاره ټاکنې تر سره شوې خو بیا هم نوموړی کامیاب نشو خو دا ځل هغه قناعت وکړ او د انکشافي شورا پر ضد یې له خپل فعالیت څخه لاس په سر شو. او همدارنګه د بشری مرستو د انسجام ا داره هم څو ځله دکوماندانانو لپاره دوهم ځل ټاکنې ترسره کړي دي خو بیاهم دوی چا نه دي ټاکلي او په اخر کې مجبور شوي دي چې دټاکنو نتایجو ته غاړه کیږدي.

د دې لپاره چې په سیمه کې د مختلفو شورا ګانو ترمنځ کړکیچ را کم کړای شي نو د آغا خان انکشافی شبکې او افغان اید د سیمه ییزه او انکشافي شورا ګانو تر منځ د وظا یفو تقسیم وکړ او دا یې خلکو ته څرګنده کړه چې دټولنې انکشافي شوراګانی یوازی دپرمختګ او انکشاف لپاره دي لکه چې د آغا خان انکشافی شبکه په خپل را پورکې داسې وایي:

> داسې یو څو قضیې شته چې د سیمه ییزه شوراګانو غړي چې په عین حال کې د انکشافي شورا غړي هم وو په خپله نماینده ګی یې د سیمه ییزه شورا د غړیو په توګه ډیر اصرار کولو خو دا خبره موږ ورته په پوره ډول څرګنده کړه چې دا دوه ډوله شوراګانې د وظیفې پر بنیاد کاملاً ځانګړې دندې لري او د ټولنې انکشافي شورا دپروژو د جوړولو او عملي کولو دنده پرمخ بیایي. نو له دې کبله د سیمه ییزه شورا غړیو دې ته ترجیح ورکړه چې په ټاکنو کې ونه دریږي[46] خو په راتلونکې کې کله چې دټولنې انکشافي شورا بشپړ واک په لاس کې ونیسي نو په دی مرحله کې به په یقینې ډول زیاتې ستونځې را منځ ته شي سره له دې چې په اوسنې حال کې خلک د ټاکنو له دیموکراتیک جریا ن څخه قدرداني کوي.[47]

دافغان اید دراپور پر بنسټ داسې هم شوی دي چې یوشمیر کوماندانانو د انکشافي شوراګانو په فیصلو پوره اغیز درلوده او کوښښ یې کړی چې پروژې داسې ترتیب شي چې زیاته ګټه یې نوموړو کوماندانانو ته ورسیږي نو په دې صورت کې هغه پروژې چې غوښتنه یې له دوو څخه زیاتو ټولنو کړی ده ترشک او ګمان لاندې راغلي دي او د مرور په وخت کې د ملي پیوستون د مشاورینو له خوا ورته د نه منلو ځواب ویل شوی دی.

دافغانستان د څیړنې او ارځونې د اداری څیړنې هم په فاریاب او ننګرهار کې ښیي چې د انکشافي شورا غړو کومو چې په ۲۰۰۵ کال کې دپارلمان لپاره کاندید وو دا هڅې کړي دي چې خلکو ته د وعدو په ورکولو او دپروژو په ټینګار خپل نفوذ په ټولنه کې زیات کړي.

---

[46] د ملي پیوستون د پروګرام له پاره د ملی اولویتونو د برنامې د کړنلارې د اسنادو له مخې چې د JPU له خوا د ۲۰۰۴ کال د جون په میاشت کې تیار شوی دی: د بې میله کاندیدانو د نه انتخابیدو له پاره، که چیرې هغوی وټاکل شي نو کولای شي ‹د انتخاباتو تر مخه› چې داسې څرګنده کړی چې هغوی د دغه موقف د قبلولو له پاره تیاری نه لری. د ټولنې ټول غړی د کاندیدیدو مستحق دی خو کولای شي چې له دغه څخه لاس هم واخلي. (p.۵).

[47] میسون، د آغا خان د انکشافي شبکې د ملي پیوستون له منیجر سره د افغانستان د څیړنې او ارځونې د اداری مرکه، ۲۰۰۵ کال.

### ۲. ۳. ۳. دمداخلاتوسره چلندکول:

د ملي پيوستون په پروګرام کې د مداخلاتو سره د چلند لارې او د ستونځو حل موقتي ښه درلودلې ده اود سيمه ييزه قدرتونو سره دا توانمندی شته چې په هروخت کې وغواړی دټولنې شورا ته ستونځې پيداکړي او د ولسوال يا والي د تبديلي په صورت کې او يا د ټولنې د انکشافي شورا دنويو پروژو لپاره ستونځی را ولاړې کړي. موږ ګورو چې د ټولنې انکشافي شورا دپرمختيايي کارونو بر سيره د ټولنې د منازعاتو حل ته هم مخه کړې ده حال دا چې نوموړی رول د سيمه ييزه شورا ګانو وو او يا دولسوالی او ولايت په کچه دټولنې د نماينده په توګه رول لوبوي نو که د ټولنې انکشافي شورا داسې پرمختتګ وکړي نو بې له شکه به د قدرت د اوسني جوړښت او د ملي پيوستون د پروګرام دشورا دجوړښت ترمنځه يوکړکيچ را شي چې په ذکر شويو طريقو به دداسې ستونځو حل په اوږده راتلونکې کې اسانه نه وي. د ستونځو د حل د سطحې چلند پرځای دا غوره ده چې ديوې داسې ستراتيژی څخه کار واخيستل شي چې په ټولنه کې دقدرت اوسنې جوړښتونه صحنې ته را وړل شي او هغوی ته په پروګرام کې فعاله ونډه ورکړل شي او هغه رول هم ورته قايل شي چې د صلحې په وخت کې يې په ټولنه کې درلود.

د ژغورنی بين المللی کميټه[48] په دې هکله له يوې ښې ستراتيژۍ څخه کار اخيستی. دی هغه دا چې دوی د پروژو په هکله د مشورې لپاره ټول هغه مهم او کليدي کسان را غوښتلی دی او له هغوی څخه يې مشوره ترلاسه کړې ده، بيا اکسفام[49] په دې هکله داسې اغيزمن چلند کړی دی:

> د دايکوندي په ولايت کې موږ وليدل چې دټولنې انکشافي شورا په ټولنه کې نفوذ لرونکې کسان له ياده نه دي ايستلي که څه هم دوی دټولنې د انکشافي شورا غړي نه وو خو مخکې له دې چې دپروژې په هکله څه پريکړه وشي له دوی سره لازمه مشوره ترسره شوی ده او همدارنګه دپروژې په هکله له فيصلې څخه مخکې يا وروسته دټولنې ټول وګړي را غوښتل شوي او ديوې غونډې په شکل په ګډه سره هوډ شوی دي او هغه خلک لکه ارباب، زميندار، او ملا دپروژې د اجراکولو اساسي لوبغاړي دي چې دا رول دټولنې له خوا ورته ورکړل شوی دی.

د ژغورنی بين المللی کميټه د يوه مثبت قدم په پورته کولو د ملي پيوستون د پروګرام عملي ښې ته داسې پرمختتګ ورکړ، په د ې مفکوره چې له خلکو څخه د پروګرام په هکله څنګه لازمه مشوره ترلاسه شي دغې کميټې د ولايت په کچه دوه مشورتې شوراګانې جوړې کړې چې يوه يې د مشرانو شورا او بله يې د علما و شورا وبلله، د مشرانو شورا ته يې والي، ولسوال، په نو رو وزارتونو پورې مربوطې ادارې، دلويې جرګې غړي، قومي مشران، جها دي کوماندانان او درې کسان د علماوو د شورا څخه دعوت کړل او نو موړې شورا ته يې يو دوه ورځنۍ ورکشاپ جوړکړو چې په ورکشا پ کې وروسته له معرفي څخه دوی خپل وخت په دې موازی کړ چې د ملي پيوستو ن د پروګرام په هکله او د هغه موافقت ليک په اهميت او اړونده مسؤليتونو پوه شي. په دې ورکشاپ کې دوی ته دا موقع هم په ګوتو ورغله چې خپل نظريات د ملي پيوستون د پروګرام او د هغه د څرنګوالي په هکله او د هغو ارزښتونو په هکله چې په ټولنه کې موجود دي ورکړي، او نوموړی نظريات په هغه موافقت ليک کې چې د ټولنې او تسهيل کوونکې غړي او کليو د بيا رغونی او پراختيا وزارت په منځ کې پيښيږی ځای پر ځای شي. د ورکشاپ په دوهمه ورځ دوی ته وخت ورکړ شو چې د پروګرام په عملي ښه خپلې

---

[48] عثمان او پيسون، د ژغورنی د بين المللی کميټې د ملی پيوستون د پروګرام له منيجز سره د افغانستان د څيړنی او ارځونی د اداری مرکه، ۲۰۰۵.

[49] اس. ولی، د اکسفام د ملی پيوستون له پخوانې منيجر سره د افغانستان د څيړنی او ارځونی د اداری مرکه، د همدغی اداری د کابل دفتر، کابل افغانستان ، د ۲۰۰۶ کال د جنوری د مياشتی ۶مه نيټه.

مشورې ورکړي لکه د کليو ټاکل او داسې نور چې په نتيجه کې دوی وتوانيدل چې د خپل ولايت لپاره د ملي پيوستون د پروګرام يو عملي د کار پلان جوړکړي.

د علماوو شورا ته يوه خاصه دنده دملي پيوستون د پروګرام په هکله وسپارل شوه هغه دا چې له دوی څخه وغوښتل شول چې پر مذهبي بنياد د پروګرام په هکله خپل نظريات ووايي او همدارنګه د ښځو ونډه اخيستنه په پروګرام کې د مذهب پر اصولو تشريح او توضيح کړي او برسيره پر دې د علماوو شورا ته دا د نده هم ورکړل شوه چې دوی خپل نظريات د بشر د حقوقو د نړيواله اعلاميي، د بشر د حقوقو او د تابعت اعلاميي، او د اسلام له کبله د بشر د حقوقو د اعلاميي په باره کې خلکو ته ووايي. او په پای کې د علماوو شورا يوه بله داسې وړه کميټه جوړه کړه چې د مذهبي امورو په هکله يوه خاصه کميټه وبلل شوه او د نومورې کميټې مسؤليت داشو چې امامان او ملايان ټولنې ته واستوي تر څو د ملي پيوستون د پروګرام په هکله پر مذهبي بنياد خلکو ته لازم معلومات ورکړي او ټولنه دې وهڅوي چې د تسهيل کوونکې موسسې سره د انکشافي شورا په جوړولو کې او همدارنګه په ټاکنو کې مرستې وکړي.
دمذهبي امورو په هکله دخاصې کميټې دندې په لاندې ډول وې:

- د پروګرام دتسهيل کوونکو غړو سره مرسته تر څو دانکشافي شوراګانې په دی وحڅوی چې
  - ✓ د ټولنی غړو ته:
    - دمذهبي ارزښتونو په پام کې نيولوسره دشورا دجوړولو اهميت
    - د شورا دنده
    - دشورا د جوړولو ګټې او
    - دټولنې په توانمندکولو کې د شورا اغيزې
  - ✓ د ټولنی خلک تشويق شی چې د ملي پيوستون د پروګرام له لارې د خپل ويجاړ وطن د بيارغونې په پروسه کې برخه واخلی
  - ✓ د ټولنی په شورا کې د ښځو د برخه اخيستنی رول او په انسانی کارونو کې د ښحو د غړيتوب اهميت تشريح کړی
  - ✓ د اسلامی ارزښتونو او د مثال په ورکولو سره د ښځو د برخی اهميت تشريح شی
  - ✓ روښانه شی چې څنګه محمد (ص) د خپلو ميرمنو څخه نظر اخيستلو او په بيلا بيلو شرايطو کی يې له هغوی سره مشوره کوله
- د انکشافي شورا د جوړولو په وخت کې د منازعاتو او ستونځو د حل لپاره چارې ښودل
- د شورا او د پروګرام په هکله د ټولنې د غړوله خوا د شکايتونو څيړنه
- د پروګرام منيجرانو او نورو رسمي غړو ته داسی مشوره چې په خا صو شرا يطو کې شورا څنګه جوړه وساتی

ترهرڅه دمخه د ژغورنی بين المللی کميته د هغوټولنو په باره کې په کوموکې چې دملي پيوستون پروګرام عملي کيدو يوه درسته مطالعه وکړه چې په نتيجه کې يي په ټولنه کې د نفوذ خاوندان، کوماندانا ن، بې وظيفې ځوانا ن، کونډې او داسې نور په پوره ډول تشخيص او تفکيک کړل او دا کار دوی د دې لپاره وکړ چې د پروژې واقعي ګټه اخيستونکي وپيژنې.ترڅو يي د پروژې په عملي جريان کې داخل کړي او دا هم څرګنده شي چې څوک دملي پيوستون په پروګرام باندې مثبت او منفي اغيز لري.

وروسته بیا د ژغورنې د بین المللی کمیټې پورتنیو ذکرشویو شوراګانو ته یعنې د مشرانو او د علماوو شوراته مراجعه وکړه او ورڅخه ویې غوښتل چې هره شورا دې د ۲۴ کسانو لست دوی ته ورکړي ترڅو نوموړي کسان د همدغې کمیټې سره دملي پیوستون په پروګرام کې کا ر وکړي. کله چې کسان د نوموړو شوراګانو له خوا معرفي شول نو دغې کمیټې له هغوی څخه د تحصیلاتو او د کار د تجربې پاڼې/سی وی وغوښتلې او په دې ډول یې ټول هغه کسان چې د ولایت په کچه د ملي پیوستون د پروګرام لپاره اړتیا وه د وروالی پر بنسټ مقرر کړل لکه څرنګه چې شوراګانې د ټول ولایت په کچه وې نو کسان هم په همدې کچه په د ندو ګمارل شول چې البته وروسته له مرکو څخه هغه کسان چې تعلیم یې درلود او د ملي پیوستون د پروګرام د پرمختګ لپاره مناسب وو مقررشول. او په دې توګه دغې کمیټې خپل ۹۹ فیصده کارکوونکي له هغو ولایتونو څخه چې کار یې پکښې کاوه وټاکل. چې په نتیجه کې وتوانیدل چې داسې مشهور او د اعتبار وړ خلک ولري چې پروګرام په ډېره ښه توګه ټولنې ته معرفي او د خلکو د باور وړ وګرځي. او همدا رنګه دسیمه ییزه شورا غړیو ته هم د پروګرام په ټریننګ کې برخه ورکړای شوه ترڅو پروګرام په ښه ډول خلکو ته توضیح کړي. څرنګه چې د پروګرام په هکله د ټولنې د بیلا بیلو اړخونو سره مشوره شوې وه او ونډه یې درلوده نو هیڅچا دا کوښښ ونه کړ چې پروګرام په خپله ګټه تما م کړي.

مخکې له دې څخه چې د پروګرام په هکله موافقت لیک امضا شي له ټولنې څخه دا غوښتل شوي چې هغه ټول ارزښتونه چې دوی ته غوره دی په موافقت لیک کې ځاي ورکړي، لکه پشتونولي او داسې نور.

د ټاکنو په اوږدو کې بیا ملایانو مرسته کوله څرنګه چې دوی د خپل اعتبار او بې طرفی له کبله چې په ټولنه کې یې لري نو د خلکو د باور وړ وو. او همدارنګه ملایانو د هغو کسانو سره چې لیک او لوست یې نشوکولا د رایې په اچولو کې مرسته کوله، او د ټاکنو د نتایجو اعلان او ټاکل شوې شورا ته د قسم ورکولو مراسم هم د دوی په واسطه ترسره کیدل. برسیره پردې داسې هم شوی دي چې په پروګرام او یا له ښځو څخه د عکسونو د اخیستو د اعتراضا تو په صورت کې ملا یا نو ډېر زیا ت کمک کړی دی او داسې ستونځې یې له مخې لرې کړېدي.

همدا رنګه د ژغورنې بین المللی کمیټې د حساب اخیستلو داسې یوه طریقه ایجادکړه چې په هغه کې په ټولنه کې ټولو د نفوذ خاوندانو ته لکه ملا، کوماندان، ملک او نو ر هغه کسان چې په شورا کې نه وو ټاکل شوي د مشورې د یوه ټیم په بڼه داسې رول ورکړل شو چې د محاسبې او تدارکاتو له جریان څخه څارنه وکړي او همدارنګه شفاهي را پور ورکړي نو په دې ډول هغه ټول کسان چې د ټاکنو څخه پاتې وو دا موقع ورکړل شوه تر څو په دې ډول په پروګرام کې برخه واخلي او خپل ځان د ملي پیوستون له پروګرام څخه لرې احساس نه کړي او له بلې خوا څخه بیرته هغه پخوانۍ رول چې د صلحې په وخت کې د ټولنې لار ښوونه وه ترلاسه کړي.

د ټولنې له خوا د ملي پیوستون له پروګرام سره د همکاری او په هغه د باور یوه ښه بیلګه دا هم ده چې د پروګرام د ټریننګ او کورسونو لپاره د ځای برابرول وه او د نجات د بین المللی کمیټې د راپور په مطا بق ۴۰ فیصده دانکشا في شورا رهبري نوي کسا ن جوړوي سره له دې هم دوی ډاډه دې چې دا به یوه بریالي شورا وي لکه په هرات کې دشورا یوغړی داسې وایي چې دملي پیوستون په پروګرام کې موږ په دې وپوهیدو چې موږ دا حق لرو چې د خپل ځان او مملکت په هکله پریکړه وکړو.

### ۲. ۳. ۴. د بین المللی تجربو پر بنسټ: دقدرت مروجه جوړښتونه:

**د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداری لمړنی لاسته راوړنې ښيي چې دیمکراتیکه پروسه کولای شي چې د قدرت پخواني جوړښتونه د ملي پیوستون د پروګرام په واسطه متحد او یو ځای کړي هغه څه چې په مطمئن ډول ویلای شو دا دي چې د حکومت جوړښت که څه هم پایداره، قانوني او فعال هم وي خوکه چیرې د قدرت اوسنې جوړښتونه ورسره یوځای نه وي نو داسې یو حکومت به په هیڅ ډول کامیاب نه وي.**

**د اندونیزیا، شرقي تیمور، او ملاوي تجربې دا ډول مثالونه را په ګوته کوي چې کله سیمه ییزه حکومتونو هغه د قدرت پخواني جوړښتونه له پامه وغورځول نو له دې کبله سیمه ییزه ادارې په دې ونتوانیدلې چې په ټولنه کې دقا نونیت او پوره صلاحیت څخه برخه منې وي او بر سیره پر دې سیمه ییزه حکومتونه او ادارې په اندونیزیا او شرقي تیمورکې دحکومت دنادرست چلند د تاریخ پر بنیاد له مقاومت سره مخا مخ شوې.**

**پخواني او مروجه قوانین دیو معنی لرونکي مفهوم په ډول د سیاسي عمل[50] یوه مهمه وسیله ګڼل کیږي. په اندونیزیا کې دټولنې په کچه یو شمیر اوسیدونکي چې د سیمه ییزه حکومت په جوړښت کې یې مهم روایات درلودل له پامه وغورځول شول او د حکومت په جوړښت کې له نومورو روایاتو څخه په ګټه اخیستنې چې د جاوه د قبیلې دکلتوري حاکمیت شکل وو په بشپړ ډول بندیز ولګید. او همدارنګه هغه کسان کوم چې د حکومت له دې تګ لارې څخه یې حمایت و نکړ د عمومي پریکړه کولو، عامه منابعو، او دانکشافي پروژو[51] د درلودلو له حق څخه بې بهرې شول او نتیجه دا شوه چې د خلکو او حکومت په منځ کې رابطه ضعیفه شوه او له دې کبله د حکومت د ټولو انکشافي پروژو د بشپړولو په مخکې خنډ را منځته شو او په وروستنې تحلیل کې د داسې یو ضعیف سیمه ییزه حکومت درا تګ سبب شو چې هیڅ اثرات یې نه درلودل.**

[50] اي. بیبینګټن، ال. درم وان، اې فهیمی او ګو ګنهم، ۲۰۰۴ کال، "د کلیو سیاست، کلتور، او د ټولنی له خوا د انکشاف فعالیتونه: د اندونیزیا له تجربی څخه،" د انکشافی مطالعو پرمختګ، ۱۹۱:(۳)۴

[51] بیبینګټن، د کلیوال سیاست...، ۲۰۱.

**دوهم چوکاټ: دټولنې د انکشافي شورا د غړو تنخا:**

د ټولنې د انکشافي شورا د غړو لاسته راوړنې او د ټولنې تيارول د پروژو د اجرا کوونکي په توګه دکتنې وړدي که چيرې د ټولنې د انکشافي شورا غړو خپل وخت دې پروژو ته نه واى وقف کړاې نو دپروژو په اجرا کې به ځنډ پيښ شوى واى او هم به د نوموړې شورا قانونې بڼه ضعيفه شوې واى نوله دې کبله دانکشا في شورا غړو ته د تنخا دورکړې موضوع تراوسه تر بحث لاندې پاته شوى ده.

تر اوسه د ټولنې د انکشافي شورا غړو د ملي پيوستون په پروګرام کې په افتخاري او د رضاکارو په ډول کار کړى دى، او يوازى د دوى د سفر لګښتونه ورته ورکړل شوى دي او بيا د يو څو تسهيل کوونکو غړو له خوا د دوى د انکشافي کار په بدل کې يو څه امتيازات ورته ورکړل شوى دي، دا له دې کبله چې په ټولنه کې انکشافي کارونه ډير وخت غواړي او ددې سبب کيږي چې دانکشافي شورا دغړو د عايداتو د لاسته راوړلو ټول وخت په انکشافي فعا ليتو نو کې ولګيږي. د براک د موسسې د څرګندونو په اساس چې د افغانستا ن د څيړني او ارځوني ادارى کتنې هم نوموړې څرګندونې تا ييدوي له ٪۴۰ - ٪۳۰ د شورا ټاکل شوي غړي په ټولنه کې له پا مه غورځول شوي کسان جوړوى چې مخکې يې هم په سيمه ييزه قدرت کې کوم رول نه درلوده، او دا ځکه چې دټولنې په انکشا في شورا کې برخه اخيستل يوازې د قدرت لرونکو او ثروت مندانو کارنه دى چې په انکشافي شورا کې د رضاکار په توګه کار وکړي نو له دې کبله د انکشافي شورا غړوته بايد يو څه امتيا زورکړل شي چې خپل اړتياوې ورباندې پوره کړي او همدارنګه د هرات په ولايت کې يوه انکشافي شورا ديوې لويې غونډې په ترڅ کې دا غوښتنه وکړه چې د انکشافي شورا غړو ته دې امتيازورکړل شي.

تسهيل کوونکو موسساتو هم د مرکو په ترڅ کې داسې څرګنده کړه چې ددې لپاره چې انکشا في شورا ګانې ثبات او پايداري ولري نو دا خلا بايد داسې له منځه يوړل شي چې هغه کسان چې د خپلو ټولنو لپاره کا ر کوي په اقتصادي ډول مجازات نشي او همدارنګه که نوموړيو ته امتياز ورکړل شي نو د تسهيل کوونکو غړو د وتلو په صورت کې به انکشافي شورا ګانې په ټولنه کې فعاله پاتې شي او د نورو کومکونو او پروژو د جلبولو هڅې به وکړي، سره له دې چې د پروګرام د کړنلارى منوال په دې هکله پټه خوله پاته شوى دى خو د ژغورنى بين المللى کميټې بيا د پاليسى تر پوره روښانولو پورې يو قدم پورته کړى او هغه دا چې هغه فعاله د انکشافي شورا غړي يې د مربى او تسهيل کوونکو په توګه د تنخا په بدل کې ګمارلي دي چې دې کار له يوې خوا څخه د پروژو څخه دکتنې او مشاهدې امکانات زيات کړي او له بلې خوا څخه يې په موثر ډول د پروژو په عملي اجراکې مرسته کړي ده.

همدارنګه په پاکستان کې هم د متحده کونسل غړو ته افتخاري تنخا ورکول کيږي ددې لپاره چې هغه وخت چې دوى يې ټولنې ته د خدت لپاره لګوي جبران شې، د يو والى شوري غړي چې د کليو او بانډو په کچه کار کوي، له نارينه او ښځينه ټاکل شويو نماينده ګانو څخه جوړ دى چې د ښځو برخه پکښې ٪۳۳ ده. د يو والى شورا مهمې دندې له مکتبونو، روغتياييي مرکزونو، او سيمه ييزه مالياتې مرکزونو څخه کتنه او نظارت کول دي. د افتخاري معاش په هکله چې کومې ستونځې ته چې د ۲۰۰۵ کا ل دما رچ د مياشتې د جندر په کنفرانس کې په اسلام آباد کې اشاره وشوه هغه د نارينه او ښځينه د افتخاري معاش توپير وو چې د شورا نارينه غړي ته ۱۰۰۰ پاکستا نى روپى او ښځينه ته ۵۰۰ روپې ورکول کيدې حال دا چې بلوچستان يو ازنۍ ايالت وو چې د ښځينه او نارينه لپاره د تنخا کوم تفاوت نه ليدل کيدو يعنې دواړو نارينه او ښځينه غړوته ۱۰۰۰ روپى معاش ورکړل شوى دى. د ذکر شوي تنخا د تفاوت استدلال په دې کې وو چې دنارينه کورني اړتياوى د ښځو په پرتله ډيرې دي ځکه چې نارينه دکورنى لپا ره د عوايدو يوازنى منبع دى. خو دا خبره چې ښځه په کومه اندازه د کورني ضروورياتو او معيشت په هکله څه کولاى شي، او د هغې اقتصادي ارزښت څه دى په پام کې نه وو نيول شوې.[1]

په افغانستان کې بيا د ملي پيوستون په پروګرام کې د ژغورنى بين المللى کميټې يوازى د شورا نارينه غړوته له دې کبله چې سفر کولا ى شي او له هغو پروژو څخه چې نارينه ورباندې کارکوي کتنه کولاى شي تنخا ورکوي. حال دا چې د شورا ښځينه غړي له دې پروسې څخه ليرى پاتې دي. د باميانو په ولايت کې له ښځينه شورا څخه د کتنې او مطالعې په اساس ډير شمير ښځينه غړې هم خپل قيمتې وخت دانکشافي شورا په دندو کې لګوي او له خپلو کورني فعاليتونو څخه ليرې دي سره له دې چې دوى شايد د اکمالاتو لپاره سفر و نشي کولاى خو دوى خپل وخت د ښځو لپاره د پروژو په پلان کولو او نورو مجلسونو کې لګوى. که د امتيازاتو او تنخا ورکول د شورا د غړو دوخت د جبرا ن لپاره وي لکه چې د ژغورنى کميته څرګندوي نو د ښځو د وخت ضايع کيدل هم بايد په پام کې ونيول شي او که چيرې د دوى لپاره کوم افتخاري معا ش په پلان کې وي نو بايد نارينه او ښځينه دواړو ته يوشان وټاکل شي چې په دې ډول به د ښځو د تشويق سبب شي او په ښه توګه به وکولاى شي چې د نارينه په انډول په فعالانه ډول خپلې دندې په ټولنه کې تر سره کړي. سره له دې په عمومي توګه ويلاى شو چې د انکشافي شورا غړوته د امتياز او تنخا ورکول د انکشافي فعالينو له خوا تر بحث لاندې يوه موضوع ده ځکه دوى فکرکوي چې د امتياز ورکول به ټاکل شوي مشران را کم او دټولنې په مسؤليت باندې اغيز وکړي نو له دې کبله بايد د امتياز په ورکولو باندې بايد زيات غور وشى تر څو په ټولنه کې حساب ورکول يقينې شي.

[1] اس. اس. علي، او اف. ايفنډى، د جندر مساوات او د ښځو تقويه کول، د جند د اصل نکرى او د زرکلن انکشافې هدف کانفرانس بحث، اسلام آباد د ۲۰۰۵ کال د مارچ د مياشتې ۲۹مه نيټه، هغه معلومات چې د يووالى د شورا له ميشته غړو سره د مباحثې له لارى راغونډ شو.

په شرقي تیمور کې هم د حکومت نوي سیستم د ټولنې د هغو مهمو او مروجه قوانینو څخه چې په ټولنه کې یې عملي بڼه هم درلوده سترګې پټې کړی[۵۲] او هغه څه چې باور او اعتماد په نسبي او فامیلي سلسله باندی وو د مرکزي حکومت له خواد دیمکراتیکې پروسې د ستراتیژی له کبله رد شول نو له دې کبله حکومت په سیمه ییزه کچه قانونیت ونه موند. څرنګه چې په تاریخي لحاظ هم د شرقي تیمور وګړي د سیمه ییزه حکومت په جوړښت باور نه لري نو له دې کبله هغه بین المللي هڅې چې د ټولنې د مروجه اصولو شمولیت د حکومت په جوړښت کې وو له ناکامی سره مخامخ شوې.[۵۳]

په ملاوي کې بیا بر خلاف په سیمه ییزه کچه حکومت ډیر مؤثر وو ځکه دوی خپل سیمه ییزه د قدرت جوړښتونو ته د سیمه ییزه ادارې په جوړښت کې پاملرنه وکړه او سیمه ییزه مروجه مشران او لارښوونکي یې دحکومت په جوړښت کې شامل کړل او له دې کبله حکومت ته د قانونیت او د پروګرامونو د اجرا زمینه برابره شوه او نه یوازی دا چې سیمه ییزه مشرانو سیمه ییز حکومت ته قا نوني بڼه وروبخښله خو دټولنې او حکومت تر منځ د یو ې اسا سي را بط په توګه هم خپل رول ترسره کړ.[۵۴]

په افغانستان کې د ملي پیوستون د پروګرام اساس هم هغه پخوانی او مروجه شکل د حکومت دی د مثال په توګه لکه جرګې او شوراګانې خو سره له دې هم هغه کسا ن چې په نوموړی پروګرام کې دټولنې د انکشا في شورا غړي دي ټول یې هغه پخواني مشران نه دي له دې کبله یو نوی قدرت د جوړیدو په حال کې دی او هغه له پامه غورځول شوي کسان دا توان مومي چې مرکز ته ولاړ شي او د هوډ کولو په مجلسونو کې برخه وا خلي خو بیا یو شمیر پخواني مشران او مروجه قدرت لرونکي د دې پروسې څخه بهر پاته دي چې باید دوی ته هم په جدي ډول پاملرنه وشي څرنګه چې بین المللي تجربې دا را په ګوته کوي چې د ملي پیوستون د پروګرام موثریت او ټینګښت په دې پورې اړه لري چې انکشافي شوراګانې د ټولنو سره او ټولنې دانکشافي شوراګانو سره په کومو ښو روا بطو تړاو لري او څرنګه کیدای شي چې هغه ټول په زړه پورې ارزښتونه د یوه سیاسي عمل د ودې سبب شي، او په نتیجه کې کلیدي نظر دا دی چې د ټولنې مروجه قوانینو ته د حکومت په رسمي جوړښت کې ځاي ورکړل شي.

**۲. ۴. لنډیز:**

دهغو لارو او چارو په کارول چې په موقت ډول د اوسنې قدرت لرونکو او نوي قدرت یعنې دټولنې د انکشافي شورا ترمنځ ستونځې کمې کړي ممکن په اوږد مهال کې موثره ثابتې نشي او دا هم باید په یاد ولرو چې د ملي پیوستون د پروګرام موجودیت په یوه سیمه کې او د هغه د موثریت د ښوونې په نتیجه کې له پروګرام سره مقاومت را کم شي خو په نوموړو دواړو صورتونو کې تراوسه هغه ستونځې چې د ټولنې انکشافي شورا او تسهیل کوونکي غړي ورسره مخامخ دي چې له اوسنیو قدرت لرونکو سره منازعه ده نده حل شوې. نو د داسې فعاله ستراتیژي په کارول چې د قدرت اوسنې جوړښتونه صحنې ته راولي او دملي پیوستون په پروګرام کې ورته برخه ورکړل شي او هغه رول ورته ورکړل شي چې د صلحې په وخت کې یې په ټولنه کې درلوده نو په دې صورت کې به معنی لرونکی قانونیت په ټولنه کې منځ ته را شي او دملي پیوستون د پروګرام هدفونه چې د یو قانوني او فعال دولت جوړول دي په لاس راشي.

دټولنې د انکشافي شورا کارکوونکو ته د یو وړوکي امتیاز په ورکولو سره به د دوی د مسؤلیت احساس د ټاکل شوي رول په مقابل کې زیات کړي او د دوی د کار موثریت به د ټولنې په انکشافي پروژو پریوزي او همدارنګه به د دوی په فامیلونو

---

[۵۲] هوهی، په شرقی تیمور کې د نمونو مخالفت
[۵۳] په همدغه خپرونه کې. ۵۸۶.
[۵۴] ام. کې. حسین، ۲۰۰۳ کال، "د ټولنی په پرمختګ کې د مالا وی د محلی حکومت برخه،" پرمختګ او جنوبی افریقا، ۲۸۰(۲)۲۰.

**هم فشارکم شي، او په ټولنيزه کارونو کې به يې د برخې اخيستنې کچه لوړه شي، او همدارنګه د ټولنې دپروژو د اجراکوونکې په توګه به د ټولنې د يو مشوره کوونکي رول ولوبوي او په پای کې به امتيازورکول د دې سبب شي چې دوی خپلې ټولنې ته په يقيني ډول حساب ورکوونکي وګڼل شي.**

## ۳. دښځو د برخه اخيستنې شکلونه:

**د مشرتابه يو بل ډول چې د ملي پيوستون په پروګرام کې په تدريجي ډول ټولنې ته لاره مومي هغه د ښځو مشرتوب دی، د ښځو شموليت به په انکشافي شورا کې دوی ته د افرصت ورکړي چې خپل نظريات بيان او د انکشاف لورته لاره ومومي، سره له دې چې د ښځو نظرياتو او فيصلو ته قانونيت ورکول، او د معلوماتو د حق لرل له يو شمير ستونځو سره مخامخ دي په داسې حال کې چې بين المللي ټولنې د ښځو حقوقو او حالت ته په افغانستان کې خاص پام لري. خو د افغانستان ادارې او پروګرامونه لکه د ملي پيوستون پروګرام په خاص ډول د نوموړو ستونځو سره څه چلند نه دی کړي. په پروګرامونو کې د جندر دشموليت دکموالي يو دليل شا يد داوي چې په افغانستان کې اکثره حکومتي مقامات د جندر روش ته په يو مبهم او نظري ډول ګوري[55] او همدارنګه هغه طريقې چې د جندر په هکله د بين المللي ټولنې له خوا وړاندې شوي دي ممکن د افغانستان د حکومت له نظره بې ربطه او مبهمې وي نو له دې کبله ټولنې ته د پوهې او تطبيق وړ نه ښکاري نو ځکه په يو ځل د ټولنې له خوا د رد ځواب ورته ويل کيږي.**

> **دريم چوکاټ: بين المللي تجربه او دښځو برخه اخيستنه :**
>
> **بين المللي تجربه دا را په ګوته کوي چې په کومو ځايونو کې چې پروګرامونه توانيدلي چې په جندر پورې حساس روشونه تطبيق کړې نو په اوږد مهال کې په متداوم ډول د پانګې اچونې د لوړوالې سبب شوی دي. ترکومه ځايه چې د ملي پيوستون او د عاجلی ګمارنی ملی پروګرامونه د ټولنو د شموليت او د نارينه او ښځو د برخې اخيستنې غوښتنه کوي نو په خاص ډول د ټولنو پوهاوی د جندر په عملي نورمونو باندې د پيل يوه مهم او اساسي ټکی ګڼل کيږي.**
>
> **په دواړو پروګرامونو کې د جندر د موضوعاتو په پام کې نيول نه يوازې د پروګرام بنسټ ته عملي مفهمو وربخښي خو د پروګرام اساسي اهداف چې د تعادل او توانمندی تشويق دی هم تحقق مو مي.**
>
> زيرمه: ای. مسفيلد، ۲۰۰۴ کال "افغانستان: په ملی بيا رغونه کې د پيوستون او د عاجلی ګمارنی د ملی پروګرامونو برخه،" د نړيواله بانک د خواری لړول او د ودی ټينګولو په هکله موضوعې څېړنه: د خواری د لړولو اندازه کول: د زده کړی نړيواله پروسه او کانفرانس، شانګای، د می د مياشتی له ۲۵ څخه تر ۲۷ پوری

**د ملي پيوستون د پروګرام په خوريدو سره ډيرې ټولنې په دې راضي نشوې چې د پروګرام د غوښتنو سره سم ښځو ته په ټاکنو کې برخه ورکړي او يا که وټاکل شي[56] دانکشافي شورا دغړي په توګه ومنل شي خو سره له دې هم ځنو تسهيل کوونکو غړو د راپور، او له سيمې څخه د څېړنو پر بنا ډيرې داسې نورې لار ی شته چې ښځې کولای شي د ملي پيوستون په پروګرام کې برخه واخلي، څرنګه ښځې په روا جي ډول له پخوا څخه د ښه مشرتا به او ښه نظم د استعداد درلودلو له کبله په ټولنه کې شهرت لري نو ځکه د انکشافي شورا د غړو او حتی د شورا د مشر په توګه ټاکل شوی دي. سره له دې چې داسې حالات ډير کم ليدل شوي خو بيا هم له نيمايي څخه زياتو تسهيل کوونکو غړو د يوه يا دوه داسې مثالونو يادونه کړې ده، او په راتلونکو برخو کې دا موضوع په ډېر تفصيل سره څېړل شوی ده.**

---

[55] ای. مسفيلد، ۲۰۰۴ کال "افغانستان: په ملی بيا رغونه کې د پيوستون او د عاجلی ګمارنی د ملی پروګرامونو برخه،" د نړيوال بانک د خواری لړول او د ودی ټينګولو په هکله موضوعې څېړنه، واشنګټن ډی سی: د خواری د لړولو اندازه کول: د زده کړی نړيواله پروسه او کانفرانس، شانګای، د می د مياشتی له ۲۵ څخه تر ۲۷ پوری

[56] د ملی اولويتونو د پروګرام د کړنلاری سند په قول چې د ۲۰۰۴ کال د جون په مياشت کې د ملی پيوستون د پروګرام لپاره د جې پې يو له خوا تيار شوی دی: د ټولنی انکشافی شورا به د ټاکنی له لاری د لاندنيو اصولو پر بنسټ جوړه شې: د ټولنی هر شخص چې د دولت په ټول ټاکنو کې برخه اخستلی شې رای ورکوونکې ګڼل کيږی، نارينه او ښځې دواړه کولاې شې چې رايه ورکړی او د ټولنی د انکشافی شورا غړې شې (pp ٤-٥)

## ۳. ۱. د ټولنې د انکشافي شورا ډولونه او په هغو کې د ښځو برخه اخیستنه:

**د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداری د څېړنو پر بنا په انکشافي شورا کې د ښځو درې ډوله برخه اخیستنه موجوده ده.**

۱. **دنارینه او ښځو ګډه شورا:**
   **الف: د نارینه او ښځو مساوي برخه، په عمومي ټاکنو کې ټاکل شوي او ناسته یې یو ځای ده،**
   **ب: ښځې یوازی نمایشي رول لري، په عمومي ټاکنو کې ټاکل شوي او ناسته یې یو ځای ده**
۲. **دنارینه او د ښځو بیلې شورا ګانې:**
   **الف. نارینه او ښځې دواړه په عمومي ټاکنو کې ټاکل کیږي خو ناسته یې بیله ده**
۳. **د ښځو د شورا ځانګه:**
   **الف: په بیل ډول د ښځو په ذریعه ټاکل شوې او ناسته یې هم بیله ده**
   **ب: دښځو په ذریعه تعین شوې، ناسته یې بیله او رول یې یوازی د ښځو د مسائلو په هکله مشوره ورکول دي.**

### دنارینه وو او ښځو ګډه شورا:

**سره له دې چې لږ لیدل کیږي خو د شورا هغه واقعې ډول دی چې وجود لري په دې ډول شورا کې نارینه او ښځې د فیصله کوونکو په توګه په مساوي ډول برخه اخلي. د دې ډول شورا جوړول په هغو ځایونو کې ښایي چې ښځې له مخکې څخه په ټولنه کې په عامه موضوعاتو کې خپل ږغ اوچتولی شي او په خاص ډول په هغو ټولنو کې چې ښځو د انکشافي شورا د جوړولو څخه مخکې د مشرتابه رول لوبولی دی[57] لکه چې په افغانستان کې په ځنو قومونو کې داسې هم شوي دي چې لمړی ښځې ټاکل شوی دي او بیا په شورا کې د مشرتابه د مقا م لپاره ټاکل شوي دي.**

**دنارینه او ښځو دګډې شورا غیر وا قعي شکل په هغو ټولنو کې لیدل کیږي په کومو کې چې ښځې خپل ږغ نشي اوچتولای خو سره له دې هم داسې حالت وجود لري چې ښځې په ټاکنو کې برخه اخلي تر څو د ملي پیوستون د پروګرام پالیسي سره سم کړنه شوي وي. په خوابښینې سره باید ووایو چې ډیر شمیر د ښځو انکشافي شورا ګانې له همدې کټګورۍ څخه دي، یو ډیرشمیر د شورا ښځینه غړي په مباحثه او پریکړه کولو کې او همدارنګه په مجلسونو کې برخه نه اخلي خو په هغه صورت کې چې تسهیل کوونکي غړي موجود وي ممکن برخه واخلي د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداری څېړنې په بامیان کې ښیي چې د شورا ښځینه غړي نارینه ځپل شورا ته استوي تر څو له دوی څخه نماینده ګي وکړي او بیا په ځنو نو رو حالاتو کې ښایي د شورا ښځینه غړي وغواړي چې په شورا کې برخه واخلي خو له نارینه وو سره په ګډه شورا کې کښیناستل او خبرې کول د دوی لپاره ستونځمن تمامیږي او یا داسې فکر کوي چې که نظر هم څرګند کړي دغور وړبه نه وي.**

### د نارینه وو او د ښځو بیلې شوراګانې:

**د انکشا في شورا یو بل ډول چې د ملي پیوستو ن پروګرام ورباندې جوړجاړی کړی دی هغه د نارینه وو او ښځو لپاره د بیلو بیلو شوراګانو جوړول دي، په دې ډول چې نارینه او ښځې دواړه په ټاکنو کې برخه اخلي او کله چې وټاکل شول نو نارینه بیل او ښځې بیلې کښیني خو دواړه مجلسونه د یوې شورا برخې دي، دوی خپلې پریکړې او معلوماتونه سره یو**

---

[57] د اووه لسو تسهیل کوونکو غړو چې مرکه ور سره شوی وه، پنځلسو یې د داسې شوراګانو مثالونه ورکړل چې مشرتابه یې د ښځو په لاس کې وه.

ځاي کوي او خپل نماينده ګا ن يو بل ته استو ي ترڅو يو بل ته را پور ورکړي د مثال په ډول دښځينه شورا د غړې زوی او يا خاوند او همدارنګه د نارينه شورا د غړي خور او يا مور دا دنده سرته رسوي.

## دښځو دانکشافي شورا څانګه:

د ملي پيوستون په پروګرام کې يوه عامه ستونځه د ښځو برخې اخيستنې دی چې د ټولنې د رسم او رواج له کبله ښځو ته اجازه نه ورکوي چې په عمومي ټاکنو کې برخه واخلي، او ښځې دې د نارينه او ښځو دواړو ته رايه ورکړي او يا نارينه ښځو ته رايه ورکړي. څنو تسهيل کوونکو غړو لکه يو ان هبيتات او ډاکار بيا په دې توانيدلې چې په هرات[58] کې وګړي په دې راضي کړي چې ښځو ته اجازه ورکړي چې يوازی د شورا ښځينه غړې وټاکي تر څو د ښځو انکشافي شورا جوړه کړي. نو په داسې حالاتو کې نارينه وو د خپلې شورا لپاره او ښځو د خپلې شورا لپاره نمايند ه ګانو ته رايې ورکړي دي.

په څنو نورو حالاتو کې لکه په ننګرهار کې د رواداتو په ولسوالی[59] کې ښځو په قطعې ډول اجازه ونه موندله چې په ټاکنو کې برخه واخلي نو له دې کبله هغه يو څو ښځو چې له پروګرام سره يې زياته مينه درلوده او يو څه تعليم يې هم درلود د تسهيل کوونکې موسسې[60] له خوا او يا د ټولنې د ښځو په له خوا ورڅخه وغوښتل شو چې د ښځو د انکشافي شورا برخه جوړه کړي نو له دې کبله د ښځو انکشافي شوراوو دوه څانګې منځ ته را غلې او هره څانګه په دې پورې تړلې ده چې ايا ښځو ته اجازه ورکړل شی چې د ښځو انکشافي شوا څانګه جوړه کړې که نه.

اکثره تسهيل کوونکو غړو لکه د ژغورنی بين المللی کميټې د ښځينه انکشافي شوراوو د جوړولو لپاره د پورتني دوهم ډول څخه ګټه او چته کړې په دې هيله چې د نارينه شورا فيصله تقويه او څه نا څه دښځو ږغ هم اوچت شوی وي په خاص ډول په داسې ټولنو کې چې ښځو ته دا اجازه نه ده ورکړل شوې چې په ټا کنو کې برخه واخلي او يا خپله شورا ولري.نو دښځو دشورا برخه په دې صورت کې يو مشاورتې او دښځو دپروژو لپاره په خا ص ډول يو دفاعي رول لري.او بيا هغه لمړی ډول د ښځو د انکشافي شورا څانګه چې پورته يې ذکر وشو يو څه زيات رسمي رول لري ځکه دوی د خپلو مجلسونو ليکلی را پورونه د يو بل سره يو ځاي کوي او د نماينده ګانو په استولو سره د نارينه وو شورا د ښځو د شورا سره اړيکې نيسي او په پای کې د انکشافي شورا څلورو مهمو غړو ته لکه ريس، معاون، خزانه دار او سکرتر ته د خپلو فيصلو د مهمو ټکو راپور ورکوي.

ستونځه دشورا په بيلا بيلو ډولونو کې داده چې تراوسه هم وروستني پريکړه په نارينه وو پوری تړلې ده ځکه چې پيسې د هغوی په امضا ورکول کيږی او بانکي حساب هم د هغوی په نامه دي او دا په نارينه وو پورې اړه لري چې د ښځو نظرياتو ته اهميت ورکو ي اوکه نه، او په دې هکله هيڅ ډول رسمې کړ نلاره مو جوده نه ده چې دا په ډاګه کړي چې دښځو فيصلې او نظريا تو ته په پوره ډول پا ملرنه شوې ده.

په دې هکله بيا د ډکار موسسې په موقت ډول د کليواله پراختيا او بيا رغونو وزارت او د ساحې د مشاورينو سره په کارکولو د ستونځې دښه حل لپاره داسې کړي دي[61] چې نارينه خپله شورا او ښځې خپله شورا ټاکې او دواړه له دغه وزارت سره د پيژ ندنې لپاره را جستر شوي دي او د سا حې مسؤلين يوازی يو بانکي حساب د دوی لپاره توزيع کوي چې په دې صورت کې هم يوازی نارينه د بانکې حساب د امضا صلاحيت لري نو ډاکار د فيصلې او تصميم نيونې د موازنې په برخه

[58] په هرات کې د افغانستان د څيړنې او ارځونی د اداری سيمه ييزه څيړنه، د ۲۰۰۵ کال د جون د مياشتی له ۲۲ څخه د جولا تر ۶ نيتې پورې
[59] په ننګرهار کې د افغانستان د څيړنی او ارځونی اداری سيمه ييزه څيړنه، د ۲۰۰۵ کال د آګست له ۲۳ څخه د سپتمبر تر ۱ نيتې پورې.
[60] د براک دفتر په ننګرهار کې د تسهيل کوونکی غړی په توګه فعاليت کاوو.
[61] د ډاکار د ملی پيوستون د پروګرام له منيجر سره د ال وان (د افغانستان د څيړنی او ارځونی اداری) د ۲۰۰۵ کال د مارچ د لمړی نيتې، مرکه.

کې يو سيستم را منځ ته کړی دی چې نارينه او ښځينه شورا نه يوازې د مجلسونو ليکلې فيصلې سره يو ځای کوي خو د مالې ياد داشت په ساتلو او د معلوماتو په تبادله کې هم له يو بل سره مرسته کوي او همدارنګه د پروژو په عملي کولوکې هم نوبت په پام کې نيسي، که چيرې لمړی پروژه د نارينه د شورا په زريعه عملي شوي وي نو دوهمه پروژه به بياد ښځو د شورا له خوا عملي کيږي او همدارنګه د ټولنې د انکشا في پلا ن په هکله هم دواړه شوراګانې مخکې له دې چې پلا ن عملي شي مذاکرې ترسره کوي ترڅو دپروژو د ترتيب په هکله موا فقه وشي.[٦٢]

بله ستونځه دښځو له خوا د هغو پروژو غوښتنه ده چې په جندر پورې کوم خا ص تړاو نه لري، په جندر پور خا صې پروژې د ښځو د عا يداتو دکچه د لوړوالي پروژې دي لکه خياطي، نو د و ی په عا م ډول دهغو پروژو غوښتنه کوي چې د بنسټيز جوړښت پروژې دي لکه ټولنې ته د څکلو د او بو برابرول. څرنګه په دې هکله عام پوهاوی مو جود دی چې ۱۰ فيصده د بودجې د ښځو پروژو ته اختصاص ورکړل شوی دی[٦٣] چې د بنسټيزو پروژو دجوړولو لپاره کفا يت نه کوي او بر سيره پر دې له نو مورې لس فيصده بود جې څخه دټولنې نو ر ې مستضعفې ډلې لکه کونډې او معيوبين هم ګټه پورته کړي او دا ښکاره خبره ده چې نومورې بودجه يوازې د ښځو لپاره نه ده[٦٤] خوبيا هم کيد ای شي چې د داسې پروژو لپاره داضافي بودجې غوښتنه وشي.

د داسې ستونځو لپاره د ډاکار د موسسې حل لاره دادی چې د ښځو د انکشافي شورا لپاره دې بيل بانکي حساب جوړ شي ترڅو هغه تعين شوی تخصيص ورته انتقال شي او د کليواله پراختيا او بيا رغونې وزارت او ساحوي مسؤلينو څخه يې هم غوښتنه کړي ده چې د بنسټيزو پروژو د اجرا کولو لپاره دې د ښځو شورا ته يوه اضافي بودجه ورکړل شي تر څو وتوانيږي چې دا ډول پروژې عملي کړي چې دا کار به له يوې خوا د پروژو په مصارفو کې د ښځو نفوذ زيات کړي او له بلې خوا به د دوی د فيصلې او تصميم نيونې کچه د نارينه شورا په پرتله اوچته کړي. څرنګه نارينه او ښځې د ټولنې د انکشافي پلان په هکله په ګډه کا رکوي او په کوم وخت کې چې د پروژو د لوړ قيمت خبره وي نو ښځو ته د بودجې د کم له کمه ۳۰ فيصده دلوړوالي په صورت کې به ښځې د داسې پروژو په هکله ښه فيصله وکړای شي.دا څرګنده خبره ده چې که چيرې د ښځو شورا ته اضافي تخصيص هم ورکړای شي نو د رسم او روا ج يا امنيتي دلا يلو له کبله به دوی دې ته اړتيا ولري چې د نارينه وو شورا سره په ګډه کار وکړي تر څو د خپلو پروژو د اکمال لپا ره نورو ښارونو ته ولاړې شي نو د ډاکار دغه وړانديز له ناکامی سره مخامخ کيږي په خاص ډول په هغه وخت کې چې ښځې درايي او ټاکنو ا جازه تر لاسه نه کړي نو په داسې حال کې دوی د ښځو يو مجلس را بولي چې رسمي شکل نه لري او نه د ښځينه شورا په شکل را جستر شوی وي نو ډاکار موسسې ته د ښځو دا ډول غونډې لږ موثره ثا بتې شوي دي.

د ژغورنې د بين المللی کميټې کوښښونه د ښځو د برخې اخيستنې په هکله په ټاکنو کې او د ستونځو سره د چلند په موخه داوه چې دوی د مذهبی چارو د خاصو فعاليتونو کميټه سره کاروکړي چې د علماوو د شورا جوړښت دی، نومورې کميټه ترببه شوي ملايا ن ټولنې ته استوي تر څو ټولنه او د هغې مذهبي مشرا ن او د تسهيل کوونکو موسساتو کا رکوونکي او د انکشافي شورا غړي تربيه کړي.

---

[٦٢] ډاکار لا دغه فعاليت په ټولو هغو ولاياتو کې چې د ملی پيوستون د پروګام د غړی په شان کار کوی سر ته ندی رسولي، چې له هغو څخه يو هم د هرات ولايت دی.

[٦٣] د ملی پيوستون د ګرنلارو په وينا لس فيصده بودجه بايد زيان منونکو خلکو او ښځو ته تخصيص ورکړشی، خو دا يوازی يوه ګرنلاره دهاو په دی معنی نده چې لس فيصده پورژی دی دغه خلکو ته اختصاص شی.

[٦٤] دغه مساله د لورين فليمينګ له خوا پورته شوه، د ۲۰۰۵ کال د جولای نولسمه. د ملی پيوستون د فعاليتونو مانوال هم وګوری، د ۲۰۰۴ کال د ديسمبر مياشت

دوی داسلامې اصولو او قوانينو څخه د ښځو د حقوقو په هکله په کار اخيستو په خاص ډول د ښځو ونډه اخيستنه په مشورو او ټاکنو کې په ټولنه کې تبليغ کوي او حتی د جمعې په لمونځونو کې د ښځو د حقوقو په هکله خلکو ته وينا کوي تر څو ټولنه او مذهبي مشران يې په دې راضي کړي چې ښځې کولای شي د شورا په ټاکنو کې ونډه واخلي.
د ژغورنی بين المللی کميټه په اند نوموړی کار په اکثره محافظوي ټولنو کې مفيدثابت شوي دي خو تر اوسه هم يو لړ ستونځې د ښځو دانکشافي شورا په هکله شته دي.

د افغانستان لپاره د سويدن کميټه هم همدارنګه په دې خيال ده چې د ملي پيوستون دپروګرام د په مروجه ډول د اسلامي اصول او نظرياتو پر بنا بيان کړی شي تر څو د ښځو په ونډه اخيستنه زور واچول شي:

"موږ دې ته اړتيا لرو چې د ملي پيوستون پروګرام په مروجه ډول تعريف او په ساده الفاظو کې خلکوته وړاندې شي، موږکولای شو چې د اسلامي اصولو او نظرياتو څخه چې په قران شريف کې د مالي او ا جتماعي عدالت او مسؤليت په هکله موجود دي ګټه پورته کړو او که داسې ونه شي نو د ملي پيوستو ن پروګرا م به خلکو ته داسې څرګند شي چې موږ يوازې غواړو دډا لرو په ورکولو سره دښځو ونډې ته بلنه ورکړو او په دې ډول به د خلکو رسم او عنعنه د ۲۰۰ ډالرو کمک په وعده کولو سره تر پښو لاندې شوي وي. په لرې پرتو سيمو کې بايد بشري حقوقو ته پاملرنه وشي اوکه داسې ونګڼل شي چې دا يوازې د رشوت ورکولو يو سيستم دی نو ممکن په ډير ژر سره رد شي او هيڅ ګټه به ونه رسوي او هم به د ښځو ونډه اخيستنه په انکشا في شورا کې پا يداره نه وي.[٢٥]"

د افغانستان لپاره د سويدن کميټه بيا له داسې سترا تيژی څخه کار اخيستی چې د ښځينه شورا غړي بايد د نارينه شورا د غړو سره يوځای ټولې پروژې امضا او تاييد کړي په داسې حال کې چې د شورا ښځينه غړې بايد امضا وکړي خو په دوی کې په زياته کچه بې سوادي موجوده ده او دا له امکان څخه لرې نه ده چې دوی به داسې يو څيز امضا کړي چې پوهاوی ورباندې نه لري او هم دپروژو د لړ وخت له کبله به هغه معلومات ته لاس رسی چې ښځې يې ولري د نارينه وو په نسبت ډيرکم وي نو له دې کبله د سواد ټيټه کچه او د ظرفيت ټيټوالی د ښځو موثره ونډه اخيستل د خطر سره مخامخ کوي

## ۳. ۲. د ملي پيوستو ن په پروګرام کې ښځو دونډې اخيستنې نورې ستونځې:

سر بيره په هغو خنډونو چې انکشافي شوراګانې ورسره مخامخ دي يو لړ نورې غټې ستونځې موجودې دي چې د ښځو په ونډه اخيستنه با ندې ا ثر لري. د تسهيل کوونکو غړو د تجربو پر بنسټ د ښځو د ونډې اخيستنې مهم او عمده خنډونه په لا ندې ډول دي:

- دجنډر په هکله دکار کوونکو تعصب
- په رسوم او روا ج پورې تړلي نورمونه د دې سبب کيږي چې ښځې را په ورنه کړي، ونه ټاکل شي او په مجلسونو کې ونډه وا نه خلي
- دوخت لږوالی چې د تعصب او نو رو مضرو نو رمونو په هکله تعليم ورکړل شي
- د ښځو په فيصلو باندی بې باوري او هغه غير قانوني ګڼل او دلازمې بودجې او معلوماتو نشتون
- د رهبری درول په هکله د ښځو د تجربو کموالی، بې سوادي او د ظرفيت ټيټوالی

[٢٥] د افغانستان لپاره د سويدن د کميټی د ملي پيوستونه د پروګرام له منيجر سره د ټورنکارد، د افغانستان د څيړنی او ارځونی اداری، مرکه، د ۲۰۰۵ کال د مارچ ۱۹ نيټه.

- د داسې يو جوړښت نشتون چې له کبله يې د ښځو د انکشافي شورا نفوذ او پريکړه کول اطمناني شي دجندر په هکله د کارکوونکو تعصب :

### ۳. ۲. ۱. د جندر په هکله د کارکوونکو تعصب

د ملي پيوستون د پروګرام په هره سطحه کې د جندر په موخه تعصبات موجود دي څرنګه چې د پروګرام تسهيل کوونکي غړي هم دا منی چې په افغاني ټولنه کې د جندر په هکله تعصبات موجود دی او حتی د پروګرام ځني کارکوونکي هم دا ډول تعصبات لري خو دا يوه ستونځمنه خبره ده چې د نمورو تعصباتو د اغيزو کچه تشخيص او تفکيک شي په خاص ډول د ملي پيوستون د پروګرام د منيجرانو په سطح، په هر حال دا خبره يقيني شوی چې تعصبات موجود دي، حتی داسې سيمې هم شته چې د ښځو هيڅ ډول نماينده ګي په انکشافي شورا کې وجود نه لري نو په داسې ټولنو کې ښځو کوښښ کړی دی بې له دې چې څوک کمک ورسره وکړي په خپله ځني مجلسونه جوړکړي ترڅو د تسهيل کوونکو غړو تشويش زيات او پريشاني راکمه کړي. ځنو تسهيل کوونکو لکه د ژغورنی بين المللی کميټې بيا د جندر په هکله يو خا ص پروګرا م په سيمه ييزه کچه طرح کړی تر څو وکولا ی شي د نومورو تعصباتو سره چلند وکړي

د نړيواله بانک د هغې مطالعې په اساس چې د ملي پيوستون د پروګرام اغيزي يې د خواری په راکمولو څيړلي دي د تسهيل کوونکو غړو څخه غوښتنه کوي چې په ساحه کې ښځينه کارکوونکې وګماري ترڅو وکولای شي چې ښځې د اولويتونو په تعين، تصميم نيونې، او د پروژو په عملي جريان کې شاملې کړي[66] او برسيره پر دی د ژغورنی بين المللی کميټه[67] بيا په دې هکله داسې پاليسي جوړه کړې چې ۵۰٪ د ساحې کارکوونکي بايد ښځينه وي خو په اوسني وخت کې نومورې فيصدي ۳۳ دی اوهم يې ۹۹٪ کارکوونکي له سيمو څخه ګمارلي دي او په همدې ډول د افغانستان لپاره د سويدن کميټه هم کوښښ کوي چې د لاندې دلايلو له کبله مشابه پاليسي تعقيب کړي.

> په کليواله سيمو کې ښځې دا حق لري چې د دوی د تحرک لپاره هغه کسان کار وکړي چې دوی ته احترام لري. تا سو پوهيږی چې هغه کارکوونکي کوم چې له کابل څخه دی د کليو ښځو ته احترام نه لري نو له دې کبله مو فيصله وکړه چې کم له کمه خپل نيمايي کارکوونکي له محلاتو څخه وګما رو.[68]

په عمومي ډول ويلا ی شو چې د ملي پيوستون د پروګرام په ټولو کچو باندې (ملي او بين ا لمللي) د جندر په هکله تعصبات په سيستماتيک ډول تر هدف لاندې ونيول شي تر څو د ښځو ونډه اخيستنه چې يو اولويت دی اطمناني شي. او همدارنګه لکه څرنګه چې مخکې هم ذکر شول چې تسهيل کوونکو غړو دا هڅې کړي دي چې د خپلو پروګرامونو له لارې د ټولنو سره کار وکړي ترڅو ښځې د ټولنې په انکشافي شورا کې ونډه واخيستلای شي.

### ۳. ۲. ۲. دوخت کموالی:

د ملي پيوستون د پروګرام له غوښتنو او اړتياوو څخه يو هم د خلکو او ټولنو پوهاوی وو چې بايد ټولنې د پروګرام له څرنګوالي سره بشپړه پيژندګلوی ولری، نو د پروګرام په هکله د تعصباتو او د رسم او رواج د نورمونو سره سره يو بل ستر خنډ چې مو جود وو هغه د وخت کموالی وو چې ټولو تسهيل کو نکو غړو دا څرګنده کړه چې د ټولنو د تحرک لپاره دوی

---

[66] مسفيلد، افغانستان: د ملی پيوستون د پروګارم رول، ۱۸.

[67] پيسن او عثمان، د ژغورنی د بين المللی کميټی د ملی پيوستون د پروګرام له منيجر سره د افغانستان د څيړنی او ارځونی اداری مرکه، ۲۰۰۵ کال.

[68] ټورنګارد، د افغانستان لپاره د سويدن د کميتی د ملی پيوستون د پروګرام له منيجر سره د افغانستان د څيړنی او ارځونی د اداری مرکه، د ۲۰۰۵ کال د مارچ ۱۹ نيټه

ډیر لږ وخت درلوده او همدارنګه وخت ته اړتیا وه چې د یو قوي سیمه ییزه حکومت د بنسټ ټیګه چې نوموړی مطلب د ملي پیوستون د پروګرام له اهدافوڅخه وه کینبول شي او د دغه بنسټ اساسي ښه په دې کې وه چې ټولنې ته ښه معلومات ورکړل شي او په پروګرام کې ونډې اخیستنې ته تیار کړل شي نو د وخت د لږوالي له کبله نیمایي نفوس (ښځې) د خپلې راتلونکې په هکله له هوډ او پریکړه کولو څخه محرومې پاتې شوې.

## ۳. ۲. ۳. د ښځو د ظرفیتونو ټیټوالی:

کله چې ښځې د ټولنې انکشافي شورا ته وټاکل شوې نو د دوی د ونډې اخیستنې کچه په شورا کې ډیره کمه وه. د تسهیل کوونکو غړو په اند دا ځکه چې ښځو په خپلو مهارتو نو، د مشرتابه په تجربو او نو رو اړونده مو ضوعاتو ډیر کم باور درلوده، نو افغان اید د نوموړې ستونځې د حل لپاره د ظرفیتونو د لوړولو اونورو اداري موضوعاتو په هکله د تربیې پروګرام ته مخه وکړه ترڅو په راتلونکې کې د ښځو د اعتماد وړ او ګټه وره مشرتابه را منځته شي. نو په هغو سیمو کې چې ښځې اجازه لري چې په ټاکنوکې ونډه واخلي افغان اید د ښځو او نارینه وو ګډه شورا جوړه او له ښځو څخه د کوچنیو ګروپونو په جوړولو سره دوی ته دنده سپارلې چې کوچنی پروژې اجرا او عملي کړي او د همدغو کو چنیو ډلو له لارې کو ښښ کیږي چې د دوی ظرفیتونه د مشرتابه لپاره لوړکړای شي او همدارنګه هغه ټول کورسونه چې دنارینه غړو لپاره دي ښځو ته هم ورکول کیږي لکه د اداري په هکله، پروپوزل لیکنه، محا سبه، تهیه او تدارکات.

برسیره پردې ښځوته د روغتیا، ښوونې او روزنې، د ملي پیوستون د پروګرام په هکله، او همدارنګه د ټولنې د منابعو د تنظیم په باره کې هم کورسونه ورکول کیږي. دا د پنځوکلونو پروژه ده نو له دې کبله به نوموړې ښځې را تلونکو ټاکنو ته بشپړه تیا ری ولري[۲۹] او د لازمې تجربې او مهارت په لرلو سره به دټولنې د انکشافي شورا فعاله غړي وي.

## ۳. ۳. لنډیز:

په داسې حال کې چې د ملي پیوستون په پروګرام کې د ښځو د مشروعیت او ونډې اخیستنې په برخه کې ډیرې ستونځې موجودې دي او تسهیل کوونکو غړو هم د نوموړو ستونځو سره د چال چلند په موخه په ابتکاري ډول د حل لارې چارې لټولي دي لکه د ژغورنې بین المللی کمیټه چې کوښښ کړی دی چې د جندر د تعصباتو دله منځه وړلو لپاره د جندر یو خاص منطقوي پروګرام چې پنځوس فیصده د ښځینه کارکوونکو زیاتوالی دی په لاره واچوي او همدارنګه دعلماوو د مخصوصې کمیټې څخه چې د مذهبي روایاتو له کبله د ښځو ونډه اخیستنه تقویه او د ښځو په هکله دمروجه کلتوري نورمونو مخنیوی وکړي هم کاراخیستی دی.

په پروګرام کې د وخت کموالی د یوې بلې لویې ستونځې په ډول پاته ده ترڅو د ساحې مشاورین او د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د وخت په هکله داسې تغیرات رامنځ ته کړي چې د ښځو ونډه اخیستنه او ټاکنې په ښه ډول تر سره شي.

ډاکار بیا په ټولنه کې دوه داسې بیلې انکشافي شوراګانې جوړې کړي چې هره یوه شورا په نوبت سره پروژې عملي کوي تر څوپه دې ډول د ښځو پریکړې په پام کې نیول شوي وي او لازم معلومات او بودجې ته لاس رسی ولري او په

[۲۹] په دې هکله چې آیا ټاکنی په دریو کلونو کې یوځل وشی او یا په دوو کلونو کې یو ځل وشي لا اوس هم خبری اتری روانی دی. د مشوره کولو په عامه ملی جرګه کې (د ټولنی د انکشاف ملی کانفرانس) چې د ۲۰۰۵ کال د آګست له ۲۲ تر ۲۵ نیټې پورې وو، د بحث یوه موضوع دا وه چې آیا د ټولنی انکشافی شورا به په دری کلونو کې یو ځل د ټاکنو لپاره تیاری ولری که نه.

پای کې د افغان ايد موسسې بيا د پنځو کلونو داسې يو پلان په کار ا چولی دی چې په نتيجه کې به د ښځو ظرفيتونه لوړ او د سواد په لرلو سره به د راتلونکو انکشافي شوراګانو لپاره د مشرتابه جوګه شي.

## ۴. د ملي پيوستون او د نورو ادارو اړيکې:

د ملي پيوستون د پروګرام څخه لمړنۍ تصور داوو چې دا پروګرام به له پنځو تر شپږو کلونو پورې وي او په افغانستان کې به ټولې سيمې د پوښښ لاندې نيسی. او همدارنګه د پروګرام د بودجې په هکله هم داسې خيال موجود وو چې د ملي پيوستون د پروګرام بودجه به د افغان حکومت د بودجې يوه برخه وي چې هر کال به کليو ته ورکول کيږي. د ملي پيوستون د پروګرام رسمي اسناد داسې وايي چې د حکومت مقصد دادی چې داسې يو سيستم را منځته کړي چې د هغه له کبله به متداوم ډول د ټولو کليو لپاره بودجه انتقال کړی شي چې په کلني ډول ديوې کورنۍ لپاره ۲۰۰ ډالره په پام کې نيول شوي دي[70]. برسيره پر دې په اوسنی مرحله کې چې د ملي پيوستون د پروګرام دوه کاله پوره کيږي په ټولنه کې خلکو ته ويل شوي دي چې دوی به نور د ملي پيوستون د پروګرام له لارې بودجه ترلاسه نه کړي او دوی دې کوښښ وکړي چې د خپلې ټولنې د انکشافي پلان او پروژو د عملي کولو لپاره د نورو لار وچارو په لټه شي.

**بکس۴. د ملي پيوستون د پروګرام پراختيا :**
د افغانستان انتقالي حکومت غواړي چې د ملي پيوستون په پروګرام کې په تخميني ډول د څلورو کلونو په موده کې ۲۰۰۰۰ کلي تر خپل پوښښ لاندې راولي نو په لمړي کال کې درې، درې ولسوالی په ټولو ۳۲ ولا يتونو کې د وچکالی د ناوړه اثراتو او د داخلي مهاجرينو د را بيرته ستنيد و پر بنسټ وټاکل شوې، هغه ټولنې چې په لمړي کال کې د پروګرام هدف وې شمير يې په ټول ملک کې ۴۱۰ کليو ته رسيدو.
Source: NPP strategy for NSP ,٢٠٠٤،٢

د هغو مرکو پر بنسټ چې په دغه څېړنه کې د تسهيل کوونکو غړو سره تر سره شوی، د پروګرام د وروستنی وخت، د پوښښ د ساحې، او د تسهيل کوونکو غړو د اميدونو په هکله د کليو د پراختيا او بيا رغونی د وزارت څخه کوم روښانه او رغنده نظر وجود نه لري.

د کليو د د بيارغونې او پراختيا وزارت په خپل بيان کې ويلي دي چې د تسهيل کوونکو غړو لپاره بودجه په ختميدوده او د درې کلونو په پوره کيدوسره به د ملي پيوستون پروګرام پای ته ورسيږي. بيا د ۲۰۰۵ کال د اګست په مياشت کې د نوموړي وزارت سره د ليک استونې په رابطه کې څرګنده شوه چې د تسهيل کوونکو غړ و لپاره به د بودجې ورکړه پراختيا ومومي.

د ملي پيوستون پروګرام په لمړي کال کې ۲۰۰۰ ټولنو ته او په دوهم کال کې بيا ۴۵۰۰ نوروټولنو ته رسيدنه کړې چې په تخميني ډول نيمايي افغانستان ترپوښښ لاندې راغلی دی او اوسنی کال چې د پروګرام دريم کال دی ترپوښښ لاندې حقيقي شمير تر بحث لاندې ده خو بيا هم کيدا ی شي چې د ۲۰۰۰ په شا و خوا کې ټولنو ته رسيدنه وشي لکه د ۲۰۰۵ کال د جولای په مياشت کې د ملي پيوستون پروګرام نوموړي شمير ۱۰۵۰۰ ټولنو ته رسيدنه څرګنده کړی برسيره پردې هغه وخت چې د پروژو د اجرا کولو لپاره د پروګرام په لمړي کال کې په نظرکې نيول شوی وه يعنې (۲۰۰۳-۲۰۰۴) دورو اجراتو له کبله درې کلونو ته وغزيده.[71]

---

[70] د ملی پيوستون د پروګارم له پاره د ملی اولويتونو د پروګرام د کړنلارو سند، چې د عدلی پروګرامونو د واحد له خوا د ملی پيوستون د پروګرام لپاره تيار شوي دي. د ۲۰۰۴ کال د جون مياشت.

[71] ای جانسن، د تسهيل کوونکو غړو د څانګې منيجر، د څارنی مشورتی ټيم، د ملی پيوستون پروګرام، د بريښنا ليک له لاری، د ۲۰۰۵ کال د آګست د مياشتی ۲۱ نيټه

د ملي پیوستون د پروګرام(د ۲۰۰۴ کال د جون د میاشت) ستراتیژیک اسناد د پروګرام د پرمختګ لپاره د اساسي ګامونو تر عنوان لاندې داسی وایي چې: پروګرام په اوس وخت کې د نورو ملي اولویت د پروګرامونو سره د ښې اړیکي د سپړلو په حال کې دی لکه د ښوونی او روزنی او د روغتیا د سکتورونو[۷۲] سره او همدارنګه نوموړې برخه د اسنادو هغو شواهدو ته هم اشاره کوي چې د پروګرام د سپړلو رابطه ښیي.

په اوس وخت کې تسهیل کوونکي غړي د خروج د ډول ډول ستراتیژیو د آزموینې په حال کې دي په داسې توګه چې انکشافي شوراګانې د دې توان ولري چې فعاله پاته شي او په خپلو پښو ودریږي نو اوس یو مهم شکایت هم دا دی چې تر اوسه انکشافي شوراګانې په داسې نازک حالت کې قرار لري چې د ډېر زیات وخت لپاره تقویې ته اړتیا لري (لږ تر لږه پنځو کلونو ته اړتیا لری) او یو بل نظر چې په مکرر ډول تسهیل کوونکو او د انکشافي شورا غړو ورته اشاره کړې هغه دا دی چې که انکشافي شورا ګانې همداسې بې له تقویې اوکومک څخه پریښول شي نو هغه عناصر چې د دوی مخالف دي داسې ستراتیژی په کار واچوي چې دوی ضعیف کړي او کله چې د دوهم ځل لپاره دټولنې انکشافي پروګرامونه منځته را ځي نو نوموړي عناصر به په موثرانه ډول وکولای شي چې هغه و دروی، او هم که حکومت بې د تسهیل کوونکو غړو د مرستې څخه د ملي پیوستون پروګرام ته دوام ورکړي نو باید د داسې لارو چا رو په لټه کې شي چې د مرکزي حکومت له خوا پروګرام تقویه کړي او یا د غیر حکومتي ادارو څخه چې مرکزي حیثیت ولري مرسته تر لاسه کړي.

باید زیاته کړو چې د وزارتونو په منځ کې یو ډول همکا رې ته اړتیا ده چې د سرچینو د موثره استعمال لپاره دمحلا تو په کچه ترسره شي، د مثال په ډول داسې حکا یتونه او را پورونه شته چې د کرنې او مالداری او د کلیو د پراختیا د وزارتونو ترمنځ ډېره کمه همکا رې مو جوده ده په داسې حال کې چې دواړه وزارتونه د سیمو په کچه د ډېرې سترې بودجې لرونکي پرو ګرامونه لري چې هر وزارت یې بې له دې چې له یو بل سره خپل معلوماتونه ګډ کړي او یا دا څرګنده کړي چې په کومو ځا یونو کې د دوی پروګرامونه یو بل ته ورته دي، په بیل ډول سرته رسوي. دکلیو د پرا ختیا وزارت کولای شي چې د کرنې او مالداري دوزارت له فني ما مورینو څخه د انکشافي شوراګانو او یا د سیمه ییزه بزګرانو د ظرفیتونو په تقویه کولو کې کار واخلي[۷۳] او همدارنګه د کرنې او مالداري وزارت هم کولای شي چې د انکشافي شوراګانو سره د کرنې او مالداري او مالداری د پروژو په هکله له نږدې کار وکړي نو که چیرې دا ډول همکاری د وزارتو نو په منځ کې موجودې نه وي د محلاتو په کچه به د پروګرامونو په هکله یو ابهام او تردد میشت وي په خاص ډول په هغه وخت کې چې د وزارتونو پروژې او پروګرامونه سره ورته والی ولري.

### ۴. ۱. نړیواله بانک او د یووالي روش:

د ۲۰۰۴ کال د جون په میاشت کې نړیواله با نک د سیمه ییزه انکشاف په هکله د سیمه ییزه حکومت تر عنوان لاندې یوه څېړنه خپره کړه[۷۴] سره له دې چې د ملي پیوستون پروګرام د نوموړې څېړنې برخه نه وه او نه نړیواله بانک داسې

---

[۷۲] د ملی پیوستون د پروګرام لپاره د ملی اولویتونو د ګرنلاری سند، ۲۰۰۴ کال، ۸.

[۷۳] په دغه ذکر کې یو نوی فعالیت چې د تخم او د سری د ویشلو پروګرام دی، چې د یو اس اید له خوا پیل شوی دی. منظور دا دي چې د کرنی او مالداری د وزارت د همکاری کار کوونکو او یا د ملی پیوستون د ټولنی انکشافی شوراګانو (د کلیواله انکشاف او بیا رغونی له لاری) څخه د تخم او د سری د ویشلو او د هغو د ګټې د پیژندلو له پاره استفاده وشی، او دا مساله په دی پوری اړه لری چې کوم وزارت د ولسوالی په کچه زیات ظرفیت لری. دغه برنامه په ټولو ولایاتو کې بشپړه شوی ده، او د ملی پیوستون د ټولنی انکشافی شواګانی د ګټو په پیژندلو کې رول لوبوی. آر روبل، د ملی پیوستون پروګرام د رسمی شورا د سیمه ییزه حمایی د منیجر د ژوری کتنی ویناوی، د ۲۰۰۵ کال د نومبر میاشت.

[۷۴] د سیمه ییزه انکشاف د مباحثې پاڼه، ۲۰۰۴، چې د سیمه ییزه انکشاف په هکله د بین المللی کنفرانس لپاره تیاره شوی ده، د ۲۰۰۴ کال د جون د میاشتی له ۱۶ څخه تر ۱۸ نیتی پوری. واشنګټن دی سی: بشری انکشاف، ټولنیز انکشاف او د عامه سکتورونو د اداری شبکه، نړیوال بانک، ۱۰.

هيله درلوده چې نوموړې څېړنې د ملي پيوستون په پروګرام کې په پام کې ونیول شي خو د تيوري په ډول د داسې يو مفيد جوړښت وړانديز کوي چې پکښې د سيمه ييزه انکشافي شوراګانو، وزارتونو، موسساتو او خصوصي سکتو ر تر منځ رابطه سپنې.

نوموړې څېړنه زياتوي چې د محلاتو انکشاف د سيمه ييزه فعالينو او ادارو لمړنی مسؤليت دی، هم دوی دي چې د محلا تو په کچه دا مسؤليت محسوس کړي چې د خپل ژوند د ښه والی[۷۵] په هکله فکر وکړي نو په دې مقصد با يد:

- سيمه ييزه فعالين دا توان ومومي چې د پرمختګ په هکله خپله هوډ او پريکړه وکړی
- د محلاتو په کچه يو حکومتي سيستم موجوددی چې خلک کولای شي د هغه پر بنسپ په عمومی توګه عمل وکړي
- د سيمه ييزه فعالينو د تقويي نورې وسيلې موسسات، خصوصي سکتور او نورې تخنيکي مرستې دي

تر اوسه پورې د ملي پيوستون د پروګرام پام د سيمه ييزه حکومت د انکشاف په لور وو خو د يوه بنيا د د جوړونې په هکله ډير کمي ليدل کيږي. کوم شی چې په پروګرام کې تر اوسه تر يو حده پور ې شوي دي هغه له ولسوالانو سره د انکشافي شورا د غړو رابطه ده[۷۶] چې په دې هکله تسهيل کوونکو غړوهم د دې اړيکې په ټينګولو کې په بيلا بيلو کچو کارکړی دی. دغه بريالی رابطه په لاندې څيزونو پورې تړلې ده :

- د ولسوالی شورا ته د انکشافي شورا د غړو راپور ورکول
- د ولسوالانو او انکشافي شوراګانو تر منځ د مراجعې رابطه چې په مختلفو وختونو کې ستونځې يو بل ته راجع کوي
- د ولسوال په وا سطه د کوماندانانو او نورو مشرانو له نفوذ څخه د شورا ساتنه
- ولسوال د والي او مسؤلو وزارتونو مقام ته د ښوونځيو او کلينيکونو په هکله دانکشافي شورا د پروپوزلونو وسيله کيږی.

خو بيا په ځنو حالاتو کې ولسوالانو په فعال ډول د انکشافي شوراګانو پر خلاف عمل کړی دی لکه چې د ډاکار موسسه د دې يو ښه مثال داسی وړاندی کوی. يو ولسوال له يوه نواب څخه چې د ټولنې د انکشافي شورا پرخلاف يې د مشرى ادعا کوله ملاتړ کاوو برسيره پردې روابط هغه وخت نور هم ترنګلي شول چې ولسوال د يو شمير لويو کوماندانانو د خوشحاله کولو هڅه وکړه، په هرات کې يو ولسوال هغه ټولنې د ملي پيوستون د پروګرام لپاره وټاکلې په کومو کې چې لوی کوماندانان موجود وو او کوم وخت چې د ملي پيوستون د پروګرام د شرايطو په اساس نوموړې ټولنې وه نه منل شوې نو د ډاکار موسسه له سيمې څخه وتلو ته اړشوه او په نتيجه کې ولسوال ټوله ملامتې په ډاکار باندې واچوله او وييل يې چې دا ډاکار دی چې ستونځې جوړوي او نه غواړي چې د پروګرام په اجراکولو کې عملي مرسته وکړي.

د تسهيل کوونکو غړو د معلوماتو له مخې د ملي پيوستون د پروګرام نوی منوال ( د ډيسمبر ۲۰۰۴ ) د انکشافي شورا غړو ته بلنه ورکوي چې د کليو په کچه ګروپونه جوړ کړي دا په دې معنی چې د انکشافي شوراګانو غړي به وتوانيږي چې په سيمه ييزه کچه همکاري رامنځته کړي او يو د بل په اړونده ستونځو او د مینی ور موضوعاتو باندې وپوهيږي. د نړيواله بانک په اند په سيمه ييزه کچه همکاري د يو لا ښه او اغيزمن انکشاف په را منځته کيدو کې زيات ګټه ور تماميږي[۷۷] ځکه په جغرافيايي لحاظ د سيمه ييزې يا منطقوي[۷۸] همکارى ځنو لمړنيو اړتياوو ته لکه مارکيت، ترانسپورت او نو ر د خدمتونو

---

[۷۵] په همدغه خپرونه کې.

[۷۶] ټولو تسهيل کوونکو غړو له ولسوال سره د اړيوکو جوړولو لاره معلوماتی غونډو ته د هغو راغوښتنه او د اوسمهاله کارونو د راپوروونو څخه خبرول په ګوته کړله. په داسی حال کې چې په فارياب کې د افغانستان د څېړنی او ارځونی د اداری سيمه ييزه څېړنې داسی وموندله چې په آلمار کې د ولسوالی اداری دفتر له هغه کارونو څخه چې په حقيقت کې روان وو لږه خبرتيا درلودله او معلومات يې يوازی هماغه وو چې د کليو غلطی خبری وی.

[۷۷] د سيمه ييزه انکشاف د بحث پاڼه، ۲۰۰۴ کال، ۱۰.

[۷۸] منطقه، محله او يا سيمه ټول مترادف لوغات دی.

په هکله په ښه ډول رسیدنه کیدلې شي او همدارنګه د لویې کچه سیمه ییزه همکاري په اجتماعي لحاظ هم د دې سبب کیږي چې دټولنې اقتصادي او اجتماعې اړونده ستونځې په مناسب ډول حل شي. نو په لاندې دلایلو سره په محلې کچه او سیمه ییزه کچه په انکشاف او پرمختګ کې مفید ثابیتیدای شي.

۱. د ورې کچې همکاري د ټولنې د یو ښه او موثر تفاهم لپاره له سیمه ییزه حکومت سره په لږ وخت کې ترسره کیدلې شي

۲. د لویې کچې همکاري د دې سبب کیږي چې اقتصادي او اجتماي پانګه په داسې ډول تنظیم کړي چې په نتیجه کې یې د علاقې ور ډلې تقویه شي.

۳. دلویې کچې سیمه ییزه همکاري کیدای شي چې دنفوس په بنسټ د حکومت د لوړ پوړو چارواکو او تمویل کوونکو ادارو څخه د ډیرو منا بعو غوښتنه وکړي.

یو مهم سوال چې په سیمه ییزه کچه کې د انکشاف د تصمیم نیونې په برخه کې را پورته کیږي هغه دا دی چې په مرکزي کچه کې وروستنۍ پریکړه کوونکي مقامات د انکشافي پروژو په هکله کوم او چیرته دي، د مرکزي حکومت وزارتونه هریو خپل پلان او بودجه لري په داسې حال کې چې د انکشافي شورا غړي خپلو ټولنو او خلکو ته د وزارتونو د بیلابیلو پروګرامونو له لارې ځواب ویونکي دي[79] او بیا نوموړی حالت نو ر هغه وخت سخت والی مومي چې د انکشافي پروژو د حساب ورکولو ډول سرچینې مو جودې وي لکه وزارتونو، ټولنې، تسهیل کوونکو غړو او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزات ته. نوکه چیرې د نړیواله با نک وړا ندیز چې د محلې انکشاف د یووالي روش دی عملي شي نو په دې صورت کې به هم د مرکزي حکومت پلانونه او هم دانکشافي شورا غوښتنو ته رسیدنه شوي وي.[80]


یو ا ځنې لا ره چې کولا ی شي دوزارتونو خپل منځې کړکیچ را کم کړي او یایي له منځه یوسي هماغه د نړیواله بانک وړاندیز دی چې کومک به وکړي چې داسې طریقه را منځته کړي چې د انکشافي شورا له غړو سره به د اړونده وزارت په پروګرا مونو کې لازمه مرسته وکړي.

---

[79] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د: ای ایوانس، ان منینګ، یاسین عثمانی، ای ټولی او ای وایلدر، د کال، د افغانستان د حکومت داری لارښود، وګوری، کابل: د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداره؛ ای ایوانس، ان منینګ، ای ټولی او اندریو وایلدر، ۲۰۰۴ کال، سیمه ییزه اداره په افغانستان کې: د عمل لپاره ارځونی او سپارښتنی، کابل: د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداره؛ ای ایوانس او یاسین عثمانی، ۲۰۰۵ د پرمختګ ارځونه: په افغانستان کې د سیمه ییزه اداری په هکله نوی راپور، کابل: د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداره.

[80] "د سکتوری شیوو جلاکول د سیمه ییزه خاصو فعالو سازمانونو، او د بیا تمرکز له لاری فعاله خپلواکې باندی ولاړ دی. سیمه ییزه حکومت، اداری او سیمه ییزه تنظیم شویو سازمانونو ته، سره له پالیسی او فعاله خپلواکې ته د انتقالی پالیسی له لاری رسیږی. د ټولنی نیغ په نیغه د حمایې لاری، لکه چې هر کله د ټولنی له خوا د انکشاف لپاره شوی دی، د ترقی د انتقال سرچینې او د مدنی ټولنی د قوی کولو ستراتیزی چې ټولنیزه سازمانونه داسی کښی چې د جمعی فعالیت او د خلکو د عامه خدماتو د تیاروونکو تر منځ هماهنګې باندی ټینګار کوی،" د سیمه ییزه انکشاف د مباحثی پانه وګوری، ۲۰۰۴ کال.

لمړي شکل : د سيمه ييزه انکشاف په هکله د نړيواله بانک د يووالي روش




د نړيواله بانک د يوالي روش د ټولنې او انکشافي شورا غير مرکزي روشونه د حکومت له مرکزي روش سره يو ځا ی کوي چې د همدغه يووالي د نړيواله بانک د روش لپاره يو بنسټيز اصل دی نو له دې کبله زيا ت پام سيمه ييزه ټولنو او فعالينو ته ورکول شوې او همدارنګه نوموړی روش په دې تاکيد کوي چې مرکزي حکومت خپل ستراتيژيک پلان جوړ کړی، تخنيکي مرستې برابرې کړی او د بيلابيلو سکتورونو لپاره د منابعو اختصاص د پروژو د تسهيل کوونکي په توګه خپل رول ولوبوي او همدارنګه د سوپروايزر او کتونکی هم وي. او په نوموړي روش کې د انکشافي شورا دنده داده چې د خپلو ټولنو سره داسې کا روکړي چې يو انکشافي پلان را منځ ته کړي او بيا د نوموړي پلا ن په اړوند د مرکزي حکومت څخه خپلې غوښتنې وکړي او په پای کې د يو منځ ګړي يا اجرا کوونکي په توګه د حکومت د پروژو په هکله عمل وکړي. د نړيواله بانک د يووالي رو ش د پا ليسي جوړونکو څخه دا غوښتنه کوي چې په خپل کاری چوکات او سترا تيژي کې د انکشافي شورا پلان په پام کې ولري نو په دې توګه وزا رتونه کولای شي چې خپلو پروژو ته لازمه بودجه ورکړي او دتخنيکي کومکو نو په کولوسره د انکشافي شورا په مرسته د خپلو پرو ژو کتنه او مشاهده وکړي.

په لنډ ډول بايد ووا يو چې د يووالي د روش بنسټيز توکي ټولنې او سيمه ييزه فعالينو ته زيات پاملرنه ده په داسې حال کې چې مرکزي حکومت رول پنځه ځله زيات دی:

۱. په نويو پاليسيو کې د يووالي د روش ځای پر ځای کول
۲. د ستراتيژيک پلا ن جوړول
۳. د منابعو تخصيص
۴. تخنيکي کومکونه
۵. نظارت او کتنې

او د انکشافي شورا د غړو رول به د يووالي د روش په هکله درې ګونې وي
۱. د ټولنې د انکشافي پلان ته پرمختګ ورکول او د نوموړي پلان په هکله د شوراګانو مذاکره او بحث
۲. د پروژو په اړوند ټينګا رکول

### ۳. د پروژو عملي اجرا کول د تخنيکي مرستو په وسيله، د مرکزي حکومت تر نظارت او کتنې لا ندې

د يووالي د روش څخه د کار اخيستو په نتيجه کې به انکشافي شوراګانې په دې وتوانيږي چې د مرکزي حکومت له اړونده وزارتونو سره ټينګه رابطه پيداکړي په دې هکله د کليواله پراختيا او بيا رغونې وزارت يواځنۍ وزارت دی چې دا پاليسي لري چې د يووالي له روش څخه يې ګټه پورته کړې او همدارنګه د عامې روغتيا وزارت هم د ورته پاليسيو څخه کار اخيستی دی لکه ددوی د نظارت رول په هغو موسساتو باندې چې د ولسواليو په کچه د روغتيا اساسي خدمتونه وړاندې کوي. د يووالي د روش په هکله تسهيل کوونکو غړو موسساتو د انکشافي شورا او دوزراتونو د رابطې په ټينګولو کې ډير لږ څه کړي دي. لويه ستونځه په نوموړي روش کې د افغانستان حکومت ته دا ده چې حکومت يومرکزي حيثيت لري او له هغه څه سره چې د يووالي په روش کې دي او هغه نه مرکزي توب دی د تضاد په حال کې دي په هر حال داسې لارې چارې شته چې پکښې له نوموړو ستونځو سره چلند کيدای شي چې دا لاندې درې قضيې چې د روغتيا، ښوونې او روزنې او د ويجاړې د تنظيم په هکله دي دغوره مثالونو په توګه يا دولای شو.

## ۴. ۲. د انکشافي شورا د يو والي په هکله درې غوره مثالونه

### ۴. ۲. ۱. د ۲۰۰۴ کال د جولای په مياشت کې د کامرد په ولسوالی کې د سيلاب قضيه: مرستی او له حکومت سره د انکشافي شورا رول او اړيکې[۸۱]

د ۲۰۰۴ کال د جولای د مياشتې په ديارلسم تاريخ دورځې د څلورو بجو په شا و خوا کې د باميانو د ولايت د کامرد په ولسوالی کې ډيره سخته وريا وشوه چې له يوه ساعت څخه په کم وخت کې سيلاب کورونو ته ننووت او د ځنو او خاورو د ښوويدو له کبله عمومي سړک هم چې سيمې ته تللی وو بند شو.

ډيرو کليو او بانډو د خپلو خوراکي موادو زخيرې او څاروي له لاسه ورکړل او په اووه کليو کې خونو ته سخت زيان ورسيدو او د کورنيو ټوله هستي له منځه ولاړه چې په نتيجه خلک بې انګړه، او د ځکلو اوبو د خواړو له نشتوالي سره مخامخ شول.[۸۲]

په دوه ورځو کې د مدر، لغکي، او بانک د کليو انکشافي شورا چې ذکرشويو اوو کليو ته نږدې وه او له سيلاب څخه هم لږ متاثره شوې وه د نوموړيو کليو د خلکو مرستې ته وروه د انګل او نوموړې شورا د خپلو کليو د اوسيدونکو څخه وغوښتل چې هر څه يې په توان کې وي هماغسې کومک دې وکړي نو دوی د خپلو کليو څخه د سونګ تيل، وريژې، اوړه او وچې ډوډۍ را ټولې کړی او شورا د يو موټر په کرايه کولو سره د متضرر شويو کليو هغې نږدې سيمې ته تر کوم ځايه چې سړک روغ وو ورسول او وروسته يې نوموړي توکي د هماغه کليو د انکشا فې شورا ريس ته د يوليک په ترځ کې حواله

[۸۱] د غه راپور د افغانستان د څيړنې او ارځونې د اداری په باميان کې د ۲۰۰۴ کال د نومبر د مياشتې د سيمه ييزه څيړنې د لاسته راوړنو څخه خلاصه شوی دی. د ناورينو د اداری نور مثالونه په دغه شان دی، "کله چې د ۲۰۰۵ کال د اپريل په مياشت کې د غزنی په ولايت کې بند سلطان ونړيدو نو په خواجه امری او د غزنی په مرکز کې خلک متاثره شوی. او په دغو دواړو ولسواليو کې د ملي پيوستون د ټولنی انکشافی شواګانې جوړی شوی او د هغوی د تمرکز ټکی دا وو چې څنګه د واقعی مستحقه خلکو لستونه جوړ کړی او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د مرستندويه سازمان، د کرنی د وزارت، او نړيواله د خواړو د پروګرام او داسی نورو سازمانونو مرستی هغوی ته ور ورسوی. د غزنی ولايت د کليواله انکشاف او بيار رغونی رياست او د مشورتی اداری ولايتی دفتر، او همدارنګه ډاکار او د پاملرنی موسسی د ټونی د انکشافی شوراګانو سره د ارتباط به نيولو کې اساسی رول لوبولی دي. همدغه شان د پنجشير په ولايت کې وشو کله چې کرامان، خنج او پاريان ولسواليو ته د سيلاب د راتللو له کبله لاره بنده شوه. ملي پيوستون شوراګانی جوړی کړی او مرستی او مواد د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د مرستندويه هيات او د ولاياتو د بيا رغونی د ټيم په مرسته د چورلکو په واتسطه واستول شول." ار روبل، د ملي پيوستون د پروګرام د مشورتی اداری د سيمه ييزه حمايې منيجر څخه د ژوره کتنو ويناوی، د ۲۰۰۵ کال د نومبر مياشت.

[۸۲] هغه وو کلی: د دهقان فلعه، د الګا هاجر کلی، د تاجک هاجر کلی، د ميانه هاجر کلی، لورنګی، چوکری دره، او باجګاه په نام ياديږی.

کړل او د متاثره شويو کليو د شورا غړيو نوموړي مرستې په ډېر مناسب ډول په مستحقو وګړو باندې وويشل او بيايې يو ليک هم مرسته کوونکې شورا ته را وا ستاوو چې په ليک کې يې د دو ی څخه ډېره مننه کړی وه.

په همدغه وخت کې په افغانستان کې د ملګرو ملتو مرستندويه سازمان هم د ولايت په کچه يو مجلس را و باله او په دې مجلس کې هم دا وړانديز وشو چې د ټولنې د انکشافي شورا څخه دې غوښتنه وشي چې د سيلاب څخه د رسيدلي تاوان اروځونه وکړي او د هغو کسانو يو لست دی برابر کړي چې د مرستې مستحق دي، په نوموړې واقعه کې دټولنې د انکشافي شورا غړو د حکومت څخه په ښه توګه دا ارځونه تر سره کړه چې په نتيجه کې د کليو د پراختيا او بيا رغونی وزارت، يو ان هبيتات، د مهاجرينو لپاره د ملګرو ملتو عالي کميشنری او د آغا خان انکشافی شبکې د ټولو انکشافي شوراګانو د لستونو څخه ګټه پورته کړه او په پنځه لس ورځو کې دوی ټول وتوا نيدل چې ۲۳۰ خيمې، ۱۴۴۳ کمپلې، ۵۴۲ د پلاستيک تختی ۱۰۰۰ پلا ستيکي ګيلنې او د اتيا کورنيو لپا ره داړتيا وړ وسايل توزيع کړي.

په همدې ډول کومکونه د ولايت له خوا څخه هم د ټولنې د انکشافي شورا له لارې و ويشل شول سره له دې چې په پای کې د کومکونو د کم والي له کبله يو څه شکايت موجود وو ځکه چې دومره ډېرې کمپلې موجودې نه وې چې په لست کې شاملو ټولو خلکو ته ورسيږی.

په نتيجه کې د ټولنې د انکشافي شورا غړي وتوانيدل بې له دې چې په خپل منځ کې څه رقابت وکړي د سيلاب د تاوان ښه ارزيابې ترسره کړي او د خپلې ټولنې په هکله غوره معلومات راټول کړي. دوهمه خبره دا چې ټولنه هم د انکشافي شورا په ارزيابی او فيصله باندې موافقه وو او په شورا باندې يي نور تينګار هم کاوو چې د کومکي موادو دوهم ځل غوښتنه وکړي دريم دا چې دټولنې انکشافي شورا په باميانو کې د ولسوالی او ولايت په کچه شورا لري او دا توانمندي لري چې د ولايت په کچه په پريکړه کولو کې برخه واخلي او په پای کې بايد زياته کړو چې د ټولنې د انکشافي شورا د صلاحيت پوله معلومه او روښانه نه ده چې ايا دوی يوازی خپلو ټولنو ته مسؤليت لري او يا د حکومت د چارواکو په مقابل کې هم څه مسؤليت لري.

د دې قضيي شواهد ښيي چې د ټولنې د انکشافي شورا د بريالی توب راز د ويجاړی د تنظيم په هکله په لاندې مواردو پورې تړلی دی:

- دوی ډېر ژر درسيدلي تاوان ارځونه تر سره او د متاثره اشخاصو لست برابرولای شي
- دوی دا هڅې هم کولای شي چې ټولنه د خپلو شخصي امکاناتو څخه د ژغورنی په مقصد کار واخلي، او
- همدا رنګه دوی د د ژغورنی د مرستو توزيع د يو ښه محل يا موقيعت څخه کولا ی شي

د ويجاړي د ښه تنظيم په را بطه کيدای شي چې دا لا ندې ټکي په پام کې ولرو

- د ټولنې د انکشافي شوراګانو ښه مفاهمه
- د نجات او کومکي موادو زخيرې داسې اماده کول چې د اړتيا په وخت کې د ټولنې شورا ورته لاس رسی ولري
- او همدارنګه د دولت دا ډول پاليسي چې بې له درنګ څخه د ټولنې د انکشافي شورا سره کا روشي او د کومکونو توزيع، د ويجاړيو سره چال چلند هم د شورا له لارې تر سره شي.

### ۴. ۲. ۲. دوردګو په ولايت کې دروغتيا د پروګرام اودټولنې د انکشا في شورا قضيه:

د وردګو په ولايت کې د افغانستان لپاره د سويدن کميټې د ملي پيوستون د پروګرام او د عامې روغتيا دوزارت د روغتيا د مرستو دواړه دندې په غا ړه لري نو د سويدن کميټې دا کوښښ وکړ چې د ټولنې د انکشافي شورا غړي دې ته تشويق

کړي چې دروغتيا يي شورا سره يوځا ی کا روکړي چې په نتيجه کې دملي پيوستون د پروګرام او روغتيايي شورا ترمنځ ډيرې ښې اړيکې منځته راغلې. د سويدن د کميټې په اند دانکشافي شورا ښځينه غړيو د روغتيا په پروګرام کې د نظارت دنده په غا ړه وا خيسته تر څو د روغتيا پروګرام د کيفيت او پوښښ کچه وڅيړي او دا دنده د دې لپاره ورکړی شوه چې دوی په پروژه کې په مستقيم ډول داخل کړی شي ترڅو يي ظرفيت لوړ او پرځان باوري شي او د دې په څنګ کې نوموړې د شورا ښځينه غړې دې وهڅول شي چې د خلکو د احساس په ويښولو کې هم کار وکړي او ټولنې خپل مسؤليت ته را وبولي او همدارنګه د دې نظارت په ترځ کې به د ښځينه شورا غړي د روغتيايي کارکوونکو او پروګرام په هکله لا زم معلومات تر لاسه کړي.

د سويدن د کميټې روغتيايي کلنيکونه د ۲۰۰۰۰ کسانو لپاره په خدمت کې دي چې د انکشافي شورې د فعاليت د سيمې سره برابره ده او هر کلنيک د روغتيا يوه شورا لري نو د سويدن کميټه په دې هڅه کې ده چې د ټولنې انکشافي شورا او روغتيايي شورا يو بل تقويه کړي او همدارنګه دروغتيايي شورا اکثره غړي د انکشافي شورا غړي هم دي چې په دې صورت کې دوی په ښه ډول توانيدلای شي چې د منطقې په کچه د دواړو پروګرامونو اړتياوی درک کړې.

په پای کې د سويدن کميټې دواړه پروګرامونه ځکه سره مربوط کړل تر څو د ټولنې د انکشافي شورا له اړونده معلوماتو څخه چې د ټولنې په هکله يي لري ګټه پورته ګړې ځکه د دوی معلومات د نورو بهرنيو سروې ګانو په پرتله د باور وړ دی او همدارنګه د سويدن کميټه د ټولنې د انکشافي شورا سره کار کوي تر څو ددوی معلومات لا نور هم موثق او باوري شي او شورا وتوانيږي چې دا رول او صلاحيت ولري چې د ټولنې په هکله اسناد جوړ او ترتيب کړي

د سويدن کميټې د يو تسهيل کوونکي غړي په توګه راپور ورکوي چې دا لاندې موارد د دې سبب شوي چې د انکشافي شورا د بريالی توب وسيله شي:

- د ټولنی د انکشافي شورا د نظارت له کبله دغی شورا ته د روغتيا د پروګرام حساب ورکول
- د روغتييا د شورا وسيله کيدل چې انکشافي شورا دا توان ومومي چې په ټولنه کې په خپلو غوښتنو ټينګار وکړي
- د ټولنې د انکشا في شورا سره داسې کا رکول تر څو دټولنې په هکله له لا زم معلوما ت څخه برخه منه شي

د روغتيا پروګرامونه هم په لا ندې توګه پرمختګ کولا ی شي

- دا نکشافي شورا دغړو څخه د يوه روغتيايي معلومات ور کوونکي په توګه کار اخيستل تر څو په ټولنه کې د لازمو تغيراتو په راوستو تاکيد وکړي
- دانکشافي شورا د غړو څخه د بيما ريو او وفياتو د کتونکي په توګه کار اخيستل
- انکشافی شورا ته دا مسؤوليت ور په غاړه شی چې د روغتيا د خدماتو په هکله د تربيه کولو لپاره کسان وپيژنې

انکشافي پروژې د انکشاف د اساسی اړتياوو له پروګرام[۸۳] او د ټولنی د انکشافی شورا په اړوند پوهول

[۸۳] د انکشاف د اساسی اړتياوو د پروګارم اهداف د ټولو سکتورونو په کار اچولو سره د روغتيا او د بي عدالتی او نامساوات د ورکولو له لاری د ژوند د کيفيت لوړ والی دی، د روغتيا لګښتونه د خلکو د اړتياوو په مطابق برابر کړی، او د روغتيايې، ټولنيزه او د اقتصادی غير مساويانه پريکړو په اړوند ټولی خالی ګاوی له منځه يوسی. د اس جې امين د ۲۰۰۱ کال ورځ پاڼه کې د ډاکټر خالف بيلی د پاکستان لپاره د نړيواله روغتيايې سازمان د استازی وينا، "د روغتيا د پاليسی پلټنه کې د اساسی اړتياوو د پروګرام ګډول"، د ۲۰۰۱ کال د اکټوبر د مياشت ۳۰ نيټه. د انکشاف د اساسی اړتياوو پروګرام روغتيا د عمومی انکشاف يوه برخه او بخڅه ګڼل. روغتيا د انکشاف برخه او توليد دی. د انکشاف د اساسی اړتياوو په پروګرام کې ټول سکتورونه شامل دی تر څو د سکتورونو تر منځ فعاليت بشپړ شی. د انکشاف د اساسی اړتياوو پروګرام شيوه داسی پروسه ده چې د ټولنی غړی د خپل روغتيا او انکشافی اړتياوو ته او د بريالی توب لپاره د ګډ کار کولو لپاره، تنظيم او چمتو کړی. ای. ای. عبدالطيف، ۱۹۹۹ کال، "په شرقی مدی ترانه کې د انکشاف د اساسی اړتياوو شيوه". د شرقی مديترانې د روغتيا مجله، ۱۷۶- ۱۶۸ (۱)۵.

دعامې روغتیا دوزارت رول په خا ص ډول د ټولنې دانکشافي شورا په اړوند کیدای شي چې په لا ندې ډول وي[۸۴]

- د روغتیا د پالیسی او قوانینو جوړول
- ستراتیژیک پلانونه جوړول
- د منابعو تخصیص
- ترینګ او تخنیکي کومکونه کول
- نظارت او کتنې
- د روغتیا په هکله معلومات، تعلیم، او مفاهمه

### ۴. ۲. ۳. د ټولنې انکشافي شورا او د ولسوالی په کچه د ښوونځیو بیارغونه

تیر کال یعنې په ۲۰۰۴ کال کې نړیواله بانک د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ته د ازموینې په ډول یوه پروژه ورکړه چې موخه یې داوه چې د ولسوالی په کچه د ټولو ښوونځې ورغول شي او د ولسوالی د ښوونی او روزنی د څانګې سره سره دې یوه ګډه نماینده شورا جوړه شي، نوموړې پروژې نیم میلیون دالر دولسوالی په کچه د ښوونځیو د بیا رغونې لپاره په دې هیله ورکړل چې په ګډ ډول د ټولې ولسوالی په کچه د پروژې په پلان کې نماینده ګي تامین شي. ځکه دوی غو ښتل چې دغه نماینده ګی یو څه په ټیټه کچه تمرین کړي چې د سیمه ییزه حکومت سره یو ځای په پریکړه کولو کې برخه واخلي نو له دې کبله دوی په پرتله د ولایت چې کچه یې پراخه وه ولسوالۍ غوره وګڼله.

په پروژه کې په خاص ډول اته ولسوالی د نمونې په توګه تر هدف لاندې نیول شوې وې په کومو ځایونو کې چې د ملي پیوستون پروګرام او تسهیل کوونکي بریالي بریښیدل، نو دوی د بدخشان دولایت د اشکاشم په ولسوالی کې پیل وکړ. یوه شورا جوړه شوه چې دا فیصله وکړي چې کوم ښوونځی باید ورغول شي او نوموړې شورا د کلیو د پراختیا او بیا رغونی له وزارت او د ټولنی انکشافی شورا او د ښوونی او روزنی دوزارت له نماینده ګانو څخه جوړه شوی وه.

نړیواله بانک راپور ورکوي چې له جریان څخه پوهاوی ډیرسخت وو ځکه چې په اوسنې حکومت په مرکزي سیستم کې بې له دې چې د بیلو بیلو سکتورونو پلانونه په پام کې ولري ټول اوامر له مرکز څخه اطراف ته ورکول کیږي او بیا دوزارتونو په وا سطه تنظیمږي.. څرنګه چې د نوموړې پروژې په ګډ پلان او پریکړو کې داسې فرض شوې وو چې د پریکړه کولو مسؤلیت او د منابعو تخصیص به د ټولنې د انکشافي شورا سره وي نودې سیستم یو تردد را منځته کړ، هغه دا چې د ښوونی او روزنی د وزارت نماینده ګانوپه دې خبره عادت نه درلوده چې د انکشافي شورا د غړو نظریاتو ته کوم چې د ټولنې له خوا ټاکل شوي او ښوونځی هم د همدوی د خدمت لپاره دي غوړ و نیسي. د ښوونی او روزنی د وزارت جوړښت په دې ډول دی چې د تعلیمې نصاب، پلا ن او بودجې په هکله په کابل کې فیصله کیږي او د ځنو خاصو موضوعاتو په هکله لکه د ښوونځی د ځای ټاکنه، او د مرکز له خوا د جوړ شوي پلان تطبیق د ولسوالی له د ندو څخه ده او همدارنګه د مکتبونو د تاسیسولو درخواست هم باید د ټولنې له خوا مرکز ته وشي په داسې حال کې چې د نړیواله بانک ټوله بودجه بې له دې چې مرکز په جریان کې کړي نیغ په نیغه ولسوالی ته انتقال کړې وه.

د ټولنې د انکشافي شورا غړي په دې هم نه پوهیدل چې نوموړې بودجه یوازی د هغو ښوونځیو د رغونې لپاره ده چې لا پخوا په سیمه کې موجودوو، او د ښوونی او روزنی دوزارت سره راجستر دي او ښوونکی هم لري نو ځکه دوی د یو

---

[۸۴] د روغتیا د وزارت معاون ډاکتر اف. کاکړ په مشوری سره انکشاف ورکړ شوی، کابل، افغانستان، د ۲۰۰۵ کال د آګست میاشت.

شمير نورو ښوونځيو د زياتولو غوښتنه کوله چې بيا د ښوونې او روزنې د وزارت نماينده ګانو ته د منلو وړنه وه ځکه چې د دوی غوښتنو د نوموړي وزارت له پلان سره تطابق نه درلوده نو له دې کبله ستونځې را منځته شوې.

دوهمه تجربوي پروژه د بغلان د ولايت په اندراب ولسوالی کې وه چې ډيره بريالي وه، دوی وتوانيدل چې هرڅه له هماغه پيل څخه په بشپړه توګه روښانه وي نو له دې کبله شورا او د ښوونې او روزنې نماينده ګان په دې پوهيدل چې د دوی اساسي هدف څه دی نو هغه وو چې لمړی يې هماغه ښوونځې وټاکل چې بايد رغول شوي وای. نړيواله بانک زياتوي چې شورا ته دا څرګنده وه چې څرنګه ښوونځې وټاکي او بيا د ديمکراتيکې پروسې پر بنسټ نوموړي ټاکل شوي ښوونځې درجه بندي کړې چې په پای کې دوی د هغو ښوونځيو لست جوړکړ چې بيارغول يې ډير ضروري وو او د شورا ټول غړي په دې لست راضي او موافق وو. او همدارنګه د ټولنې د انکشافي شورا غړو ته دا موقع موجوده وه چې خپل نظريا ت وواېي، پريکړه وکړی او خپلې غوښتنې عملي کړي او نړيواله بانک او د کليو دپراختيا او بيا رغونی وزارت وتوانيدو چې بودجه او تخنيکي کومکونه ورته تيار کړی او شورا هم په کاميابی سره د پروژې څخه کتنه تر سره کړه.

### ۴. ۳. د خطر عوامل: په سيمه ييزه فعالينو باندې دکار فشار او د دوی غوسه:

څرنګه چې دانکشافي شوراګانو ګروپ د پروژو د خدماتي وسيلې په توګه تر ټولو لا ښه اصل دی نو يوه ډيرهستره ستونځه چې د ملي پيوستون په پروګرام کې موجوده ده او دکچې معلومول يې هم مخکې له وخته دي هغه د ټولنې د انکشافي شورا د غړو بې حوصلګي او غوسه ده خصوصاً په هغه وخت کې چې يو لړ شمير غړي په ډيرو پروژو او مجلسونو کې داخل وي. د بين المللي تجربې پر بنسټ بې حوصلګی او د غوسه کيدو ډير امکانات موجود دي که چيرې په دې هکله د مخنيوي لازم اجرات و نشي. لکه په تانزانيا کې د کلي مينجارو د عمل د يوالي په پروژه کې چې غوښتل يې چې د بشري منابعو د تشويق په وسيله د اجتماعي تاسيساتو همکاري را جلب کړي او دا کار به د سيمه ييزه فعالينو او حکومت په پايداری کې ګټور تمام شي نو په دې ډول يې د داسې يو روش څخه کار واخيست چې د سيمه ييزه شبکو په جوړولو سره يې د ټولنې په کچه د نمونې په توګه د همکاری مفادات خلکو ته څرګند کړل او دا يې وښودل چې دښې همکار ی، مفاهمې، او د معلوماتو د تبادلې په صورت کې به په بشری[85] منابعو کې زياتوالی راشي خو سره له دې په دې روش کې د خلکو د تعهداتو په هکله يو لړ ستونځې را منځته شوې چې هغه د ټولنې په يو شمير غړو باندې د دوی د تعهد له کبله د سيمه ييزه شبکو په جوړولوکې پرا خه ونډه وه يو ډول غوسه را وپاروله.[86]

او همدا رنګه يو ان هبيتات، د پاملرنی او د افغانستان لپاره د سويدن کميتی هم دا انديښنه څرګنده کړی دی چې د ټولنې د انکشافي شورا غړي په زياتره وختونوکې له دې کبله بې حوصلې او په غوسه کيږي چې دوی ته په مختلفو شوراګانو او مجلسونو کې او په ډول ډول پروژو کې د ندې سپارل شوی دي چې يو ان هبيتات يې غوره مثال داسې وړاندې کوي چې په يوه کوچني کلي کې د يو ډير شمير د شوراګانو د موجوديت له کبله خلک او همدارنګه د شورا غړي په دې نه پوهيږي چې کومه شورا څه دنده لري او کومه يوه شورا قانوني ده او څوک چا ته مسؤل دي او نوموړې ستونځه په دې ډول د سيمې د شوراګانو په کچه هم موجوده ده.

---

[85] آر. وان کلينکن، ۲۰۰۳ کال "په کليمنجارو کې د سيمه ييزه حکومت په کار آجول،" عملی انکشاف، ۷۲:(۱)۱۳.

[86] آر. وان کلينکن، "په کليمنجارو کې د سيمه ييزه حکومت په کار آجول،" ۸۰.

### ۴. ۴. د ټولنې د انکشافي شوراګانو ډله ييزه رول:[۸۷]

د تسهيل کوونکو غړو د راپورونو پر بنسټ د آغا خان انکشافي شبکه او يو ان هبيتات د انکشافي شوراګانو د ډله ييزه شکل په جوړلو پيل کړي دي په داسې حال کې چې بيا يو ډير شمير تسهيل کوونکې غړي د ډله ييز کيدو د پلان په مرحله کې دي. څه چې د کار وړ دي هغه دا دي چې د ټولنې انکشافي شوراګانې بايد په خپل منځ کې داسې پراخه رابطه پيداکړي چې په نتيجه کې مطلوب او په مينه وال کسا ن ونډه واخلي او د بې حوصلګی او غوسې مخنيوی وشي، په ډله ييزه توګه پريکړی ددې سبب کيږي چې غوښتنې په درجو وويشي او وروسته بيا د خپلو غوښتنو د عملي کولو لپاره په مربوطو مقاماتو که هغه حکومت وي او که موسسې زور واچول شي او هم مرکزي حکومت کولای شي چې نوموړو غوښتنوته د خپلو ستراتيژيو مطابق په پلان او بودجه کې ځای ورکړي. که چيرې دغو غوښتنو ته د اړونده حکومتي مقاماتو له خوا مثبت ځواب ويل کيږي نو د ډله ييزې کچه شوراګانې به په دې صورت کې د پروژو د اجرا کولو او د کتنې او مشاهدې په طريقو باندې فکرکوي. نوکه چيرې د ولايت په کچه د انکشاف يوه کميټه موجوده وي چې د ټولنې د انکشافي پروژو په هکله پريکړه وکړی نو بايد له پروژو څخه د مدافعې ډله هم تغير ومومي.[۸۸]

### ۴. ۵. لنډيز:

څرنګه چې د تسهيل کوونکو غړو بدل چې د ټولنې د انکشافي شورا سره د تسهيل کوونکي په توګه کار وکړی وجود نه لري او نوموړي تسهيل کوونکي به د سيمې څخه وځي او په نتيجه کې به د ټولنې انکشافي شورا په مستقل ډول کار کوي نو نوموړې شورا دې ته اړتيا لري چې خپل قانونيت په سيمه کې وساتي او د تسهيل کوونکو غړو د وتلو با وجود خپل د ټولنې انکشافي پلان ته ادامه ورکړي. د نورو ادارو او تاسيساتو سره را بطه به د ټولنې د انکشافي شورا سره مرسته وکړي چې خپل رول اوقانونيت وساتي. د نړيواله بانک د ۲۰۰۴ کال د څيړنې په اساس چې د سيمه ييزه انکشاف په هکله وو هم د انکشافي شوراګانو ډله ييزه کچه غوره ګڼلې ده چې په دې توګه د مرکزي حکومت او ادارو سره بايد رابطه کلکه شي. د يو والي روش ته بايد پاملرنه وشي چې دا خبره اطمناني شي چې د حکومت ټولې کچې د سيمه ييزه شوراګانو سره د رابطې په حال کې دي. مرکزي حکومت د وزارتونو په کچه کولای شي چې داسې پاليسۍ طرحه کړي چې په نتيجه کې يې ستراتيژيک پلان، د منابعو تخصيص، د تخنيکي کومکونو عرضه کول او د ټولنې د انکشافي پروژو څخه مشاهده او د کتنې امکانات په پام کې ونيول شي. او انکشافي شوراګانې په ډله ييزه توګه کولای شي چې د خپلې ټولنې انکشافي پلان ته توسعه او پرمختګ ورکړې په حکومت باندې د خپلو غوښتنو زور واچوي، پروژې عملي کړي او د حکومت مربوطه وزارت ته د نظارت زمينه برابره کړي.

د ټولنې د انکشافي شوراګانو نور خاص رول دا دی چې په ځانګړي ډول يو وزارت ته په يوه خاصه سيمه کې چې ورته اړتيا وي زمينه برابره کړي. د ټولنې د انکشافي شورا د علاقې وړ داسې ډلې بايد جوړې شي چې په خاصو شرايطو کې په خاص ډول عمل وکړي د مثال په توګه د انکشافي شورا رول د طبيعي مصيبتونوله کبله د تاوان او خسارې ارځونه او څيړنه، د مستحقو اشخاصو د لست برابرول، د ژغورنی د کومکونو لپاره د ټولنې تشويق کول او د کومکي موادو په عادلانه ويش کې برخه اخيستل او همدارنګه د روغتيا په هکله شوراګانو کې ونډه، د روغتيا د پروګرامونو څخه نظارت، دروغتيا د تعليم ورکوونکي په توګه رول، او د ښوونې او روزنې په پروګرامونوکې لکه د ښوونځيو د پروژو څخه د کتنې او مشاهدې رول.

---

[۸۷] تسهيل کوونکی غړی د غونډو د کچې لپاره چې له جغرافيه يې سيمو څخه نيولی تر حوزه او منطقې پورې، راز راز اصطلاح ګانی استعمالوی.

[۸۸] د ولايت په اداری سيستم کې د ولاياتو د انکشاف د کميټې ځای پر ځاي کول، د پاليسی د پانې بيا کتل شوی پاڼه. د ۲۰۰۵ کال د آګست د مياشتې ۳ نيټه

د درې ذکر شویو قضیو لاسته راوړنې چې د ټولنې رابطه د مرکزي ادارو سره ښيي په لاندې ډول خلاصه کيږي:[۸۹]

۱. د ټولنې د انكشافي شورا او مركزي ادارو ترمنځ د سيمه ييز فعاليت په كچه د ډيرې توانايي امكان موجود دی البته ديوبل د بشپړ په توګه

۲. دټولنې د انكشافي شورا په سيمه ييزه كچه د كړنو او مركزي سطحې په جوړښتونو كې يو څه ناخوالې وجودلري

۳. يوځو شورا ګانې په دې توانيدلې چې د مؤسسې ادارې په توګه رول ولوبوي په داسې حال كې چې بيا يو شمير نورې تراوسه دا ظرفيت نه لري.

پردې ټولو سر بيره د شوراګانو ډله ييز شكل د دې توانايي لري چې له ټولنې سره په ټولو كچوكې د تماس يوه غوره ټكي وي تر څو خلكو ته ښه خدمت تر سره كړي او د شوراګانو قانونيت او پايداري كيدای شي چې داسې تشويق شي چې د مركزي حكومت او موسساتوسره يې اړيكی نوری هم تحكيم شي.

## ۵. نتيجه او سپارښتنې

څرنګه چې د نوموړې څيړنې لا سته راوړني لمړنی دي خو بيا هم د تسهيل كوونكو غړو د مباحثو په ترځ كې څه نا څه زده كړې او درسونه موجود دي چې د ملي پيوستون د پروګرام په اوږدو كې لاس ته راغلي دي.

### د ملي پيوستون د پروګرام په پروسه كې د سيمه ييزه او مروجه قدرتونو يو ځای كيدل:

په داسې حال كې چې د قدرت سيمه ييزه جوړښتونه د ملي پيوستون د پروګرام په موفقانه ډول اجرا كولوكې يو خنډ ده نو ډيرو ټولنو ته دا خبره جوته شوه چې د ټولنې انكشافي شورا د يوې معنی لرونكې مجموعې په توګه د يو سياسي عمل د ترسره كولو او د قدرت د بنسټ ايښودو جوګه ده. په ځنو ټولنو كې علاقه لرونكي رابلل شوي چې د مشوره وركوونكي په توګه په ولايتې كچه د ملي پيوستون د پروګرام په رو ل او مسؤليت باندې بحث وكړي تر څو د پروګرام په هكله يو كاري پلان را منځته شي. او كله دوی ته دا بلنه هم وركړل شوې ده چې د ملي پيوستون د پروګرام د يوې برخې په توګه دپروګرام ملكيت په لاس كې واخلي او د ټولنې انكشافي شورا تقويه كړي.

او دا كار بيا هغه وخت ډير موثره تما م شو چې مذهبي مشرانو ټولنې دې ته وهڅولې چې د ملي پيوستون په پروګرام كې په فعا له توګه برخه واخلي او تقويه يې هم كړي او همدارنګه دښځو ونډه اخيستنه يې په پروګرام كې تشويق كړه چې له دې كبله د ټولنې انكشا في شورا په لاندې توګه يو قا نو نيت وموند.

- د ملي پيوستون پروګرام ته سيمه ييزه قدرت لرونكو د مشوره وركوونكو په توګه دعوت كول.
- له قدرت لرونكو څخه د يو كو نسل جوړول ترڅو د ټولنې انكشافي شورا حمايه او تقويه كړی،
- د ټولنې د انكشافي شورا غړوته په كمه اندازه معا ش وركول تر څو د هغه وخت جبران وشي چې دټولنې د انكشافي شورا غړي يې د شورا په هكله لګوي.
- د ستراتيژيو په هكله د وزارتونو په منځ كې د يوې پراخې همكارې غوښتنه وشی ترڅو د ټولنې انكشافي شورا د حكومت په رسمي سيستم كې لاره ومومي په خاص ډول د كورنيو چارو، روغتيا، ښوونې او روزنې او د كرنې او مالداري وزارتونو تر منځ.

---

[۸۹] له مركزی دولت څخه منظور ټول دولتی او غير دولتی سازمانونه دې.

## د ښځو د برخه اخيستنې او د تصميم نيونې د رولونو لوړول

دښځو د ونډې ا خيستنې او تصميم نيونې قدرت يو ډيره سخته ستونځه ده چې په هکله يې بايد چلند وشي ځکه چې د ټولنې په کچه او حتې په ملي کچه هڅه کيږي چې دغه ونډه اخيستنه په ټپه ودريږي. کله چې په جندر پورې تړلې پروګرام ټولنې ته وړاندې شي لکه د ژغورنې بين المللی کميټی[90] پواسطه نو په چټکی سره د کارکوونکو او ټولنې پام نوموړې ستونځې ته کيږي. د تسهيل کوونکو غړو اکثريت په دې باور دي چې د مذهبي اصولو او قوانينو څخه په موثرانه ډول کار اخيستل شوی ترڅو ټولنې په دې راضي کړې چې د ښځو دونډې اخيستنې په ارزښت باندې وپوهيږي او د دې اهميت هم ورته څرګند شي چې د ښځو پريکړې څومره مهمې دي او همدارنګه څرنګه د ښځې او نارينه تر منځ په رسمي ډول د تفاهم امکانات او مسؤليت ډ ير لږ وو نو د ښځو د نظرياتو انعکاس د ټولنې په انکشافي شورا کې ډيرکم ترسترګو شوی دی. يوه بله مهمه موانع چې د ښځو د تفاهم او په موثرانه ډول د صلاحيت څخه د کار اخيستو مخه نيسي هغه د دوی د سواد دکچه ټيټوالی دی چې له دې کبله دوی د مشرتابه په هکله د بې با ورۍ ا حساس کوي او په نيتجه کې ددوی ونډه ا خيستنه له خطر سره مخامخ کيږي چې په لاندې ډول بايد تسهيل ومومي.

- د ښځينه کارکوونکو شميره ٪۵۰ ته لوړه شي او د کار کوونکو لپاره بايد د جندر د پوهاوي پروګرامونه په لاره وا چول شي.
- د ښځو ونډې اخيستنې او پريکړه کول د نفوذ د خاوندانو، شوراګانو، او مذهبي اصولو له لارې خپل قانونيت ومومي
- د ښځينه او نارينه شورا ترمنځ بايد د افهام او تفهيم او صلاحيت بخښنې لارې چارې ولټول شي.
- د ښځو ظرفيتونه دې د سواد د زده کړې او رهبری د کورسونو له لارې جوړکړای شي.

## د مرکزي تاسيساتو او ادارو سره د ټولنې د انکشافي شورا يووالی:

د ټولنې د انکشافي شوراګانو ډله ييز شکل د حکومت او مرکزي ادارو ترمنځ درابطې يوه ښه وسيله کيدلي شي، د يووالي روش دا خبره باوري کوي چې د حکومت او نورو ادارو تر منځ د ارتباط غوره لاره د سيمه ييزه ډله ييزه شوراګانو سره اړيکې دي څرنګه چې د ټولنې انکشافي شورا دا خبره يقيني کړې چې په اضطراري او د ويجاړۍ په حالاتو کې يې ټولنې هڅولي دي تر څو د حادثې د قربانيانو سره چټکه همکاري وکړي او د مستحقو کسانو داسې يو لست جوړکړي چې د باور وړوي ترڅو په دې ډول د نجات کومکونه په موثر ډول توزيع شي.

د ټولنې انکشافي شوراګانې د عامې روغتيا د وزارت په پروګرامونو کې ډيرې موثرې وې او همدارنګه يې دولايت په کچه د حکومت سره د ښوونځيو په بيا رغونه کې په پوره ډول کار کړی دی بايد زياته کړو چې د ټولنې د شورا د لا غښتلې توب او پايداری لپاره د مرکزي ادارو سره په لاندې توګه نور هم تقويه کيدای شي.[91]

- په نويو پاليسيو کې د يووالي د روش يو ځای کول
- په سترا تيژيک پلان کې د ټولنې د انکشافي شوری په پام کې نيول
- د پلان د عملي کيد و لپاره د منابعو تخصيص کول
- د تولنې د انکشافي شورا پروژو ته د تخنيکي کومکونو برابرول
- د ټولنې انکشافي پروژو له اجرا کولو څخه کتنه او مشاهده

---

[90] د ښځو د ونډه اخيستنې د شکلونو برخه وګوري.

[91] له مرکزی دولت څخه منظور ټول دولتی او غير دولتی سازمانونه دي.

**د ټولنې انکشافي شورا په ګروپي ډول جوړول د مرکزي ادارو او تاسیساتو د تقابل یوه ښه نقطه ده کوم چې:**

- **کولای شي په مجموعي ډول د پر مختګ یو پلا ن را منځته کړي**
- **د پروژ په هکله په حکومتي او غیر حکومتي ادارو باندې زور وا چوي**
- **د کلي او سیمې په کچه پروژې اجرا کړي**

**برسیره پردې څرنګه چې دټولنې دانکشا في شورا ظرفیتونه مختلف دي نو په ډیر ا حتیاط باید دپام وړکا رونه ترسره شي چې د ټولنې د انکشافي شورا د نماینده ګی او وظیفوي نقش اصلاح او لاه ښه شي.**

# Recent Publications from AREU

Aug ۲۰۰٤ *Rural Land Relations in Conflict: A Way Forward*, Liz Alden Wily

Aug ۲۰۰٤ *From Subjects to Citizens: Local Participation in the National Solidarity Programme* (NSP), Inger W. Boesen

Dec ۲۰۰٤ *Looking for Peace on the Pastures: Rural Land Relations in Afghanistan*, Liz Alden Wily

Jan ۲۰۰٥ *Transnational Networks and Migration from Herat to Iran*, Elca Stigter

Feb ۲۰۰٥ *Transnational Networks and Migration from Faryab to Iran*, Elca Stigter

Feb ۲۰۰٥ *Who Owns the Farm? Rural Women's Access to Land and Livestock*, Jo Grace

March ۲۰۰٥ *Caught in Confusion: Local Governance Structures in Afghanistan*, Sarah Lister

March ۲۰۰٥ *Afghans in Karachi: Migration, Settlement and Social Networks*, the Collective for Social Science Research

April ۲۰۰٥ *Transnational Networks: Recognising a Regional Reality*, Elca Stigter and Alessandro Monsutti

May ۲۰۰٥ *Bound for the City: A Study of Rural to Urban Labour Migration in Afghanistan*, Aftab Opel

June ۲۰۰٥ *Assessing Progress: Update Report on Subnational Administration in Afghanistan*, Anne Evans and Yasin Osmani

June ۲۰۰٥ *Return to Afghanistan? A Study of Afghans Living in Tehran*, University of Tehran

Aug ۲۰۰٥ *A Guide to Parliamentary Elections*, Andrew Reynolds, Lucy Jones and Andrew Wilder

Aug ۲۰۰٥ *Emerging Trends in Urban Livelihoods*, Stefan Schütte

Aug ۲۰۰٥ *A Place at the Table: Afghan Women, Men and Decision-making Authority*, Shawna Wakefield and Brandy Bauer

Oct ۲۰۰٥ *Return to Afghanistan? A Study of Afghans Living in Mashhad*, University of Mashhad

Oct ۲۰۰٥ *Return to Afghanistan? A Study of Afghans Living in Zahedan*, University of Tehran

Oct ۲۰۰٥ *Alternative Livelihoods: Substance or Slogan?* Adam Pain and David Mansfield

Oct ۲۰۰٥ *Understanding Markets in Afghanistan: A Study of the Market for Petroleum Fuel*, Anna Paterson

Oct ۲۰۰٥ *Understanding Markets in Afghanistan: A Study of the Markets in Second-hand Cars*, Anna Paterson

All AREU publications can be downloaded from www.areu.org.af. Hard copies are available by contacting the AREU office in Kabul.

د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداره.
د ګل پيرودنې کوڅه، (د کوڅې ګوښه، نوی ښار کابل)
د ټيلفون شميره: ٦٣٧ ٢٧٦ ٧٠ (٠) +٩٣ ؛ بریښنا لیک: areu@areu.org.af.